مورچل

د وحشت او مرګ تجربه

دلته ناکامه ده !!

ديارلسم کال، پرلپسې ۱۳۲مه ګڼه، ذي الحجة ۱۴۴۰هـ ق، اګست ۲۰۱۹م

ماجرای کشمیر

از نگاه دانشور معتبر هندی

- د طالبانو سیاسي بریا او د ارګ وارخطایي!!
- د امارت مشران د هدف ملګرو ته شا نه اړوي
- د کندز چوک د چا لپاره په وینو رنګ شو...!؟

دالامام المجاهد في سبيل الله

مولوي جلال الدين حقاني

د وفات د لومړي تلين په اړه...

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال اتمه، پرلپسې ۱۳۲مه کڼه،
ذي الحجة ۱۴۴۰هـ ق اګست ۲۰۱۹م

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګی کمیسیون تخنیکی څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د طالبانو سیاسي بریا او د ارګ ورځطاني	۲
۳	ماجرای کشمیر از نگاه دانشور معتبر هند	۴
۴	د امام المجاهدین مولوي جلال الدین حقاني په اړه	۱۰
۵	دعلم، دیانت او میړانې د ړومبي ټلین په پلمه!	۱۶
۶	د امارت مشران دهدف ملګرو ته شا نه اړوي	۱۸
۷	دکندز چوک د چا لپاره په وینو رنګ شو!	۲۰
۸	د یو اسلامي، جهادي حرکت د بریا لپاره خو اصول	۲۳
۹	سبا د نن په هنداره کې	۳۰
۱۰	د کندز او بغلان بریدونو د کابل رژیم وړتیا وننګوله!	۳۳
۱۱	د مذاکراتو سره یوځای ستر تهاجمي بریدونه	۳۵
۱۲	دقوي موقف په اصطلاح د ارګ د ویاند په خوله	۳۷
۱۳	د اسلام غزوات او سرایا	۳۹
۱۴	دحافظ حمدالله قانت تقبله الله ژوند او کارنامې	۴۲
۱۵	دبرما مهاجرین د یوبل ناورین په درشل کې	۴۵
۱۶	د مولوي عبدالمجید رحمه الله ژوند لیک	۴۸
۱۷	جنګي جنایتونه (اګست)	۵۳
۱۸	د مورچل وړمې	۵۸
۱۹	د ۲۰۱۹م کال د اګست میاشتې جهادي خبرونه	۶۰

بسم الله الرحمن الرحيم

د وحشت او مرګ تجربه دلته ناکامه ده !!

اوس موږ هیوادوال امن ، سوکالۍ او ښېرازۍ ته تر بل هر وخت ډېر هیله من دي، په مرګونو او وحشتونو یې لاس پورې کول له ناکامۍ پرته بله نتیجه نه شي ورکولای، دلته هرچا، هررنګ او هرځل دا ناکامه تجربه ترسره کړې، خو له ناکامۍ او مایوسۍ پرته بل څه په لاس نه دي ورغلي .

اوس چې هیواد د آزادۍ په درشل اوله غربي ښکېلاکه په خلاصېدو دی او هر رنګه بهرني لاسونه له هیواده وځي او هیواد یواځې افغانانو ته پاته کیږي؛ په کار ده چې له زغم او حوصلې څخه کار واخیستل شي، له خشونت او وحشته لاس په سر شي، په دې حساسو شېبو کې چې هرځوک له ولس سره دانتقام اودښمنۍ په صف کې دریږي اوکه دهر غرض لپاره له ظلم، وحشت او تجاوز څخه کار اخلي، دافغانانو تېر تاریخ او افغاني ضد اوغرور ته په کتو هیڅ مثبته نتیجه نه شي ترلاسه کولای، بلکې لا له ولسي- نفرت او انزجار سره مخ کیږي .

له هغه وخته چې دافغانستان له اسلامي امارت سره دامریکایانو مخامخ خبرې پیل شوې او یوې نتیجې ته رسېدونکې دي، دهیواد په بېلابېلو برخو په تېره په جنوب او جنوب ختیځو ولایتونو کې د شپنیو عملیاتو ترنامه لاندې یواځې او یواځې عام ولسي افغانان له سختو بمباریو، چاپو، مرګونو دمالونو او کورونو له منځه تلو سره مخ شوي، داکار که دکابل اداره په خپله اویا دامریکایانو په اشاره ترسره کوي ؛ هیڅکله پرې طالبانو ته ماته نه شي ورکولای، بلکې دانتقام لپاره ولس له طالبانو سره یوځای کېدونه مجبوروي. او که په همدې جرم چې ولې ولس له طالبانو سره یوځای دی له هغوی سره دغه ډول چلند کیږي؛ نو له ولس سره جنګ ډېر قوي او زورور حکومتونه هم نه شي کولای له دې پرته چې دولسي- قهر خوراک او له منځه ولاړ شي .

اسلامي امارت په داسې حال کې چې شېبه په شېبه دولسي ملاتړ او الهي نصرت په برکت مخ په وړاندې روان دی؛ د دښمن په لیکو کې په خپلو با احساسه افغاني عسکرو، مامورینواو کارګرو غږ کوي چې نور په دې حساس پراو کې دامریکایي اغراضو لپاره مه قرباني کیږئ او دخپل ولس له دښمنۍ نه په څنګ شئ! دخپل افغاني غرور او اسلامي عقیدې له مخې خپل مسؤلیت ترسره کړئ اوپه هرځومره اندازه چې کولای شئ د دښمن اسلام ضد او افغاني ضد پلانونه شنډ کړئ! ترڅو مو هیواد دخپلواکۍ، ښېرازۍ او لاپرمختګ په لور ګامزن شي .

د طالبانو سیاسي بریا

او د ارګ وارخطایي

آبو عابد

له تیرو شاوخوا نهو میاشتو راهیسي د قطر په پلازمینه دوحه کې د اسلامي امارت د سیاسي استازو او امریکایي دیپلوماتانو تر منځ د اشغال د خاتمې مذاکراتو جریان درلود. دغه مذاکرات چې د دې لیکنې د لیکلو په مهال په خپل وروستي پړاو کې قرار لري او دیر امید شته چې سبا یا بله ورځ به یې نهایي پریکړه اعلان شي، د افغانستان په قضیه کې مهم او تاکونکي مذاکرات ګڼل کیږي.

دا مذاکرات لکه څومره چې د محتوا او موضوع له اړخه مهم دي، د طرفینو تشخص ته په پام سره هم د خپل ډول استثنایي مذاکرات ګڼل کیږي. د امریکا متحده آیالات چې خان ورته د نړۍ بلامنازع حاکم یا په اصطلاح ابر قدرت بلکاري او په مقابل کې یې د طالبانو هغه استازي چې تر اوسه یې نومونه په تور لست کې دي او یوه لسیزه وړاندې ورته چا په دې پراخه څمکه د ژوند حق نه ورکاوه. مګر اوس د زمانې څرخ اوښتی، طالب ته خلک تروریست او باغي نه وایي، بلکې د نړیوالو استعمارګرو په وړاندې د مبارزې او استقلال سمبول ګڼل کیږي. د نړیوالو رسنیو کیمرې او مایکونه طالب ته متوجه دي او د طالب په مرکه او مصاحبه د ویاړ احساس کوي.

له دې مذاکراتو وړاندې داسې احساس کیده چې طالبان به په دې تجربه کې له شکست او زیان سره مخامخ شي. ځکه امریکا چې نړیوال سیاسي پرستیژ لري او د مذاکراتو او سیاسي چنه بازیو اوږد تاریخ لري، طالبان به په خپلو دامونو کې را ایسار او دیر څه به وربانديې ومني. اما د اسلامي امارت د

استازو درایت او استقامت چې ورسره د الهي نصرت د معیت نغد ثبوت ګڼل کیږي، دغه پروسه یې د عامه انتظاراتو پر خلاف د طالبانو په برید پای ته ورسوله. د توافق نامې په متن کې تر ډیره حده هغه څه خای شول چې د طالبانو خوښه وه او د امریکایي اشغال د خاتمې مهمه موضوع په روښانه ټکو په کې تسجیل شوه.

له امریکا سره د اسلامي امارت د استازو بریالیو مذاکراتو د نورو مثبتو نتائجو تر څنګ یو پایله دا هم درلودلې چې د اجیر رژیم سروالان او د ارګ واکمن یې بد وارخطا کړي دي. دوی چې تر اوسه له طالبانو سره په اصطلاح مخامخ سترګې نه دي جنګولي اوس وارخطا دي چې څرنګه به په بین الافغاني مذاکراتو کې له طالبانو سره مخامخ کیږي او خبرې به ورسره کوي.

په قطر کې تهرې بین الافغاني غونډې ته چې له کابله کوم هیئت ورغلی و، د نادر نادري په نوم یوه غړي یې اعتراف وکړ چې له طالبانو سره له خبرو وروسته د پلاوي اعضاء دومره متأثر شوي وو چې ټولو د طالبانو اړخ نیولی و او د کابل په رژیم یې انتقادونه کول. شاید همدا لامل وي چې اوس د ارګ واکمنو خپل هغو کسانو ته چې په راتلونکو کې به له طالبانو سره مخامخ کیږي د مذاکراتو لپاره روزنیز کورس شروع کړی دی.

د طلوع نیوز د راپور په اساس د ارګ چارواکو د (برګاف) په نوم له یوې المانې ټولنې سره ترون کړی تر څو د دوی مذاکره کوونکو چارواکو ته له طالبانو سره د خبرو روزنه ورکړي. د راپور له مخې تر اوسه څلویښت تنه لوړپوړي چارواکي په دې برخه کې روزل شوي او څلور ورځنۍ تربیوي دوره یې ترسره کړې ده. تراوسه معلومه نه ده چې په روزنیز کورس کې یادو چارواکو ته څه ورښودل کیږي خو شاید عمده هدف به یې دا وي چې د ارګ مذاکره کوونکي د طالبانو سره د مخامختیا په مهال خان وته بایلي او په رواني لحاظ مقاوم واوسي.

مذاکره کوونکو ته د روزنیز کورس پرانیستل ثابتوي چې د دوحې په مذاکراتو کې د طالبانو بریا ارګ لړزولی او اوس راتلونکو بین الافغاني مذاکراتو ته په چورت کې دي چې د ارګ استازي به د یوه حکومت په حیث نه بلکې د یوه افغاني فریق یا ډلې په حیث په کې شرکت کوي. له بلې خوا دا چې تر اوس د ارګ لخوا د مذاکره کوونکو نومونه نه دي اعلان شوي داسې معلومیږي چې په دې اړه هم ژور اختلافات شتون لري. د سولې د شورا مشر- کریم خلیلي ارګ ته اخطار ورکړی چې که د مذاکره کوونکو نومونه اعلان نه کړي له طالبانو سره به په خپل سر مذاکرات پیل کړي. دا ټول څه د دې علائم دي چې په راتلونکو مذاکراتو کې به د مخالف اړخ موقف کمزوری او طالبان به ان شاءالله یوه بله مذاکراتي بریا ترلاسه کړي.

ماجرای کشمیر

از نگاه دانشور معتبر هندی

حبیبی سمنگانی

معضل جدید کشمیر با انحلال ماده ۳۷۰ ماده قانون اساسی هند و یا لغو حیثیت امتیازی منطقه جامو و کشمیر از سوی دولت نارندرا مودی به تاریخ ۵ اگست امسال برپا شد و تا هنوز داغ است.

ای ای نورانی (A. A. Noorani) یا عبدالغفور عبدالمجید نورانی، دانشور ۸۹-ساله و از چهره های مشهور کشور هند در عرصه قانون و سیاست است. او بخش بزرگ زندگی اش را به حیث وکیل نامدار در دیوان عالی هند سپری کرده است. مؤرخ، سوانح نویس و ستون نویس نیز است. تا اکنون پانزده کتاب او از جمله کتابی که در مورد ماده ۳۷۰ قانون اساسی هند (Article ۳۷۰ : A Constitutional History of Jammu and Kashmir) نگاشته، به چاپ رسیده است. اظهارات و واکنش های او در مورد معضل جدید کشمیر که با انحلال ماده ۳۷۰ از سوی دولت نارندرا مودی رخ داده است، در مطبوعات هند منتشر شده است. او در مورد گذشته تاریخی کشمیر، چگونگی نزاع هفتاد ساله کشمیر بین هند و پاکستان و پیامدهای انحلال ماده ۳۷۰ نیز معلومات جالبی را ارائه نموده است. فشرده گفته های او را به هدف درک بهتر معضل کشمیر برای خوانندگان محترم ترجمه نموده ایم.

نوت : نوشته های بین قوسین برای وضاحت بیشتر از سوی مترجم (ح-س) اضافه شده است.

کشمیر پس از ورود اسلام :

اسلام در منطقه جامو و کشمیر پس از ۱۳۲۱ میلادی هرگاه حاکم هندوی کشمیر رنجن شاه مسلمان شد (و به صدرالدین ملقب گردید) شیوع کرد. سپس اسلام به تبلیغ صوفیای کرام به سرتاسر این منطقه رسید و چندین هزار بت پرستان و بودایی ها مسلمان شدند. برهمن ها

(طبقه برجسته هندوها) مخالفان سرسخت این مذهب نوآمد در کشمیر بودند و آن ها برای بدنامی اسلام و مسلمان ها به پروپاگند شروع کردند. مثلا یک برهمن کشمیری (که نامش در کتب تاریخ مجهول است) در حدود ۱۶۰۰ میلادی کتابی به نام «بهارستان شاهی» نوشته است. درین کتاب داستان های بی سر و پا در مورد حکام مسلمان کشمیر درج شده است. مثلا سلطان سکندر به تهمت اینکه چندین معبد هندوها را منهدم ساخته و برهمن ها را قتل عام نموده، دشمن برهمن ها خوانده شده است. در حالیکه در دوران سلطان سکندر - از ۱۳۸۹ الی ۱۴۱۳ م - چندین معابد کهنه و شکسته هندوها بازسازی شد و برای برهمن ها رعایت خاصی داده شده بود. واقعیت اینست که حکام مسلمان کشمیر بسیار بردبار و وسیع القلب بودند. آن ها هیچگاه در پی این نبودند که مردم کشمیر را جبراً مسلمان بسازند.

مغول ها در سال ۱۵۸۵ میلادی کشمیر را فتح کردند. آن ها مناصب عالیه را برای برهمن ها دادند. حتی بادشاه مغول محمد شاه - ۱۷۱۹ الی ۱۷۴۷ م - لقب «پندت» را برای برهمن های کشمیر داد. این به فرمایش آن ها بود، تا از برهمن های دیگر ایالات هند امتیاز داشته باشند. از همان روز برهمن های کشمیر به «پندت ها» یاد می شوند.

احمد شاه ابدالی در سال ۱۷۵۱ میلادی منطقه جامو و کشمیر را فتح کرد. پندت های کشمیر تا آن زمان نفوذ زیادی در دولت منطقوی کشمیر یافته بودند. آن ها با رندی و چرب زبانی شان افغان ها را نیز به دام آوردند و رسوخ شان با گذشت هر روز افزایش می یافت. حتی اینکه یک پندت کشمیری به نام «نندرام» در سال ۱۷۹۳ میلادی در دوران حاکمیت افغان ها صدر اعظم کشمیر تعیین شد.

حاکمیت افغان ها پس از ۱۸۰۰ میلادی بر اثر کشمکش ها و اختلافات داخلی افغان ها دچار پراکندگی شد. پندت های کشمیری ازین انتشار افغان ها سود بردند. آن ها عساکر اجرتی استخدام کردند و یک پندت کشمیری به نام بیربل دهر را سپه سالار ارتش خود تعیین کردند. اما نتوانستند افغان ها را شکست بدهند.

پندت های کشمیر در سال ۱۸۱۹ میلادی حاکم سیک پنجاب «رانجیت سینگ» را برای تهاجم بر کشمیر دعوت دادند. رانجیت سینگ دشمن سرسخت افغان ها بود و لیکن اراده حمله بر کشمیر نداشت. اما هرگاه پندت های کشمیر وعده دادند که از هیچگونه همکاری دریغ نمی ورزند، رانجیت سینگ یورش برد و کشمیر را در سلطه خود درآورد و دوره حاکمیت چند صد ساله مسلمان ها در کشمیر پایان یافت.

گلاب سینگ (از صاحب منصبان بلند رتبه رانجیت سینگ) حاکم منطقه جامو بود که انگلیس ها پس از درگیری با سیک ها در سال ۱۸۴۶ کشمیر را نیز شامل مستعمرات خود ساختند. اما آن ها در همان سال کشمیر را (که هفتصد هزار نفوس داشت به هفتصد هزار روپیه) به گلاب سینگ فروختند. همان بود که هندوها بر تمام منطقه جامو و کشمیر تصرف کردند. آن ها اگر چه بخش اندکی جمعیت کشمیر را تشکیل می دادند اما چون در نظام دولتی نفوذ گسترده ای داشتند، چنان پالیسی های تشکیل

دادند که توسط آن بتوانند بر مسلمان های کشمیر هر گونه ظلم و ستم انجام بدهند.

دولت دوگرا (که در اردو یا هندی به ڈوگره راج یاد می شود و نظام شاهی هندوها در کشمیر بود که از ۱۸۴۶ تا ۱۹۵۲ میلادی و یا از زمان گلاب سینگ تا هری سینگ یعنی چهار نسل دوام کرد) مالیات گوناگونی را بر مسلمان ها وضع کرد. بیشتر مسلمان های کشمیر دهقانی و یا هم شال بافی می کردند، آن ها بر اثر مالیات مختلف از نگاه اقتصادی نیمه جان شدند. در سال ۱۸۶۵ میلادی، صدها شال بافان در برابر این مالیات اقدام به تظاهرات کردند. اما دولت دوگرا به عساکر خود فرمان شلیک صادر کرد و ۲۸ تن مسلمان را شهید کرد. این نخستین قتل عام دولت دوگرا بود. سپس سلسله ظلم و وحشت خود را بر مسلمان ها شدت بخشید، تا در آینده کسی جرات اعتراض را نداشته باشد.

انگلیس ها در سال ۱۹۰۱ میلادی در منطقه جامو و کشمیر نیز نفوس شماری کردند. به اساس آن، جمعیت کشمیر مشتمل بر ۲۹۰۵۵۷۸ (۲ ملیون و ۹ صد و پنج هزار و ۵ صد و هفتاد و هشت) نفوس بود. ازین جمله ؛ ۷۴،۱۶ در صد جمعیت کشمیر را (که ۲۱۵۴۶۹۵ نفر می شد) مسلمان ها و ۲۳،۷۲ در صد جمعیت را (که ۶۸۹۰۷۳ نفر می شد) هندوها و صفر اعشاریه هشتاد و نه در صد را (که ۲۵۸۸۲ نفر می شد) سیک ها و ۱،۲۱ در صد را (که ۳۵۰۴۷ نفر می شد) بودایی ها تشکیل می دادند. جامو و کشمیر اصلا مشتمل بر سه منطقه است. کشمیر، جامو و لداخ. امروز نیز ٪۹۴ جمعیت کشمیر، ٪۳۳ جمعیت جامو و ٪۴۶ جمعیت لداخ را مسلمان ها تشکیل می دهند. بیشتر هندوهای جامو و کشمیر در جامو زندگی می کنند.

ماده ۳۷۰ قانون اساسی هند چگونه به وجود آمد :

مسلمان های جامو و کشمیر در قرن بست میلادی آغاز به قیام آزادی خواهی در برابر دولت دوگرا کردند. شیخ عبدالله از جمله زعمای بود که ازین قیام مسلمان ها بروز کرد و نمایان شد. هرگاه تصمیم به تقسیم هند گرفته شد، شیخ عبدالله می خواست که کشمیر دولت آزاد و مستقل باشد و خودش حاکم آن باشد. از سوی دیگر حاکم وقت کشمیر هری سینگ (که نوه گلاب سینگ بود) نیز در فکر بقای قدرت خود بود. چنانچه هر دو با یکدیگر دست و گریبان شدند. هری سینگ شیخ عبدالله را در ماه مئی ۱۹۴۶ گرفتار کرد. ژورنالست مشهور هندی پریم شنکر در کتاب خود (Kashmir ۱۹٤۷ : Rival Versions of History) انکشاف نموده است که هری سینگ در اپریل ۱۹۴۷ (یعنی چهار ماه پیش از تقسیم هند) فیصله کرده بود که اگر کشمیر را نتوانست به حیث دولت آزاد و خودمختار حفظ کند، در کشور هند مدغم می کند .

هرگاه هند در اگست ۱۹۴۷ به هند کنونی و پاکستان تقسیم شد، چون حاکم وقت کشمیر هری سینگ نمی خواست که شامل پاکستان شود، مردم پونچ (منطقه ای در دره کشمیر) در اگست همان سال در برابر دولت دوگرا قیام کردند. صدر اعظم کشور نو تشکیل پاکستان لیاقت علی خان و جنرالان پاکستانی اراده داشتند که مردم کشمیر را همکاری نظامی کنند، اما زمام ارتش پاکستان هنوز به دست یک

جنرال انگلیس فرانک میسروی بود. او از اعزام ارتش به کشمیر انکار کرد.

بنا برین فیصله شد که لشکر قبایلی ها بر کشمیر هجوم ببرد. قبایلی ها در اکتوبر ۱۹۴۷ بر کشمیر حمله کردند. اما نتوانستند که به سرینگر (بزرگ ترین شهر و پایتخت زمستانی کشمیر) برسند. زیرا حرکت و پیشروی لشکر بسیار سست بود.

هری سینگ هرگاه از تهاجم قبایلی ها خبر شد از کشمیر به جامو فرار کرد و از دولت هند خواستار همکاری نظامی شد. پندت نهرو، نخستین صدر اعظم هند کنونی چون خودش از جامو و کشمیر بود از ابتدا می خواست که این منطقه را شامل کشور هند کند. چنانچه او در ماه جون ۱۹۴۷ یعنی چند ماه پیش از تقسیم هند در نامه طولانی خود به وایسرای انگلیسی هند لارد ماونت بیتن نوشته بود که : «کشمیر نباید شامل پاکستان شود. زیرا شیخ عبدالله و هری سینگ (که اول الذکر رهبر تنظیم مسلمان ها به نام مسلم کانفرانس بود و دومی حاکم وقت کشمیر) هر دو چنین نمی خواهند. پس مناسب اینست که کشمیر شامل هند شود (در حالیکه شیخ عبدالله و هری سینگ هر دو بنا بر اغراض شخصی شان خواستار کشور مستقل بودند).

اما نهرو، دیگر زعمای سیاسی هند و مقامات بریتانیایی می دانستند که مردم ایالت های مسلمان نشین خواهان الحاق با پاکستان هستند. نماینده بریتانیا در کشمیر کرنل ایف دبلیو ایف ویب نیز پیهم رایور می داد که مسلمان های کشمیر می خواهند با پاکستان یکجا شوند. اما با این همه، هرگاه هری سینگ به تاریخ ۲۴ اکتوبر ۱۹۴۷ تقاضای الحاق با کشور هند کرد، پندت نهرو فی الفور مطالبه او را پذیرفت.

اما ماونت بیتن انضمام کشمیر با هند را به این شرط تصویب نمود که هرگاه اوضاع به حالت عادی برگردد در جامو و کشمیر همه پرسی (رفرندم) برگزار می شود و از مردم کشمیر پرسیده می شود که با پاکستان می باشند، یا هند و یا هم خواستار دولت آزاد و خودمختار هستند. گویا الحاق کشمیر با هند «عارضی» بود. چنانچه کمیته دفاعی هند به وزارت داخله هدایت داد که مکتوبی به هری سینگ بنویسد و او را آگاه بسازد که پیشنهاد الحاق او به گونه عارضی پذیرفته شده است. همچنان هرگاه وزیر بریتانیا آرتر هیندرسن در جنوری ۱۹۴۸ به هند آمد ماونت بیتن به او گفت که این الحاق عارضی است. دکتور لیونل کارتر، مؤرخ انگلیسی جریان این ملاقات را در کتاب خود نوشته است.

اما بعدا پندت نهرو، شیخ عبدالله و وزیر داخله کشور هند سردار پتیل پیمان مخفیانه ای بستند که در کشمیر همه پرسی برگزار نمی کنند. آن ها می دانستند که بیشتر مسلمان ها طرفدار الحاق با پاکستان هستند. پندت نهرو نیز در نومبر ۱۹۴۷ در نامه ای به شیخ عبدالله نوشت که : تصمیم بر عدم برگزاری همه پرسی کار آسان نیست. زیرا ما پیش جهان اعلام کرده ایم که همه پرسی برگزار می کنیم، اگر ما ازین موقف خود منحرف می شویم موقف پاکستان در سازمان ملل متحد قوی می گردد و لیکن اگر همه پرسی برگزار می کنیم شاید مشکل از کنترول ما بیرون شود.

هـری سـینگ در ۳۰ اکتـوبر ۱۹۴۷ شـیخ عبدالله را بـه فشار پنـدت نهـرو بـه حیث صدر اعظم کشمیر تعیین کرد (تا او در موضوع کشـمیر صدای مخالفت بلند نکند). شیخ عبدالله پس از اینکه صدر اعظم شد در تلاش استحکام قدرت خود بود. او می خواست که جامو و کشمیر حیثیت امتیازی و جداگانه ای در هند داشته باشد. همان بود که برای حیثیت فوق العاده کشمیر مذاکرات میان پندت نهرو و شیخ عبدالله از نومبر ۱۹۴۷ آغاز شد و این مذاکرات منتج به تشکیل ماده ۳۷۰ قانون اساسی هند شد.

اصـلا هندوسـتان پـیش از ۵ جـون ۱۹۴۷ مشتمل بر ۵۶۵ ایالت های خورد و بزرگ بود. ایـن ایالت ها به تدریج الحاقمواصلت

خود را با هند یا پاکستان اعلان می کردنـد. در ابتدا فیصله بـه ایـن شده بـود کـه هنـد (یـا پاکستان) تنها سه امور (دفاع، خارجه و ارتباطات) ایـن ایالـت هـا را در کنـترول خـود مـی گیـرد و متباقی امور دولتی طبق قوانین خود ایالت ها بـه پیش برده می شود. اما تا مئی ۱۹۴۹ بیشتر ایالت ها به این اتفاق رسیده بودند که ضرورت نیست که هر ایالت از خـود قـوانین جداگانـه ای داشـته باشد. لهذا تمام امور طبق قانون مرکزی هند اجرا می گردد.

اما هری سینگ بر خلاف این ایالـت هـا تنها هـمان امـور سـه گانـه را بـه دولـت مرکـزی هنـد سپرد. شیخ عبدالله نیـز مـی خواسـت کـه دولـت هند تنها همین سه امور را در کشـمیر بدسـت خـود بگیـرد و بـس. امـا زعـمای هنـدوگرای حـزب مقتدر هند «کـانگرس» مـثلا سردار پتیـل، شیام پرشاد مکرجی، راجندر پرشاد وغیره می خواستند کـه دولـت هنـد بایـد تمـام اختیـار کشـمیر را در دست داشته باشد.

پنـدت نهـرو نیـز طرفـدار حیثیـت امتیـازی کشمیر بود. مذاکرات درمیان دولت نهـرو و شـیخ عبدالله تا مدت زیادی جریان داشت و بالاخره در اواخـر ۱۹۴۹ پـیمان بـین هـر دو طـرف امضـا شـد. چنانچه هرگاه قـانون اساسـی هنـد در ۲۶ جنـوری ۱۹۵۰ میلادی نافـذ شـد مـاده ۳۷۰ نیـز شـامل آن بود. به اساس ایـن مـاده ؛ دولـت هنـد تنهـا امـور دفـاعی، خارجـه و ارتباطـات را در کشـمیر در کنـترول خـود مـی داشـته باشـد و متبـاقی امـور دولتی طبق قوانین ایالتی به پیش برده می شود.

در جـزو سـوم مـاده ۳۷۰ آمـده اسـت کـه رئیس جمهـور کشـور هنـد بـه پیشـنهاد مجلـس قانون ساز کشمیر مـی توانـد ایـن مـاده را منحـل اعلام کنـد. مجلـس قـانون سـاز کشـمیر در سـال ۱۹۵۱ به هدف تشکیل قانون اساسی منطقه جامو و کشمیر به وجـود آمـد. ایـن مجلـس کـار خـود را ظرف چند سال تکمیل کرد و قـانون بـه تـاریخ ۲۶ جنوری ۱۹۵۷ نافـذ شـد و مجلـس قـانون سـاز در همان روز منحل اعلام شـد. ایـن مجلـس چـون در مورد تحلیل یا ترمیم ماده ۳۷۰ هیچگونه فیصـله

ای نکرد، لهذا ماده ۳۷۰ برای همیش جزو قانون اساسی هند شد.

اما اکنون نه تنها مجلس قانون ساز وجود ندارد بلکه مجلس ایالتی کشمیر نیز از یکسال به اینسو غیر فعال است. اما پارلمان هند این ماده را به گونه یکطرفه از بین برد و رئیس جمهور کشور نیز این فیصله پارلمان را تصویب کرد. اکنون این معضل به دیوان عالی هند رفته است. چون ماده ۳۷۰ نوعیت رابطه بین هند و کشمیر را وضح می سازد باید دیوان عالی هند فیصله کند که رئیس جمهور نمی تواند این ماده را یکطرفه (بدون پیشنهاد و مشوره مجلس ایالتی جامو و کشمیر) منحل کند.

خوش گمانی بزرگ در مورد ماده ۳۷۰ :

در مورد ماده ۳۷۰ چنین خوش باوری وجود داشت که گویا همین ماده است که منطقه جامو و کشمیر را خودمختار ساخته است و یا کشمیر ماسوا از دفاع، خارجه و ارتباطات در سائر امور دولتی آزاد و خودمختار است. این محض خوش گمانی است.

حقیقت اینست که از ۱۹۵۰ تا اکنون توسط «۵۰ فرامین ریاست جمهوری» ماهیت ماده ۳۷۰ تغییر خورده بود. زمانیکه دولت نارندرا مودی به تاریخ ۵ اگست امسال این ماده را منحل اعلام کرد ماده ۳۷۰ یک لاش نیمه جان بود.

۹۵ اموری که مربوط دولت مرکزی می شد توسط این پنجاه فرامین ریاست جمهوری بر ایالت کشمیر نافذ گردیده بود. همچنان ۲۶۰ شق از ۳۹۵ شق های قانون اساسی هند در جامو و کشمیر نافذ شده بود. گویا دولت هند طبق پلان که داشت اصول و قوانین خود را به تدریج در کشمیر وضع کرده بود. اهمیت ماده ۳۷۰ تنها همین قدر مانده بود که شخص غیر کشمیری نمی تواند در کشمیر جای و زمین بخرد. تعجبآور اینست که تمام این فرامین ریاست جمهوری به گونه آمرانه و جبری در کشمیر نافذ شده بود و مجلس ایالتی کشمیر هیچگونه نقشی دران نداشت.

عواقب انحلال ماده ۳۷۰ :

انحلال ماده ۳۷۰ تکان ضربه بزرگی به آنعده احزاب سیاسی کشمیر است که حامی کشور هند بودند. حتی رهبران و زعمای این تنظیم ها اعتراف کردند که حمایت از هند اشتباه تاریخی اجداد ما بود (عمر عبدالله، سر وزیر پیشین منطقه جامو و کشمیر و نواسه شیخ عبدالله چند روز پیش چنین اعتراف کرد). اکنون امکان دارد که جنبش های آزادی خواهی در مناطق مسلمان نشین کشمیر شدت یابد و امکان دارد که شاهد تنظیم های جدیدی که باور بر مبارزه مسلحانه داشته باشند، باشیم.

پندت کشمیری «پریم ناث بزاز» آگاه و سیاست مدار مشهور هندی گذشته است. او در کتاب خود (The History of Struggle for Freedom:) که در سال ۱۹۵۴ به نشر رسید گفته است که : اگر دولت هند تلاش کند که مردم کشمیر را جبرا با خود نگه دارد، هیچگاه در کشمیر امنیت نمی آید. عجب است که حاکمان هند به زور نظامیان می خواهند کشمری ها را تابع خود بسازند. حال اینست که همین حاکمان هند در گذشته برای آزادی خواهی از استعمار انگلیس جنگیده بودند، اما حالا می خواهند کشمیری ها را محکوم بسازند».

د الامام المجاهد فی سبیل الله

[مولوي جلال الدين حقاني]

د وفات د لومړي تلين په اړه...

دروان ۲۰۱۹ زکال دسټمبر ۴مه نیټه دافغان تاریخ ددوه لوبو ګټاتونو [جهادونو] د وتلي قهرمان، نومیالي عالم ومبارزاودفقید المثال مجاهد شخصیت الحاج مولوي جلال الدین حقاني [رحمه الله تعالی] د وفات دلومړي تلین ورځ ده...

مرحوم مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله ددې ترڅنګ چې هغه یوثقه حقاني اورباني دیني عالم و،له تیرو ځلور لسیزوراهیسې په دوه لویوتاریخي جهادونو اودحق وباطل په دوه سترومعرکوکې دافغان میرني مسلمان ولس مخور سیاسي او جهادي سرخیل اورهبرهم و.

دعربي مشهوره مقوله ده وایي: موت العالم موت العالم! دعالم مړینه دعالم مړینه ده، له هرډول مبالغې اوریاپرته ډیرې پیړې به تیرې شي، لسګونه انقلابونه اوبدلونونه به راشي اودجهادي حماسو اوږده داستانونه اودیوانونه به بشپړشي لیکن دارواښاد حقاني صیب [رحمه الله تعالی] په مړینه دجهاد او مبارزې په صف کې رامنځته خلا اوتشه به ډکه نشي اونه به په اسانه دنومورې پشان اولوالعزم، راسخ العقیده، بَطلِ جلیل سرلښکر ومندل شي.

څنګه چې دا دالله تعالی په علم کې مقدره اوفیصله شوې چې دحق او دباطل، دخیر اوشر،داسلام اوکفرترمنځ به ټکراومعرکه دقیامت ترسبا روانه اودوام ولري نو سنتُ الله دادی چې دباطل پالونکو دسرکوبې لپاره همیش حق پالونکي مجاهدین اوقایدین دنیا ته ددې لپاره راځي چې هغوی به دالله تعالی دمنشا اوارادې سره سم دباطل پالونکوپروړاندې د مبارزې اوجهاد سترې فریضه رهبري اوسرته رسوي

اودالله تعالی دنظام اوقدرت دا هم عجیبه حکمت دی چې ځیني انسانان دنیا ته وروسته راشي خومرتبه اومقام هغوی ته د[صدیقینو اولینو] ورکوي اما بیهقي رحمه الله په دلائل النبوة کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دا مبارک ارشاد رانقل کړی دی :

إِنَّهُ " سَيَكُونُ فِي آخِرِ هَذِهِ الأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ، يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَيُقَاتِلُونَ اهل الفتن (مشكوة۵۸۴)

ددې امت په اخرکې به ځيني خلک داسې وي چې هغوی ته به اجر دامت دوراندينو اومره ورکول کيږي، داخلک به په معروف حکم کوي، دناراووځخه به منع کوي اوداهل فتنه ووپرخلاف به جهاد کوي.

يعنې په [المعروف] حکم کول د[المنکر]نه منع کول، اودفتنه ګرو اومفسدينو سره جنګيدل دريواړه هغه اوصاف دي چې دامت وروستني دړومبنو سره يوځای کوي اوپه درلودلوسره يې دامت وروستنوته ،دامت دړومبنوسره برابر اجر وثواب ورکول کيږي يا پر بل سپيناوي هغه څه چې د[قرون متأخره] له سړيوځخه د[قرون اولی] شخصيتونه جوړوي امر بالمعروف، نهي عن المنکر اودزماني داهل فتنه وو پرخلاف جهاد وقتال دی.

الاما م المجادهد فی سبيل الله [الحاج مولوي جلال الدين حقاني] د[الاخرون السابقون] څخه و، چې درسول الله صلی الله عليه وسلم دمبارک ارشادپه مصداق د[لهم مثل اجراو لهم] له شرف اوافتخارنه برخمن شو.

حقاني صيب رحمه الله دايشيا په ستره علمي جامعه [دارالعلوم حقانيه] کې دمروجه ديني علومواوفنونودنصاب له پوره لوستلو اوفراغت وروسته ، د خدای ورکړي ذهانت وذکاوت او استعداد په وجه هم هلته دتدريس شرف ترلاسه کړ، هلته ديوکال تدريس وروسته ناڅاپه په هيوادکې ځيني ستر سياسي تغيرات اوبدلونونه راغلل چې دهغو له املې د حساسيتونوځخه ډکې بربوکی راپورته شوې، او د هيواد دنظام اوواک زياتره کليدي پوستونه پرديپالو کمونستانوته په لاس ورغلل، هغوی په سياست اونظام کې له مهمومواقفونه په ناوړه استفاده داسلامي شعايرو په سپکاوي اوورپورې په ملنډو وهلولاسونه پورې کړل، دځوان افغان نسل دپې لارې کولو لپاره يې مختلف، شعارونه، پلانونه اوحربې په کارواچولې، ورځ تربلې د حکومتي دستګاه دننه دکمونستانورول اونفوذ زياتيده، چې په ليدوبه يې دافغان ولس دننه يولوی ذهني اضطراب او ناکراری غورځنګونه کول ، دهيواد جيدعلماءِ کرام هم دکمونستانو د پرمخ زياتيدونکي نفوذ اوځواک له امله اندیښمن ول، حقاني صيب که څه هم له هيواده بيرون و اوهلته په تدريس بوخت و، خو په هيواد کې دروان وضعيت نه غافل نه و،هغه له هم هغه ځايه پخپل بصيرت اوفراست سره دهيواد حالات څارل کله چې د ملحدو کمونستانو لخوا فعالبتونه دښارونو ترځنګ کليوالو سيمو او د هيواد اطرافواواکنافوته هم وغځيدل، حقاني صيب ارشو چې د دارالعلوم حقانيې له تدريس څخه مستعفي او هيواد ته راشي،له راتلو سره يې د تدريس و تبليغ ترځنګ دکمونستي الحادي افکارو په مقابل کې ددعوت اواصلاح په لهجه اوسبک مبارزه شروع کړه، دهغوی دګمراه کونکوعقايدواوافکارو څخه دمسلمانانو دخبرولولپاره يې دممبرومحراب له دريځ نه

ددعـوت او اصلاحاتوراوستلومسـيرونيو، پـه دې لړکې له درنو ازمايښتونو اوستونزو سره هـم مخ شـو،خو مـايوس نشـو، پـه کلـک اسـتقامت يـې خپلې مبارزې تـه دوام ورکړ اوپـه ولس کې يې دامربالمعروف اونهي عن المنکـر دفريضې سرته رسـولوته پـه کـار ويلـو سـره پـه لنـډ وخـت کې دولسونو ملاتړ اوباور د خـان سره کړ، دسيمې دعلماوو ترمنځ يې هماهنګې او يووالی قايم کړ، خا په خای يې ددينې مدارسو جوړولوسلسله پيل کـړه اوپکـې پـه اسـلامي اوافغـاني روحيـه يـې خوانان تربيه او وروزل

کلـه چـې پـه ۱۳۵۷ ل دثـور پـه ۷مـه کمونسـتانو دوخـت پـه سياسـي نظـام کې دخپل اثرورسوخ نه پـه نـاوړه ګټه اخسـتو دثوربدمرغـه اوتوره کرکجنه کودتـاه وکـړه، پر ضـديې حقـاني صـيب اودهيـواد نوروعلماوودجهـاد بيـرغ پورتـه کړ، په داسې حال کې چې تش لاس وو خو د قوي عزم اوايمان په وسله يې دکمونسـت دولـت دعسـکرو خخـه زيـاتې وسـلې، جنګـي تـوکې اومهمـات ونيـول، او پـه هغـويې مجاهـدين مجهزاومسلح کړل،کله چې دشوروي لخوا په افغانسـتان مخـامخ يرغـل وشـو پـه وړانـدې يې دنور هيواد په خير پـه خوسـت ، پکتيـا او پکتيکـا کې دحقاني صيب په قيـادت کې جهـادي ليکې لاپسې تقويه اوپياوړې شوې دپکيتا او خوست په جنګونو کې حقاني صيب داسې تاريخ جوړونکې کارنـامې ترسـره کـړې چـې پـه افغانسـتان کـې دشـوروي دسرولښـکرو قومنـدان [جنـرال کروموپ] هـم پخپل کتاب [سړې لښکرې په افغانستان] کې وربانديې اعتراف کولوتـه اړشـوی، دغـه مهـال پـه حقـاني صـيب بانـدې لـه عربـو اوعجمو خخه دبهرنيو مجاهدينو سيلونه رامات شـول، هغـومره لـوی شـمير مجاهـدين دبـل چـا مرکزونوته رانغلـل خـومره چې دحقاني دقيادت لاندې جهـادي مرکزونوتـه دجهـاد لپاره راغلـل ، حقـاني صـيب پخپـل جامعيـت او تـدبر سـره هغـوی[عرب اونـور دمجاهـدين] پـه پـوځي اوجهادي روحيه به تربيه او وروزل اوبيابه يې په جهادي لېکوکې په خدمتونو ګومارل

دشوروي اشغال پرضد دجهاد په اوږدوکې حقـاني صـيب د سـترو اوحيرانوونکـو جهـادي بريـاوو او کارنامو په ترسره کولوسره تولـه نړۍ کې شـهرت اومقبوليـت ترلاسـه کړ،دهيـواد دننـه اوبيـرون يـې پـه جهـادي تـاکتيکونو اوجنګـي مهارتونو دخلکـو باوراواعتمـاد راغـې، کلـه چې شوروي لښکرې له افغانستانه په نيبسته وتلو تـه اړشوې او دنجيب کمونست رژيم [چې دروسـانو لخـوا هـره مياشـت پـه پريمانـه وسـلو اکمـال اوپرمليونونو ډالرو ورکولوتمويليده] دتمې اوتوقع خـلاف پـه بيسـاري کچـه مقاومـت تـه اوړې ورکـړې، تـردې پـورې چـې کلـه دمجاهـدينو تولوتنظيمونـو پـه شـريکه دهيـواد پـه خنـيځ کې دمهـم اوسـتراتيژک ښـار [جـلال ابـاد] دنيولـو پرارادە شريک عمليات پيل کړل، مقابـل کې يـې کمونست رژيم خورا کلک مقاومت وکړ ان چې مجاهدين يې په شا وتمبول، په دې سره نړۍ کې لـه هرچـا سـره داپوښـتنه پيـدا شـوه چـې ايـا مجاهـــدين دزور دلارې دنجيـــب رژيـــم د

رانسکوررولو وړتيا لري؟ ډيرى خلکو دجلال اباد عملياتو ته په کتو دپوځي لارې څخه دمجاهدينو په بري باندې باور نه کاوه

دغه مهال حقاني صيب پخپل پوځي بصيرت اوجهادي درايت سره دخوست فتح کولوته ملا وترله،ددېرى ګوندونو مشرانو لخوا دنومورې ددې اقدام سره مخالفت ښکاره شو، چې هسې نه دجلال اباد پشان دماتې اوشکست بله ترخه پېښه تکرار شي، ليکن حقاني صيب داډه وو، هغه په هرصورت دخوست فتح کولو پريکړه کړې وه اودرهبرانو لخوا دمخالفت باوجود وروسته نشو هغه و چې دخداى تعالى په مرسته يې خوست فتح کړ، اونجيب پخپل ټول ځواک دخوست نه دفاع وکړه اوددوستم ګلجمي مليشې سربيره په زرګونو تازه دم ځواکونه يې دخوست ددفاع لپاره دکندهار، کابل غزني او مزارشريف نه راوستل خوبيا يې هم خوست ونشو ژغورلى اوحقاني صيب يې د فتح کولو ويار ترلاسه کړ

دخوست فتحې په ټول هيوادکې دفتوحاتو دروازه پرانيسته اودمجاهدينو پريوبي مورالونه ورسره لوړشول اوپه نړيوالو يې دجهاد دبرې حقيقت ومانه، دنجيب رژيم لپاره دخوست فتح دومره لوى شکست شو چې په کابل کې يې يې ځو ورځې ماتم اعلان کړى واوپخپله نجيب دوه ورځې اودوه شپې ځان زنداني کړى و،هيڅوک يې ځان ته نه ورپرېښودل اونه يې له چاسره خبرې کولې،ددوه ورځو وروسته چې کله دخپلو لوړرتبه پوځي قومندانانو سره دخبروکولو لپاره راخرګند شو هغوى سره يې په خبرو کې دخوست دلاسه ورکول لويه غميزه او تراژيدي وګڼله

دخوست فتح وروسته حقاني صيب دګردېز فتح کولو ته پام وګرځاوه اوډېرژرېې ګردېزکې هم درژيم ځواکونه کلابندل کړل اونجيب پخپل ټول ځواک کوښښ وکړ چې ګردېزهم له حقاني صيب نه وژغوري خو موفق نشو بالاخر دحقاني صيب ترقومندې لاندې ګردېزهم فتح شو، هغه وچې په دې سره دهيواد په شمال کې هم فتوحات پيل شول زيات ولايتونه دمجاهدينولاس ته ولويدل اود نجيب په لاس کې يو اځې کابل ښارپاته شو،حقاني صيب نه غوښتل چې مجاهدين کابل ته په غيرمنظم ډول ننوزي، بلکې غوښتل يې چې ديوپلان او نظم ترلاندې کابل کې بايد مجاهدينوته واک انتقال شي، ددې لپاره يې په جهادي تنظيمونو غږ وکړچې کابل ته په ننوتو کې دي دهيڅوک ګوند مجاهدين له خپلسرى نه کارنه اخلي! خو دقدرت مجونان اولېونيان کله صبرېدل هغوى راپورته شوي دقدرت لپاره وو، هغه وچې کابل ته دننوتو په سر د کمونستو جنرالانو سره يې پټې اوښکاره معاملې وکړې، مسعود او حکمتيار ديوبل سره په سيالى کې کمونستانو ته امتيازات ومنل، د کمونست رژيم جنرالان لکه دوستم، اصف دلاور، نبي عظيمي اوباباجان مسعود په غيږ کې ونيول،شاهنوازتنې او وطن جارحکمتيار ځان سره کړل په دې سره دجهاد په ارمانونو خاورې امبارشوې اوپه هيواد

کې لویې خوټې جګړې پیل شوې حقاني صیب په دا ټوله موده کې خپلو اصولوته ژمن پاته شو،دقدرت اوځوکې ترلاسه کولو لپاره یې ځان په جنګونو کې نه یواځې ښکېل نکړ،بلکې په جنګ کې دښکېلو اړخونو ترمنځ د دربمکړې اودسولې دسفیرپه حیث یې کوښښونه کول اودهغوی ترمنځو دجګړې بل اوروته یې وژل اوددې لپاره په کراتو مراتو مسعود، رباني، سیاف، مزاري او حکمتیار ته په جرګو اومرکو ورغې، چې خدای لپاره دجهاد سره خیانت مه کوئ دقدرت دهوس نه تیرشئ، دحقاني صیب په وینا: دسولې اوروغې جوړې پخاطر حکمتیار ته ۲۲ ځله ورغلی یم او رباني ته ۲۳ واره لاړیم، هر وار به هغوی راسره په خوله دسولې په اړه عهدو پیمانونه وکړل بل خوا په عمل کې به یې هغه ټول نقض کول، خو بیا هم نومورې همت له لاسه نه ورکاوه اوترپایه یې دهغوی ترمنځو دخیر اوروغې جوړې هڅې یې کولې .

حقاني صیب رحمه الله په داسې حال کې چې دخوست په فتح اوبیا دهغه وروسته دګردیزپه نیولوکې پریمانه وړې اولویې وسلې اوټانګونه نیولې وو،ده هم کولی شول چې دهغو پرمټ کابل ته ننوتی وی داچې داکاریې دقدرت حاصلولو ګام ګانه دهیواد او مجاهدینو سره یې جفا اوخیانت باله، نوترپایه یې و نکړ،هغه لیدل چې مسعود کمونستانو لپاره دامتیازاتو په منلو دپنجشیرنه راووت اودکمونست رژیم دجنرالانو دټانګونوپه بدرګه کابل ته ننوت اوحکمتیارهم دپیښورنه ځان دکابل ځنډوته ورساوه خو نومورې هیڅ داسې ګام پورته نکړ چې هغه دمجاهدینو ترمنځ دوینوتویولو سبب کید، بلکې کله چې مسعود او حکمتیار په کابل کې دجګړې اورونه بل کړل، دهغو اورونودوژلو لپاره سترګې هم یواځې حقاني صیب په لوراوښتلې ، هغه و چې حقاني صیب پخپل ټول درایت او عقلمندی ددغه اورونو دوژلو هلې ځلې وکړې لیکن ښکېل اړخونه پخپلو کړو ژمنو نه دریدل او دیوبل پرضد پوځي سوقیاتوته یې دوام ورکاوه اودقدرت په سر جنګونو کې یې ټول کابل یې لوټې لوټې کړ، په زرهاوو خلک یې وژل په لکونو یې دخپلو کورونو ځخه وایستل

دهیواد په ولایتونو کې هم دملوک الطوایفی راج خورشو، پاټکسالارې رامنځته شوه حقاني صیب دهغوی پرضد هم غږپورته کړ په لاروکې پاټکونه اچول لارې بندول یې قطاع الطریقي او حرام وګرځول ، لنډه داچې هیواد دخپلمنځي جنګونو بدمرغیو دلاسه تباه وبرباد شو، په هرلور وحشت وبربریت خورشو،هرچیرې انارشیزم ځای ونیو، تردې چې دخلکوپت، ابرواوناموس هم خوندي پاته نشو،هغه وچې دملت له منځه دطالبانو داسلامي تحریک څپه راپورته شوه اودهیواد په جنوب لویدیځه حوزه کې یې ګڼ ولایتونه ونیول اودپرژردهیواد دجنوب اوکابل پولو ته ورسیدل، مرحوم حقاني صیب دځنډ پرته دطالبانو دپاځون هرکلی وکړ او له هغوی نه یې خپل قوي ملاتړ اعلان کړ، دهیواد دجنوب درې مهم ولایتونه [خوست، پکتیا او پکتیکا]یې طالبانوته دجنګ پرته وسپارل چې په دې سره

طالبانو خپل ټول پام دکابل په لورکړ، حقانی صیب داسلامي امارت دواکمنی په دوره کې داسلامي امارت داستحکام یوه قوي سته وه او ترپایه پرته دکوم لالچ او دنیاوي غرض نه ورسره ملګری و، کله چې دیوولسم ستمبر په پلمه امریکا په افغانستان یرغل وکړ حقاني صیب پخپل ټول توان سره داسلامي امارت ترقیادت لاندې جهادته ملا وتړله اوهیڅکله دنورو قومندانانواورهبرانوپه ځیریې خپل پخوانی جهادي اودوطن دازادی مسیر تغیرنکړاوپه دې لارکې ترپخوایې لویې قربانی ورکړې، خپل ځلورتنکي زامن یې شیهدان کړل اوخپله یې په تنګیو اوستونزو کې ژوند غوره کړ خودښکېلاک په وړاندې له خپل جهادي عزم نه وروسته نشو او ترپایه پخپل مدبرانه کردار یې داسلامي امارت دصف وحدت او یووالی وساته ،په همدې حالت کې یې دنړی څخه سترګې پټې او دخپل لایزال خالق سره دیو ځای کیدو په لوررحلت وکړ الله تعالی دې ورته دټولو جهادي ستړیاوو اوتکلیفونو په بدل کې لپې، لپې اجرونه او عوضونه ورکړې دده برکتونه دي په بیرته کورنۍ، اولادونو اومجاهدینو کړې

رازم دیته چې اروابنیاد مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله زمور دنژدې تاریخ یومعتبره هسته اومنلی شخصیت واو دخدای تعالی څخه زیات ډاریدونکی عالم او مجاهد و، چې علمي، سیاسي ،جهادي کارنامې، ویاړنې او افتخارات یې دګران هیواد ټولو خلکوتاریخ، کارنامې، ویاړنې او افتخارات ګنل کېږي دمبالغې پرته حقاني صیب مرحوم پخپلو لویوقربانیو، ایثار، للهیت نړی کې دمسلمانانو په تیره دافغانانو تاریخ غني اوښایه کړ اوهم یې د هیواد دعلماوو،طالبانو اودیني قشر دوقار اوعزت شمله هسکه کړه.

اودا هم حقیقت دی چې دیوچا په اړه دتاریخ پریکړه اوقضاوت دزرو اوزورپه مټ نه کېږي، ډیربه داسې وې چې دوخت او سیاست په پریکړه به محکوم وي خو تاریخ به هغه پخپلو پانوکې سرلوړی ثبت کړي لکه دکمونستانو د وخت اوسیاست په دوره کې دهغوی یوې محکمې لخوا حقاني صیب په غایبانه اعدام محکومولو، اوهمدا راز دامریکا لخوا دحقاني صیب په سردملیونونه ډالرانعام تاکلو په پریکړه [کمونستانو اوغربیانو] داسې انګیرله چې ګواکې په دې سره به دحقاني صیب دمجاهدانه کردار نقوش دتاریخ دمخ نه محوه کړي، خو نن هغه چا چې یادې پریکړې کړې وې هغوی پخپله دتاریخ نه محوه شول او حقاني هغسې دافغان ولس دقهرمانی اومیرانې دتاریخ سرخیل اورهبریادیږي دا زکه چې دحالاتو او سیاست پریکړه دانصاف او عدالت نه لیري وي هغه دزرو زورتابع وې خو دیوچاپه اړه دتاریخ پریکړه له دې څخه بې نیازه اوبې پروا وې ... روح یې بناد اوخوشال!

ولله الامر من قبل ومن بعد!

د علم، دیانت او میرانې

د رومبې تلین په پلمه!!

ع - عزیزي

زما سره به تل دا وېره او پریشاني وه چې یاالله ته خو هغه ورځ رابانديې مه وینه چې د ټولې کفري نړۍ د سترګو ازغي او د اسلامي امت اتلان په خاص ډول ملا محمد عمر مجاهد او شیخ مولوي جلال الدین حقاني دې ژوندي د امریکایانو لاسو ته ولوېږي چې مونږ ورته ګورو او د اسلام ابدي دښمنان د اسلام دغو سپه سالارانو ته ولچک او زولنې وراچوي تمسخر پرې کوي او اسیران کوي یې .

ځکه دا هغه د غیرت او میرانې هستۍ او د فولادي عزم غرونه وو چې په ډیر صراحت یې د مستکبرې امریکا بدمعاشۍ ته د اسلام په توره ځواب ووایه ، او اسلامي امت ته یې دا ثابته کړه چې که امریکا ځانته د نړۍ لوئ ابر قدرت او سپرپاور وایي خو چون افغانان مظلوم او داعیه یې برحقه ده هغوي به اروموړو په باطل غلبه پیداکوي او هغه وخت او شیبې به د الله تعالی په نصرت اروموړو راځي چې امریکایان به د اسلامي امارت جهادي عزم او دریځ ته غاړه ږدي او حقانیت به یې تسلیموي لکه چې دا هر څه اوس مونږ او تاسي د سر په سترګو وینو .

هماغسې وشول ؛ د اسلامي امارت مؤسس عالیقدر امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد او د عربو او عجمو د سترګو تور الشیخ مولوي جلال الدین حقاني د امریکا د ټول ځارګر جال ، جواسیسو او نیرنګو په وجود او فعالیت کې او د ملیاردونو ډالرو په لګښت هغوي دا ځای ځانته معلوم نشوکړلای چې د اسلام او افغانیت دغه ځلانده ستوري چیرته اوسیدل او د جهاد رهبری یې په کوم حکمت اوتکتیک سرته رسوله .

له شک پرته چې دا د مظلومو مسلمانانو د دعاګانو او الله پاک ته ددوي د تضرع او ځاریو نتیجه او برکت وو چې د ژوند تر وروستۍ سلګې پورې د میرانې او دیانت دغه علمبرداران د کفارو او منافقانو له کرغېړنو لاسونو او دامونو مصون وساتل شول .

مـرګ هـر چاتـه راځـي او هـر څـوک يـې څکـونکي دی او ټـول د الـلـه پـاک حضـور تـه ورتلونکي يو ، سياف ، کشاف ، رباني او نور جهاد فروشان به هم د الله پـاک حضـور تـه دريـږي او ملامحمد عمر مجاهد ، ملا اختر محمـد منصـور او شيخ جلال الدين حقـاني نوراللـه مرقـدهم بـه هم دريږي.

هلته به بيا اندازه لګيږي چې چـا د اللـه پـه دين غيرت کړی و څوک حقيقـي مجاهـدين ول ، چا د روس ، امريکا او ناټو ژامې ورمـاتې کـړي او چا يې د غلامي ځنځير په غاړو کـې واچـول، چـا په مظلومو او مهاجرو مسـلمانانو غيـرت وکـړ او ټوله پادشاهي او دبدبې يې ترينه ځـارکړي او چـا بيا همدغه مسلمانان او عربان ژوندي نيول او په جنګي کلا، کندوز ، کابـل ، ننګرهـار، کنـدهار او نورو برخوکې يې لاس ترلې امريکايانو ته سپارل.

د دوه و جهادونو د قائد مولوي جلال الدين حقاني هغه خبره مـې اوس هـم پـه غوږونـو کـې ګرځنګيـږي چـې دبې بي سي د شـيطاني راډيـو د خبريال ددې پوښتنې پـه ځـواب کـې چـې لـوئ اکثريت افغانان غواړي چې امريکايي پوځيـان او نړيوالې قواوې افغانستان ته راشي او د سـولې او امن لپاره کار وکړي ، خو حقاني صاحب ورتـه پـه ځواب کې وويل چې ستاسي پـه دغـه خـبره کـې صدق نشته ، هېڅ اصيل افغان پخپله خـاوره کـې خارجي عسکر نشي برداشت کولای او داسـې بـه ورسره وجنګيږي ، لکـه لـه انګريزانـو او روسـانو سره چې جنګيدلی وو حقاني صاحب زياتـه کـړه چې زه دا خبره په دې باور او عزم کوم چـې زمـا خبره د افغانانو د زړه غږ دی ځکه زه پـه ملايـانو کې ملا ، پـه قـومي مخـورو کـې قـومي مشر- پـه سياست کې سياسـت مـدار او پـه هغـو سربيـره دافغانستان د سرحدونو او قبايلو چارو وزير يم .

خو له بل لوري رباني بي بي سي ته ويل چې امريکايان بايـد غـټ غـټ بمونـه پـه افغانسـتان وغورځوي او پوځيان په عاجل ډول په افغانسـتان کې پياده کړي .

سياف به امريکايي جنرالانو ته ويـل چـې د عربانو د نيولـو قومنـده او امکانـات هغـه تـه ور وسـپاري ځکـه هغـه د روسـانو پـه مقابـل کـې جنګيدونکي عرب مجاهدين ډير ښه پيژني !!!!!

ياالله ته خو يې پخپل عظيم لطف او مرحمت ملا محمد عمر مجاهد ، شـيخ مولـوي جـلال الـدين حقـاني او د اسـلامي امـارت ټـول شـهيدان د فردوس جنت په اعلی او لوړو درجو ونازوي .

جهادونـه ، دينـي خدمتونـه او د غيـرت او ميراني ټولې کارنامې او هڅې يـې ورتـه يـوه يـوه قبولې او منظورې کړي او په برکت يې امريکـا او د امريکا بچـوړي او متحـدين نيسـت نـابود او د افغانانو سترګې د اسلامي نظام په حاکميت يخې او تندې يې خړوبه وګرزوي .

امين

د امارت مشران

د هدف ملکرو ته شا نه اړوي

خپلواک

کله چې خبرشوم چې د افغانستان د اسلامی امارت مشرتابه د شهیدانو له کورنیو سره خبرې کوي. ترڅو په قطرکې د روانو پرلپسې خبرو په پایله کې د ممکنه پرېکړه لیک په اړه د شهیدانو د کورنیو نظرونه واخلي او همدارازیې د پرېکړه لیک په جزیاتو اوعواقبوهم خبرکړي.

د دې خبر په اوربدلو مې زړه ډیرخوشحاله شو.

ځکه دا د اسلامی امارت د مشرتابه لوړ فراست او بې ساري دوراندیشي. په ډاګه کوي .چې د جګړې په ډګرکې د اصلې قربانیانو او هغه چاچې په ویتویې امریکایي یرغل ماتې خوړلې.د نظر اورضایت معلومولوته ارزښت ورکوي .

د نړۍ ستراسلامي تحریکونه په خپله فتحه اوبري کې تر هرڅا زیات د عملي مبارزې قربانیاتوته ډېر ارزښت ورکوي .

په فلسطین کې د اسرایلو پرضد د مقاومت اصلی جبهه د حماس د مقاومت جبهه ده.دغه حرکت په نویمو کلونو کې د خپلې دفاع لپاره په اسرایلوکې یو زیات شمیر فدایي بریدونه وکړل. چې د اسرایلو د پایتخت تلابیب په ګډون یې د اسرایلو ټول سترښارونه ولرزول.

کله چې د مذاکر اتو په پایله کې هغوی د فلسطین په ځینو برخوکې حکومت جوړکړ او د غزه ښار یې پایتخت وټاکه، نو پخپله کابینه کې یې د فدایانو میندو اوپلرونوته ستړي ستړي دندې ورکړې.

د اسلامی امارت مشرانو چې پخپلو کورنیوکې یې هم ستړي قربانی ورکړې او په دی سترجهادي مقاومت کې یې وروڼه،اولادونه اوقربیان شهیدان شوي دي.

دوی ته څکه د شهیدانو د کورنیو درد ښه معلوم دی او د هغوی ارزښت یې ښه درک کړی'په هره ډله'حرکت اویا نظام کې چې د چا د وینو قدر نه وي او د سختو ورځو مبارزینوته پکې ارزښت ورنکړل شي. نو دا د هغه حرکت یانظام د انحراف یا لاره بدلولو مرحله وي، چې بیاپې هدف هم پلورلی وي او د هدف د پیروانو ګونبه کول او پریښودل هم خپله اړتیا ګڼي.

له شکه پرته د جګړې او مقاومت د بریاعملي عاملین وینه ورکوونکي جنګیالي دی. که له دوی نه خدای مکړه صرف نظر وشی نودا به په یوه جهادی مقاومت کې له خپل هدف سره تربل هرڅه سترخیانت اوجفاوي.

هغه کورنی چې د روان مقاومت د بري لپاره یې د کورنیو خواږه غړي او قربان قرباني شوي.

د مقاومت په هره معامله او پریکړه کې د دوي رضایت اوحضور اساسي ارزښت لري.

داچې د اسلامي امارت مشرتابه دغه اساسي ارزښت ته پاملرنه لري. نو دا دمقاومت پرستروالی او ریښتونولی دلالت کوي.

الله دې د اسلامي امارت مشرتابه ته د دې ستر کار دونیوي او اخروي بدله او د لاپرمختګ توفیق ورکړي

امین.

د کندوز چوک د چا لپاره په وینو رنګ شو...!؟

موسی فرهاد

د اګست یودېرشمه د نوي قمري کال په لومړۍ ورځ طالب مجاهدینو د هیواد په شمال کې د ستراتیژیک ولایت مرکز کندوز ښار باندې له ځلورو اړخونو (د کابل بندر، امام صاحب بندر، خان آباد بندر او زاخیلو لخوا) سهارسپیدو مهال برید وکړ، ترغرمې وړاندې یې (د ۳۸امنیتي پوستو په ګډون، د ښاري کندک، شپږمې حوزې، کورنوبیس، ۳صد فامیلي، خاکاني، زاخیل، چرمګري او نورې...) د ښار زیاتره برخې له دولتي ځواکونو ځخه ونیولې.

د طالبانو د وینا سره سم د ٤٠ په شاوخوا کې دولتي عسکر ووژل شول او د ښاري کندک د قومندان په شمول ۱۵ تنه عسکر ژوندي طالبانو ته تسلیم شول.

له ماپښین وروسته په داسې حال کې چې له کابل نه د امریکایي قواوو مشر جنرال جان میلر او د کابل د دفاع وزیر اسدخالد، او نور لوړپوړي چارواکي د کندوز د سقوط د مخنیوي په غرض کندوز ته ورغلل، عسکر یې بهر لارو کوځو ته را وایستل، د کندوز ځلورلاري ته د کندوز امنیه قومندان، (منظورستانکزی) له پولیس او کماندو سرتیرو سره را غونډ شول؛ دغه مهال د یو طالب فدایی لخوا سرتیري برید ورباندې وشو، چې له امله یې رسنیو د قومندان په ګډون د لسو تنو د وژلو خبر ورکړ خو طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وویل: (د دښمن له دننه ځخه د را نقل شوو کره معلوماتو پربنسټ، په دغه فدایي برید کې ۲۵ عسکر د هغو کماندویانو په ګډون، چې له کابل ځخه کندز ته راوړل شوي وو؛ ووژل شول.)

که ځه هم افغان چارواکو تر دې وړاندې اعلانونه کول چې په نږدې ورځو کې په شمال

کـې د پراخـو عملیـاتو پلانونـه لـري، د دوی عملیات خو طبعاً ولس ته مالوم دي چې یا ډندي بمباري کوي او یـا د شپې د خلکو کورونو تـه د تلاشیو پـه نامـه ورلـویږي، هلتـه لـه چـور تـالان وروسـته د خلکـو کورونـه پـه بمونـو الـوزوي او ولسي خلک په بې رحمۍ سره شهیدانوي او یـا یې له ځان سره اسیران کـوي. د دغـه ډول بشـري جنایاتو او وحشیانه عملیـاتو د پراخولـو خبـري د کابل چارواکو کولې، خو د طالبـانو لـه خطرنـاکو پلانونو یې هیڅ ډول معلومات نـه درلـودل، چې طالبان به بې لومړی په کندوز او بیا بغلان کې لـه دومـره سـتري رسـوایی او زیـات خـوږ سـره مـخ کوي، چې د دوی هرڅه طرحې به له خاورو سره ورته خاوري کړي.

پـه هرصـورت خبـره مې د کنـدوز د ځلـور لارې کولـه، پـر خوالـه رسـنیو مې د هغې پېښې تصویري او ویډیویې صحنې ولیدلې چې پـرون د یـادې ځلـورلارې پرسـر پـر دولتـي ځواکونـو د فدایی برید په پایله کې رامنځ ته شوه.

په دغو تصویرونو کې ښکاریدل چې د ګڼ شمیر دولتي عسکرو جسدونه په وینو رنګ یـوې او بلې خوا تـه شـیندلي پراتـه وو. ربښتیا هـم زړه بـدوونکي صـحنه وه، مګـر د افسـوس ور لـه دې امله وه چې آخر، ولې؟

د چا لپاره دغو عسکرو خپل ځانونـه داسـي په وینو رنګ کړل؟ کوم مجبوریت دې ته اړ کـړي وو، چـې د خپـل ولـس پـه لاس ځانونـه داسـي ووژني؟ آخر، څه باعـث و، چې د کنـدوز چـوک یې په خپلو وینو رنګ کړ؟

ښایي خپلو کورنیو به یې هـم د سـکرین پرمخ د دوی په وینـو رنـګ جسـدونه لیـدل کتـل، خو د پوښتنې ګرویږني او ژغورنې هـیڅ تـوان بـه یې نه درلود.

ښایی له کورنیو سره به یې دا سوال پـه زړه کې هـرو مـرو پیـدا شـوی وي، چې زمـوږ دې بچیانو عسکرو خو د جان میلر له ورتګه وروسـته د کندوز چوک ته ځانونو راڅرګند کړل، نـو آیـا د جنـرل جـان میلـر قومنـده، د جـان میلـر ډالـر او د میلر خاطر پـه دې ډول قربانۍ ارزي؛ چې زمـوږ بچیانو خپل وجود د کندوز پـر ځلـور لارې ورتـه تکه تکه کړ،؟

ډېر امکان لري چې د دغو عسـکرو مـور او پلار بـه اوس دا سـوچ کـړی وي چې، آیـا دا ډول مـرګ بـه زمـوږ بچیـانو تـه پـه آخـرت کې پـه ښـه ورڅې او که به په دنیا کې په ښـه نـوم یـاد کـړل شي.؟!

ښایی د وژل شویو عسکرو کورنیو لـه طالبـه خوا بده وي چې زامن یې ورته ووژل، مګـر ډېـره ممکنه ده چې هغوی لـه ځـان سـره د طالـب هغـه پیغام هم سانلی وي چې د دوی بچیانو ته یـې پـه ځلونـو اوروئ،: طالبـانو د بشـري، اسـلامي او وطني خواخوږۍ او اتمام حجت پخاطر له افغـان عسـکرو بلکې ټولـو هغـو مؤظفینـو چـې د کابـل اداړې پـه چوکاټ کې را غونـډ دي، او ټوپـک یـې غـاړې تـه کـړی؛ د نړیوالـو دوسـتانو پـه تنخـوا د هغوی ترامر لاندې د ګران وطن د تباهي سپیڅلی خدمت ترسره کوي!؟؛

له دغو ټولو کسانو نه مطالبه کړي چې نور له دې کاره لاس واخلئ، د امریکا د متاع قلیل لپاره ځانونه مه وژنئ، اولادونه مه یتیمانوئ، میرمني مه کونډیاني کوئ، مینديو او خویندي له خپلو مینو مه بې برخي کوئ، راشئ د اسلامي امارت پراخه عیره تاسو ته خلاصه ده، که مو هغه خوښه نه وي؛ لږ تر لږه پرخپل ځان رحم وکړئ، د امریکایي اشغالګر له دفاع نه لاس پرسر شئ، پخپل کور او کلي کې ځان ته د عزت ژوند غوره کړئ.

طالبانو په وار وار عسکرو ته ویلي چې: یاد ساتئ د طالب دګذار هدف تاسو نه یاست، بلکې اصل هدف هغه یرغلګر دي چې د یهود او نصاراوو په سرپرستۍ کې یوه لویه کتله (الکفرملةٌ واحدةٌ) خلک راغونډ شوي، د افغانستان پر اسلامي حریم یې تجاوز کړی، دا وطن یې داسي اشغال کړی چې ځمکه او فضا ټول د هغوی په ولکه کې قرار لري. مرغه هم د دوی له خوښي پرته په افغان جغرافیه کې ګشت وګذار نشي کولای.

نو په دغسي صورت کې د قرآن د حکم په اساس پر افغان مسلمان لازمه ګرځي چې مقابلې ته یې را ودانګي، نور په دغسي حالت کې غفلت د مسلمان د شان سره مناسب نه وي، مجاهدینو خو همدا فرض عین مسئولیت پر غاړه اخیستی د کفارو مقابلې ته راوتلي، مګر متاسفانه چې افغان عسکر له ځانه د کرایې قاتل جوړ کړی، د ځو ډالرو په بدل کې یې د متجاوزو کفارو په دفاع کې خپل سرونه د مرګ قتلګاه ته وړاندي کړي. دین، وطن، عزت او ناموس فروشي هیڅ ډول عیب هم نه ورته ښکاري.

طالب همیشه پخپل پیغام کې د کابل اداري له سرتیري دا نه دې غوښتي چې پر طالب دې احسان وکړي، بلکي غوښتنه یې کړي چې سرتیری دې پرخپل ځان رحم وکرم وکړي، خپل ژوند دې ترامریکایی اشغالګر نه قربانوي. تاسو خو یوځل خپل دغه بې شمیره قتل عام ته لږ سوچ وکړئ، په کومه ورځ چې تر سل تنه کم ووژل شئ؛ رسنیز چینلونه یې مرګ ژوبله نه ګني، مرګ مو د ماشیني چرګانو غوندي له لسګونو نه سلګونو ته پورته شوی.

مګر له دې سره سره، امریکایی یرغلګر ستاسو په وژنه هیڅ باک هم نه کوي، هغوی فکر کوي چې فقط یو ځو د ډالرو نوټونه ترې غوښتل کیږي، چې بل عسکر ته یې ورکړي، نور د دوی هیڅ نقصان نه کیږي.

دې حقیقت ته په کتو طالب له عسکرجان سره د خپلې وطني او انساني خواخوږۍ پیغام شریک کړی او هغه ته یې د ذلت له مرګ نه د خلاصون نسخه ور ښودلې، نور نو د عسکرجان خپله خوښه، د رحمان لاره نیسي که د شیطان؟! نور یې بیا هم خپله خوښه، د طالب مني که د امریکایي ؟!

نور نو د باقي پاتي عسکرو خپله خوښه، چې د کندوز په ځلورلاره کې دوی هم ځانونه د شیطان میلر په قومانده د نیویارک او واشنګټن د حفاظت لپاره کوپته کوي، او کنه، خپل انساني عقل ته رجوع کوي.؟ خوښه یې...

د يو اسلامي، جهادي حرکت د بريا لپاره

څو بنيادي اصول...!!

ليکنه: موسی فرهاد

د اسلام مبارک دين خپلو پيروانو ته داسی لارښوونی لری چې په تعميل کې يې د دنيوی او اخروی زندگی د فلاح، بهبود او کاميابی راز نغښتی وی. «المؤمن للمؤمن کالبنيان يشد بعضه بعضًا» (بخاري و مسلم)

نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايی: (يو مؤمن د بل مؤمن لپاره د يوې مضبوطی ودانی يا ديوال حيثيت لری، چې ځينې برخې يې ځينو نورو برخو ته تينګښت او مضبوطتيا ورکوی).

أخوت، وروولی، مينه او محبت د يو اسلامی حرکت په ليکو کې داسې حيثيت لری لکه د پخو خښتو د ديوال ترمينځ چې ګچ او سيمټ وی، که د خښتو تر مينځ دا شی نه وی، يوه خښته د بلې سره کوشير نه اخلی او د لږ فشار په صورت کې ديوال له مينځه ځی، پرخپل ځای ثابت نشی پاتې کيدای.

همدا راز کچيری د يو اسلامي حرکت د افرادو ترمينځ مينه، محبت او وروولی نه وی؛ نو يو مضبوط او غښتلی صف نه شی تشکيلولای چې د ستونزو او طوفانو پر وړاندې مقاومت وکړای شی.

همدارنګه په بل حديث شريف کې مسلمانان او يو اسلامی خوځښت له يو بدن سره تشبيه کړل شوی دی، چې د هر غړي په درد او تکليف ټول بدن د تکليف احساس کوی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى" [أخرجه البخاري ومسلم عن النعمان بن بشير]

يعنې، په مينه، محبت او تراحم کې د مؤمنانو مثال د يوه جسد غوندی دی، کله چې يو غړي ته يې

تکلیف رسیږي، نو ټول بدن ورسره په تبه اخته او نا آرامه وي.

د مینې او محبت دا کیفیت ییا د ایثار او قربانۍ لوړې څوکې ته رسیږي چې هلته مسلمان خپل ورور د راحت او ګټې په خای کې د خان څخه مخکې کوي او په تکلیف او تاوان کې پخپله وړاندې کیږي او خپل ورور تکلیف ته نه پریږدی.

اسلامي تاریخ د ایثار او قربانۍ له داسې کیسو څخه ډک دی چې بشري تاریخ یې له مثال راوړلو څخه عاجز او ماده پرست خلک یې تصور هم نه شي کولای.

د اسلامی حرکت په صف او افرادو کې د دغسې مینې وروروڼۍ ایثار او قربانۍ موجودیت د دې ضامن دی چې دا صف د هر طوفان او مشکل مقابله په میړانه او پراخه تندې کولای شي او هیڅ دښمن او د هغه هیڅ دسیسه یې پر وړاندې مقاومت نه شي کولای.

د دې ترڅنګ چې اسلام د یوې پراخې اسلامي ټولنې بنسټیز اصول وړاندې کوي: په عین حال کې یې د هغه نهضت لپاره هم د بریالیتوب لاري چاري ښودلې دي چې د یوې ریښتینې اسلامي ټولنې او نظام لپاره یې هڅې پیل کړې وي.

هغه د جهاد او مجاهدینو نهضت دی چې عملاً د الله تعالی په لاره کې شهه او ورځ ستریاوي ګالي، د اسلام د دښمنانو په وړاندې جهاد کوي.

څرنګه چې جهاد په مأموربه احکامو کې ترټولو مهم عبادت دی، جهاد د اسلامي احکامو د تنفیذ او دفاع مهمه وسیله او د اسلامي شریعت ستر رکن دی.

نو که واقعاً مونږ غواړو چې د اسلام دغه اهم رکن مو په ریښتیني توګه انجام کړی وي؛ او په دې سره مو جهادي آرمانونه ترسره او د الله په لاره کې ورکړې قربانۍ مو مثبتې پایلې ولري؛ نو باید چې د دغو الهي ارشاداتو سره سم څو لاندې کارونه ترسره کړو:

۱-لومړی خپلې لیکې متحدې او له هرډول اختلاف څخه پاکې ساتل

دا ځکه چې الله تعالی د قرآن کریم په ډېرې آیتونو کې د اسلامي صف پر یووالي ټینګار کړی، تر دې چې د الصف په نوم یې یو مکمل سورة نازل کړی او په هغه کې یې په خاص ډول د جهادي صف پر یووالي ترکیز کړی دی. «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ (٤)»

قرآنکریم په متعددو آیتونو کې مسلمانان د خپلمنځي وحدت په ټینګ ساتلو أمر، او له اختلاف نه یې منع کړي دي.

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْداءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْواناً»

(ټول د خدای ج په رسۍ منګولې ولګوئ او تیت پرک کیږئ مه او په خانو باندې د خدایتعالی

هغه نعمت رایاد کړئ کله چې ټول د یو بل دښمنان وئ نو خدای ج ستاسو په زړونو کښې مینه واچوله پس ټول د هغه نعمت په برکت په خپلو کښې سره ورونه وگرځیدلئ).

له همدې خایه ده چې د جهادي صف یووالی ډېر اړین او اشد ضرورت دی، او د اسلام په مقدس دین کې خاص اهمیت لري. که صف متحد نه وي، نو نه یوازې داچې د کامیابۍ هیڅ ډول چانس نه مونډل کیږي، بلکې د صف تفرق پخپله یوه لویه فتنه او د بد ترین شکست لامل گرزي.

ښه مثال یې زمونږ په هیواد کې د روسانو په وړاندې د مجاهدو تنظیمونو تعدد، تفرق او د هغوی د سترياوو پایله ده .

۲-په خپل مسیر او تګلاره کې ثابت قدم اوسیدل

الله تعالی په قرآنکریم کې د سورۀ انعام په ۱۵۳م مبارک آیت کښې فرمایی: «وَأَنَّ هذا صِراطی مُسْتَقیماً فَاتَّبِعُوهُ وَ لاتَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِکُمْ عَنْ سبیله»

یعنې دا زما نیغه او سیده لاره ده نو پیروی یې وکړئ په کږو او غلطو لارو مه ځئ چې تاسو تیت پرک کوي او له نبغې لارې مو منع کوي.

همدارنگه په سوره هود کې فرمایي:

«فَاسْتَقِمْ کَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَکَ وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِیرٌ...۱۱۲»

یعنی (مستقیم او ثابت قدم واوسه په هغه څه کې چې وربانديې امر شوی یې او هغه څوک چې ستا سره یې د الله تعالی بندګي ته رجوع کړي، او نافرمانې مه کوئ، بیشکه هغه ستاسو د اعمالو خارونکی دی.)

عموماً مسلمانان، په خاص ډول مجاهدین په دې مکلف دي چې پرخپل مسیر ټینګ او محکم و اوسي، خپله لاره بدله نکړي، ځکه چې د لارې بدلولو مانا دا ده چې د الله لاره یې پریښوده او په نورو داسی لارو سر شو چې هغه ټولې د شیطان لارې وي، او د شیطان پر لاره تلل حتمي ده چې سړی د شکست سره مخ کوي، د دنیا او آخرت له ذلت سره یې مخ کوي.

په دې اړه هم مورږ ډېرې بیلګې لرو، د روسانو په وړاندې ډېرو خلکو جهاد وکړ، مګر متاسفانه چې له خپل مسیر څخه د انحراف له امله د متجاوزو کفارو د صف ملګري شول، چې واقعاً دا د مسلمان لپاره ذلت دی. او د کفارو په صف کې دریدل پر دې دلالت کوي چې د آخرت د رسوایئ او ذلت سره هم مخ کیدونکي دي.

۳-نظم، دیسیپلین او هماهنګی مراعت کول

دا اصل ته چونکه د اسلام په مقدس دین کې تربل هر تهذیب زیات اهمیت ورکول شوی؛ لکه چې الله تعالی فرمایی: «إِنَّا کُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ» (هرڅه مو پخپله اندازه پیدا کړي). دا راز په بل آیة کې

فرمایی: «وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» (چا چې له حدودو او اصولو تیری وکړ؛ هغوی ظالمان دي).

مطلب دا چې دا ټول مخلوق الله تعالی په نظم او ډیسپلین سره پیدا کړي. که چیرې د هغه نظم او حدودو نه چې الله تعالی ورته ټاکلي؛ تجاوز وشي، نو د مخلوق په جوړښت کې ګډوډي راځي نو الله تعالی په دې سره خپلو بندګانو ته هم لارښوونه کوي چې تاسو هم خپل بندګي انتظامي امور له نظم او ډیسپلین سره سم عیار کړئ، ترڅو مو په ژوند کې ګډوډي او ناکامي رانشي.

نو لازمه ده چې د اسلام د لاري مجاهدین د دې اصل کلکه پیروي وکړي دا ځکه چې تربل هرچا همدوی نظم، کنترول، ترتیب او ډیسپلین ته ارتیا لري. د همدې نظم په مټ کولای شي چې خپلو اهدافو ته ورسیږي.

نن سبا چې په نړۍ کې هرځای د اشغالګر دښمن په وړاندې جهادي مقاومت روان وي، مور او تاسو یې شاهدان اوسیدلی یو چیرې چې قومنده یوه وي، نظم او ډسپلین ته ورکې پاملرنه کیږي؛ هلته یې عملا ښې پایلې لرلې او د ښمن یې په هجومي عزائمو کې له شکست سره مخ کړی .

ښه بېلګه یې زمور هیواد افغانستان دی، چې د نژدې دوو لسیزو په دې طویله مبارزه کې د یوه قیادت په برکت، د کفارو یو پراخ یرغلګر ائتلاف له خورا تاریخي شرمندګی او ستري رسوایي سره مخ شوی دی.

خو برعکس په کومو هیوادونو لکه په عربي نړۍ او ځینو نورو هیوادونو کې د اشغالګرو او طاغوتي واکمنو په مقابل کې چې مقاومت د یوې قومندې پرځای د بیلابیلو قیادتونو لخوا اداره کیږي؛ هلته نه یواخي داچې د مقاومت د بریالیتوب چانس نا شونی دی؛ بلکې هماغه د متعددو قیادتونو د بې نظمی له امله جهادي صف د خپل منځي اختلافاتو ښکار او مجاهدین یې له مشکلاتو سره مخ دي.

٤-صبر، تقوی او توکل اختیارول

«إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ» [الزمر١٠]

(بیشکه صبرکوونکو ته د هغوی د صبر په وجه بې شمېره ثوابونه ورکول کیږي)

دا دري واړه هغه څه دي چې د مؤمن لپاره د دنیا او آخرت د بریالیتوب اسباب بلل شوي. پر مصائبو باندې زغم کول، له مفاسدو څخه ځان ساتل، له بشري تدبیره وروسته پر الله تعالی باندې توکل محض کول هرو مرو مؤمن خپل منزل مقصود ته رسوي.

په دې کې هیڅ شک او شبهه نشته، ځکه چې الله تعالی په قرآنکریم کې داسې فرمایي: «وَ مَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَايَحْتَسِبُ، وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ، إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ، قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا»

(څوک چې له الله تعالی څخه ویره لري، خدای تعالی یې له هري تنګی څخه د وتلو لاره ورته مهیا کوي، له داسی لاري روزي ورته رسوي چې ګمان یې نه وي، او څوک چې پر الله تعالی توکل ولري، هغه خدای ورته کافی دی، بیشکه چې الله تعالی د خپل کار پوره کوونکی دی خو د هر کار لپاره یې خپله اندازه مقرره کړې) [الطلاق]

همدارنګه فرمایی: «وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ» [الأنفال ٢٦]

(تاسو هغه وخت دریاد کړئ چې لږ وئ او په خمکه کې کمزوری کړل شوي وئ، تاسو ویره درلوده چې خلک به مو برمته او محوه کړي، پس الله تعالی تاسو ته پخپل نصرت سره پناه او مأوی درکړه، له حلالو او پاکو شیانو څخه یې روزي درکړه، ښایی تاسو شکر وباسئ).

په پورتنیو آیتونو کې ښکاره پیغام دی چې د نجات او فلاح لاره یوازې له خدایه ویره، د هغه له لوري پر امتحاني مشکلاتو باندې زغم او پر همغه ذات باندې خالص توکل او اعتماد کول دی. که څه هم تاسو به کله نا کله د دښمن لخوا کمزوری کړای شئ، ناوسه او ناهیلي به شئ، مګر بیرته به همغه الله تعالی د نجات لاره درته پرانیزي که چیرې تاسو وربانديې باور ولرئ.

٥-شعوري او عملي اطاعت کول

په جهاد کې د امیر اطاعت له هغو أساسي ضرورتونو څخه دی چې د جمهورو فقهاؤ له نظره د أمیر موجودیت او د هغه اطاعت د جهاد لپاره حتمي او آساسي شرط بلل شوی دی.

د اسلام دویم خلیفه آمیرالمؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله څخه روایت دی چې وایی: «لَا إِسْلَامَ بِلَا جَمَاعَةٍ، وَلَا جَمَاعَةَ بِلَا أَمِيرٍ، وَلَا أَمِيرَ بِلَا طَاعَةٍ» (له جماعة او ډلې پرته اسلام نشی راتلی او نه جماعة پرته له امیره موجودیدلای شي او نه امیر ترهغو امیر بلل کیږي چې اطاعت یې ونشي).

د أمیر د اطاعة په اړه د الله تعالی واضح حکم داسی دی: « وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ» [الأنفال ٤٦]

یعنی (د خدای او د هغه د رسول فرمانبرداري وکړئ، خپل منځي شخړي مه کوئ، چې وبه پاشل سئ او خواک به مو ختم شي، صبر وکړئ، بیشکه الله تعالی د هغه چا مرسته کوي چې صبر کوونکي وي).

همدارنګه د أمیر د حکم لزوم په احادیثو کې هم خورا ډېر اړین ګڼل شوی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَمَنْ يُطِعْ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي» [رواه مسلم]

(له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دي نبي کریم ﷺ وفرمایل: چاچي زما اطاعت وکړ؛ هغه د الله تعالی اطاعت وکړ او چا چي زما نافرماني وکړه پس هغه د الله نافرماني وکړه او چا چي د امیر اطاعت وکړ، هغه زما اطاعت وکړ او چا چي د امیر نافرماني وکړه گویا هغه زما نافرماني وکړه).

اطاعت یوازي دا نه چې په ښیګڼه کې به وی او په ستونزو کې به تري ځان گوښه کوو بلکي په هر حالت کې شریعت هغه لازم بللی، لکه چې د پیغمبرعلیه السلام په یو حدیث مبارک کې راځي چې: «السمع والطاعة علی المرء فیما أحب وکره»

(د حکم اوریدل او فرمانبرداري کول په هر حال کې پر سړي لازمه ده، هغه که یې خوښ وي او یا ناخوښ).

٦-عباداتو ته خاصه پاملرنه کول

ځرنگه چې فرضي عبادات په هیڅ وخت کې مسلمان پریښودلای نشی، که یې پریږدي د ایمان بایللو ویره یې شته، خو د هغه چا لپاره چې د اسلام د دین د تنفیذ لپاره یې هودِ ځرگند کړی وي او د الله تعالی په لاره کې یې خپل سر او ژوند وقف کړی وي؛ نو د هغه لپاره د فرضي عباداتو ترڅنگ د نفلي عباداتو اهتمام هم خورا اړین بلل شوی او د نصرت او هزیمة دپر مواقع ورسره تړلي گڼل شوي دي.

په دې اړه د بیت المقدس فاتح د اسلامي نړی وتلی مجاهد صلاح الدین ایوبي یوه خبره دپره مشهوره او د تاریخ برخه گرزیدلي، ویل کیږي چې نومورې یوځل د شپې مهال راووتی پر یوه خیمه ور برابر شو چې گوري، دننه ورکي خلک پرلانځه ولاړ دي او یا د قرآنکریم ذکر کوي،،، صلاح الدین ایوبی وویل: "من هنا یأتي النصر" نصرت به له همدې ځایه راځي. یعني د دې ډول عبادتگزارو مجاهدینو په وجه به الله تعالی زموږ نصرت کوي او موږ به پر دښمن غلبه مومو.

تر دې وړاندي ولاړې، په بله خیمه کې یې ولیدل چې خلک بیده دي، هیڅوک عبادت کوونکي نه ښکاري، نومورې وویل: "من هنا تأتي الهزیمة" (شکست به له همدې ځایه راځي) یعني د خدای تعالی له ذکر او عبادت څخه همدا غلفت به زموږ مسلمانانو د ماتي او شکست لامل گرزي.

الله تعالی په قرآنکریم کې د داسي مؤمنانو چې د الله په لاره کې یې خپل ژوند وقف کړی وي؛ داسی صفات بیانوي: « تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفاً وَطَمَعاً ...الآیه» [السجدة ١٦]

(دوی هغه خلک دي چې ډډي یې له بسترڅایونو نه جدا وي، له خپل رب څخه د ویري او امید په طمع دعاګاني کوي)

نو په دې کې شک نشته چې د جهاد د بریا لپاره د کامیابی او نصرت بل ستر لامل نفلي عباداتو ته ځانګړي توجه کول دی. که چیرې د مجاهدینو دا اړخ نیمګړی وي، نو حتمي ده چې په یو نه یو شکل به د الله تعالی له نصرت څخه بې برخي کیږي، د فتح پر ځای به یې شکست په برخه وي.

۷-په کارونو کې مشوره او تدبیر لازم کښل

خدای ج په قرآنکریم کې پیغمبرعلیه السلام ته د مشورې کولو امر کوي، «وشاورهم في الأمر» او د هغو مؤمنانو؛ چې پخپلو کې سره مشاوره کوي؛ داسې توصیف بیانوي: «وأمرهم شورى بينهم» (یعنې الله پاک دغه مؤمنان د خپل خان مخلص او ریښتیني بندګان بللی چې پخپلو کارونو کې له یو بل سره مشوره کوي).

نو مشوره کول په اصل کې د کار د پرمخ بیولو ترټولو ښه تدبیر دی. په عربي کې یوه مشهوره مقوله ده چې وایي: [مَن سَاءَ تدبيرُهُ، تَعَجَّل تدمِيرَهُ] (د چاچې تدبیر ناسم وي ګویا د خپل هلاکت بیړه یې وکړه).

که یو څوک کوم کار پرته له مشورې، پلان او تدبیره پیل کړي او یا یې تدبیر کړي وي خو نیمګړی، نو ګویا هغه د خپل ځان د هلاکت، تباهي او ناکامۍ اسباب په خپله ځان ته وموندل.

عبدالملک بن مروان چې د أموي خلفاؤ د سلسلې پنځم واکمن ؤ؛ وایي: [لأن أخطئ وقد استشرت؛ أحب عندي من أن أصيب وقد استبددت برأيي] (که زه په یو داسې کار کې خطا شم چې وار لمخه مې مشوره پکښې کړې وي. نو هغه ماته تر دې محبوب دی چې یو کار پخپله رایه پرته له مشورې ترسره کړم او هغه کامیاب شي).

په دې اړه یو عرب عالم لیکي: [السلامة في التأني و الندامة في العجلة. فالتأني هو التدبير و المشاورة، و أما العجلة فهي الاستبداد والأخذ بالرأي وعدم المشاورة والتفكر في الأمر].

سلامتیا په تأني او پښیماني په عجلة کې ده، تأني تدبیراو مشورې ته ویل کیږي او عجلة له مشورې او تفکر پرته، پخپله رایه کار کولو ته ویل کیږي.

په پای کې باید مختصرًا وویل شي چې له کله نه چې د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې نظم او نسق رامنځ ته شوی او کارونه یې د نورو وختونو په پرتله د ښه تدبیر او مشاورت له لارې ترسره کیږي؛ نو پایلې یې هم خورا ښې خلیدلي دي، مثالونه یې ډېر شته، خو لا هم په دې لاره کې ډېر کار ته اړتیا ده چې باید د اسلامي امارت د نظامي او اداري تشکیلاتو ټول ارګانونه نورهم په مسئولانه او شعوري ډول ورته متوجه شي. چې په همدې کې د د دنیا او آخرت د نجات رمز نغښتی دی.

او زه باور لرم که چیرې د اسلامي امارت مجاهدین د جهادي امسورو د بهبود او پرمختګ پخاطر دغه پورتني اووه واړه ذکر شوي أصول عملي کړي نو دا حتمي ده چې الله تعالی به یې هیڅکله له خپل نصرت، رحمت، او لور پینې څخه محروم نکړي. « وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ ...» [یوسف۲۱]

پای....!

سیبا

د نن په هنداره کې

لیکوال ابواسامه (نیازی)

تاریخي تریخ حقیقت خو دا دی چې د امریکا تر مشرۍ لاندې خونړي کفري استعمار په بېلا بېلو اشکالو زمونږ معنویت، خپلواکي او ارزښتونو د له منځه وړلو په موخه تل هر اړخیز ستراتیژیک پلانونه ترتیب او د عملي اجراآتو لپاره یې ټول شته امکانات په پوره دقت او ځیرکتیا سره کارولي، د کره څېړنو او پراخو مطالعاتو په ترڅ کې موندلي مدارک، شواهد او دلایل په څرګنده ډول دا په ډاګه کوي چې په افغانستان باندې دشوروي اتحاد دیرغل او د هغوی د نظامي قوواو په راتګ کې هم د همدې اوسني امریکایي استعمار لوی لاس و.

امریکا د یوې پراخې ستراتیژیکې خیالي نقشې په ترسیم غوښتل چې یوه داسې جګړه ایزه نندارې ته وړاندې کړي چې له یو لوري خپل پخوانی حریف په یوه اوږده اوډېره زیان اړونکې جګړه کې ښکېل اوپه پایله کې یې دیوې بشپړې ماتې پر مورګو ودروي له بل پلو یې دشوروي د اشغال په وړاندې د مقاومت مختلفو جهتونو ته مشورتي، تسلیحاتي، اولوژستیکي اسانتیاوې برابرولې ترڅوتاکلې موخې ترلاسه کړي خو د دې پلان تر پولوخطرناکه برخه داوه چې استعمار زمونږ پر ایمان او یووالي مین، میرنې، مجاهد او مهاجر ولس یې د (Divide and rule) (سره ویشه اوپرې واکمن شه) له مېتود او نیرنګ څخه په ګټه اخستلوپه څو متضادو ډلو او ګروپونوسره ووېشه، څنګه چې په افغاني خاوره کې رامنځته شوی انساني بحران او ټپل شوې جګړه په حقیقت کې د ناټو او وارسا د تړونونو ترمنځ وه، نو له همغه پیل څخه ددغې کرغېړنې او نارواجګړې طرحه (Design)د امریکا د نظامي استخباراتي شبکې cia

له لوري چمتو او موقعيت يې هم ددوی په سنجول شوي پلان کې په نښه شوی و.

د امريکا د هغه وخت ولسمشر جميکاتر امنيتي سلاکار ژبګينو برژنسکي د هغو اعترافاتو سربيره چې په عامو او ځانګړوځرګندونوکې يې په ډاګه کړي وو چې شوروياني موږ نظامي يرغل ته ولمسول او وموغوښتل چې د وېتنام انتقام په افغانستان له دوی واخلو، همدارنګه د هغه وخت د ملګرو ملتونوعمومي سرمنشي کور دووېز په وينا شورويان افغانستان ته رانه غلل بلکې راوستل شول.

نوله همدې امله موږ هم د هېواد د بقا او ساتنې په نيت د اسلامي مسوليت او افغاني رسالت پر بنياد د خپلو ديني علما کرامو د خطبو او وينا پر مټ د شرعي احکامو او اسلامي ارشاداتوسره سم د نشت سره پر برابرو امکاناتو د نړۍ د ډېرمجهز او غښتلي متجاوز قوت پر وړاندې په پوره يووالي خپله مبارزه د دوه لويو موخو ازادي او ترځنګ يې د يو رېښتيني اسلامي نظام د ايجاد او قيام لپاره پيل او د مليونونو انسانانو په شهادت او د هېواد په هراړخيزه توګه په کنډواله کېدو او په ټوله کې ديوې لويې او پراخې تباهۍ وروسته د وارسا بلاک د خپلې منحوسې مفکورې سره يوځای د افغانانو پر وړاندې د خپل مرګ وروستۍ سلګۍ ووهلې او ونړېد، لښکرې يې ګډې وډې اقتصاد يې له کامل رکود سره مخ او حيثيت يې د يو بې ساري نظامي قوت په توګه د نشت سره برابرمحاسبه شواو افغاني ګوډاګي اندېوالانو يې هم دخپل ژوندله شرمه ډکې صحنې او د ذلت لحظات اوشرايط تجربه کړل.

شورويان (روسان) مو وشړل ازادي ترلاسه شوه خو د ازادۍ د ساتلو دقيق اهميت راته له همغه پيله په سمه توګه نه و تشريح شوی او همدارنګه د يو راتلونکي مسوول نظام د اداره کولو لپاره استعمار او اندېوالانو يې زموږ ملت په فکري لحاظ په تيارو کې ساتلی و او امريکا ته هم يواځې د خپل حريف اوسيال ماتولو ډېر ارزښت درلود چې دا په واقعيت کې زموږ د يې دريغه قربانيو څرګند سپکاوی و او په لاس راغلې ازادي مو د نړيوالو استخباراتي شبکو د پراخو لاسوهنوله امله دکورنيو جګړو په بنه په لويه کچه د امريکايې ډالرو په زور په هيواد کې دوام وموند او محصول يې د خونړي انارشيزم د هغو بې لارې جنايي باندونو واکمني او بدحالت و چې د هېواد ټول مناطق د همدې بې بندوباريوله امله پر يو سورتنور بدل شوی وو او د ګرم ساتلولپاره يې بيا هم د ملت د ټولواقشارو نه د سونګ د لرګيو (خاشاکو) په څېر ګټه پورته شوه او د يو رېښتيني اسلامي نظام د راتګ لپاره هم کلونه تېرشول.

له بده بخته د يادو بې کچې قربانيواو ورانيوامتياز لرونکي د مسلکي کادرونو (کډرونو) تر عنوان لاندې بيا هم هغه منفور کمونستي افرادشول چې ملت يې د پراخې تباهۍ ترځنګ له هر ډول حقوقو بې برخې کړی و دشوروي د اشغال د

وخت یو بانفوذه شخصیت وایي چې: ما د جهادي تنظیمونو له رهبرانوسره خورا صمیمي او نږدې روابط درلودل او د خپل مسولیت له مخې مو دوی ته په ډېروناستوکې په تکراري ډول دا ویل کوم ورونه چې د فزیکي جګړې وړتیا لري هغه دې له دښمن سره په مخامخ جګړه کې برخه واخلي او هغه څوک چې کشران دي او یا د جګړې لپاره مناسب نه دي دوی باید په لوړه کچه پوهه ترلاسه کړي او د ننني عصر د ټولو زده کړو او د تخنیک اړوند لازمو وړتیاوو سره دې اشنا شي ګټه یې دا ده کله چې اسلامي انقلاب بریالیتوب ته رسیږي نو موږ هیڅکله هم نه اړ کیږو چې د نورو غیرې اسلامي لوریو (جهتونو) سره د نظام د چلولو پر سر معامله وکړو خو د شرق نامتوعالم او نابغه سید جمال الدین (افغان) په وینا: افغانانواتفاق کړی چې اتفاق به نه کوو دوی له ماسره تر اخره په دې مثبت ټکي توافق ونکړ او نتایج مو هم ولیدل که د شرق اوغرب ټول مطبوعاتي ارشیفونه وکتل شي موږ دا دومره سترې پرونۍ اوننني قربانۍ دیوریښتیني اسلامي نظام دراتګ لپاره وړاندې کړې او ان شاء الله د ملت دا هیله نوره په پوره کېدو ده ځکه نن هم د پروني وارسا تړون د استازي متجاوز شوروي (روسي) قوت په څېر د امریکا په مشرۍ د ناټو یرغلګر ایتلاف او تړون هم د افغان غیور ملت د پراخو قربانیو له برکته د خپل وجود د مرګ وروستۍ سلګۍ وهي موږ باید د یو مهذب ملت او ویاړلي جهادي بهیر په توګه (صبادنن په هنداره کې) اوګورواو دا زمونږ ستر ایماني مکلفیت هم دی.

تجربو په ډاګه کړې چې په بنیادي تصامیموکې لږ او کوچنی غفلت هم ویجاړه ونکي عواقب له ځان سره لري په طبعي ډول دیوې اغېزمنې اداري دجوړښت اوسمون لپاره هغه چاته ډېره اړتیا لیدل کیږي چې کاري وړتیا او فکري ځواک ولري که څه هم دافغانستان اسلامي امارت اړوندو اداراتو په دې برخه کې تر یو بریده کار هم کړی او لا هم دوام لري خو دا هڅې باید لا ډېرې او د هیواد په کچه پراختیا ومومي نو له همدې سببه په خورا ادب وړاندیز کووم چې راځئ د ملت ټول اقشار په ګډه د مشترک هدف د یو ریښتیني (اسلامي نظام) د ایجاد او قیام لپاره د خپل مکلفیت له مخې د افغانستان د اسلامي امارت د رسمي او اړوندو ارګانونوسره په بشپړه همغږۍ د کاري وړتیا او فکري ځواک هغه متدین، مسلمان او مخلص تیت اوپرک کادرونه سره منظم، حمایه او منسجم کړو ترڅو د راتلونکو مسولیتونو لپاره یې له استعدادونو، کاري وړتیاوو او په کاري ساحه کې یې له عملي تجربو په سمه توګه ګټه پورته شي له دې پرته د نن کوچنی غفلت به مو هغه تېرې تېروتنې بیا تکرار کړي چې د پرونیو قربانیو امتیاز اخستونکي مو منفور کمونستان او د ننني پراخو او بې کچې قربانیو امتیاز اخستونکي مو شرمېدلي دیموکراتان او بې وجدانه ټکنوکراټان شي.

د کندوز او بغلان بریدونو

د کابل رژیم وړتیا وننګوله!

لیکوال: م.جمیل باور

څو ورځې وړاندې سهار وختي د اسلامي امارت قهرمانو مجاهدینو د ځلورو خواوو څخه د کندوز ولایت په مرکز اتلوال بریدونه پیل کړل، د ښار دفاعي پوستې یې سقوط کړې او په ډیره چټکۍ یې د ښار په لور پرمختګ وکړ.

د مجاهدینو هدف د ښار مینځ ته ننوتل نه و، بلکي موخه یې دا وه ترڅو د کندوز د مرکز له ځلورو خواوو څخه د دولت نظامي مراکز او پوستې ورټولې کړي، عسکرو ته خاني تلفات ور واړوي او وسلې، مهمات او وسایط ترې ترلاسه کړي.

د یادو دښمن ځپونکو عملیاتو په ترڅ کې د دوښمن ۴۳پورې عسکرو او پولیسو ته مرګ ژوبله ورواوښته او د شهري کنډک دقومندان په شمول یې ۱۵تنه عسکر او پولیس ژوندي ونیول شول.

د عملیاتو په ترڅ کې د شهري کنډک، شپږمې حوزې اوکورونو بیس په شمول ۳۸ پوستې، امنیتي مراکز او سنګرونه نیول شوي چې له املې یې د کندوز ښار اړوند د سه صدفامیلي، خاکاني، زاخیل، چرم ګري، د کابل بندر او خورا نورې ډیرې پراخه سیمې د مجاهدینو ترکنترول لاندې راغلې.

په دغو جګړو کې (۱۱)عرادې رینجر موټر،هاموي ټانکونه،لسګونه میله سپکې او درنې وسلې او ډول ډول مهمات هم مجاهدینو ولجه کړل.

د برید په ورځ مازدیګر مهال د کندوز په مرکزي چوک کې د ریژیم په ملیشو یوفدایي برید هم ترسره شو چې د امنیې قومندان په ګډون پکې لسګونو اجیرو عسکروته مرګ ژوبله وواوښته او۲۵هغه کمانډو عسکرهم ووژل شول چې له کابل څخه کندوز ته د عملیاتو دمهارکولو لپاره راغلي وو.

د هیواد شمالي ستراتیژیک ولایت کندوز پخوا تردې هم دوه ځله داسلامي امارت دمجاهدینو لخوا نیول شوی و او که مجاهدینو غوښتلی داخل یې هم په ډیره اسانه توګه ښار نیولی شوای.

د کندوز برید لا پای ته نه رسېدلی، چې مجاهدینو د بغلان ولایت مرکز پلخمري باندې برید وکړ، دې غلیم ماتونکو بریدونو وښوده چې د کابل مخ پر زوال ریژیم هیڅکله د مجاهدینو د بریدونو مخه نه شي نیولی او د اسلام او هیواد دوښمنان به تل له ماتې او رسوایي سره مخ کیږي ان شاءالله.

دا بریدونه داسې مهال کیږي، چې د ملابرادر اخند په مشرۍ د طالبانو د قطر سیاسي دفتر استازي هڅه کوي، ترڅو له سیاسي لارې هم د اشغال پای ته رسېدو ته لاره هواره کړي.

امریکایان هم اوس دې نتیجې ته رسیدلي چې افغان جګړه نشي ګټلی او له نور مالي او ځاني زیان څخه د خوندیتوب لپاره یې د زلمي خلیل زاد په مشرۍ هیئت هڅه کوي، له افغانستان څخه د وتلو لار پیدا کړي.

طالبان او امریکایان دواړه مني چې په خبرو کې د پام وړ پرمختک شوی او زلمی خلیزاد کابل ته راغلی، چې د کابل رژیم مشران له طالبانو سره د موافقې په جزئیاتو خبر کړي.

افغان حکومت چې وار دمخه له سختو فشارونو سره مخ دی، دا دی اوس ترې د دوی په اصطلاح نړۍ والو دوستانو هم لاس اخیستی او د کډې یې بار دي.

د مذاکراتو سره یوځای

ستر تهاجمي بریدونه څه پیغام لري؟

دقطر پلازمېنې دوحه کې دافغانستان اسلامي امارت نمایندګانو او امریکا ترمنځ د کابو ۹ میاشتو راهیسې د مذاکراتو دروان بهیر نهم پړاو هم پای ته ورسېد چې دواړه لورې تري خوښ دي.

یو لوري هم ناهیلی نه و؛دواړو لورو خپل اطمینان ښکاره کړ اووایي چې موږهو کړي ته نېږدې شوي یو او دېر ژر به یوه نهایي هوکړه رامنځته شي.

دا چې دواړه لورې یوې حتمي معاهدې ته ډېر لېواله ښکاري نو شاید لسم پړاو ډېر ژر پیل او داسې حتمي ټرون پکې رامنځته شي چې په نتیجه کې یې دګران هېواد اشغال پای ته ورسېږي او پرموږ مسلط شوی جنګ ختم شي.

ددې ټرون رامنځته کېدل به ددواړو اړخونو لوبه کامیابي او د امریکا او افغانانو دواړو لپاره به له ځانه سره ډېرې ګټې ولري.

داشغال او داشغال سره د ټرلو ټولو بدبختیوو خاتمه او دافغان ولس دهیلو سره سم دهېواد خپلواکي،ازادي،ثبات،سوکالي او دلته پرعدل او انصاف ولاړ اسلامي نظام قیام هغه عالي اهداف دي چې افغان ولس یې دحصول لپاره په تېرو ۱۸ کلونو کې ډېرې ستړې قربانۍ ورکړې نو دا عالي اهداف چې اوس له اسانې لاړې ترلاسه کېږي بې له شکه چې دا به ددې ولس لپاره ډېره ستره لاسته راوړنه او ډېر لوي بریالیتوب وي ځکه خو ټول افغانان ددې ټرون درامنځته کېدولاړې څاري ؛ ورته ډېر تلوسه کې دي ؛ پرې ډېر خوښ دي اوددې هلوځلونه پس په ولس کې داسلامي امارت محبوبیت،اعتماد او اعتبار لاپسې زیات شویدی.

او بې له شکه چې ددې ټرون رامنځته کېدل دامریکالپاره هم یوه ستره لاسته راوړنه ده ؛ هغه جنګ چې امریکایانو پکې خپل زرونه نازولي بچیان وبایللل؛ دامریکا ددفاع وزارت په وینا ۵ بیلیونه ډالر یې پکې ضایع کړل دا بې ګټې جنګ به پای ته ورسېږي؛دیو کمزوري هېواد او غریب ملت اشغال ته ددوام ورکولو او دلته هره ورځ دمظلومو افغانانو په کورونو، ښوونځیو، کلینیکونو، جوماتونو، مدرسو او دخوښۍ او دغم په مراسمو درندو بمبارېو او په

نتیجه کې یې دیې ګناه انسانانو دوژل کېدو له امله یې چې ورځ تربلې په نړۍ کې بدنامي زیاتېږي او اعتبار له لاسه ورکوي دبدنامۍ زیاتوالي او اعتباربایللودا لړۍ به یې هم ودرېږي.

نو دواړو لوروته د خورا ګټور ټرون درامنځته کېدو په دې حساس وخت کې چې ځنې امریکایي مشران دخپلو خواکونو دپاتې کولو یا استخباراتي حضور داسې نامسئولانه اظهارات کوي چې ددې ټرون درامنځته کېدو په وړاندې موانع ایجادوي دا دامریکا اعتبار او حیثیت ته ډېر تاوان رسوي او په اړه یې بې اعتمادي زیاتېږي نو امریکایي مشران باید له داسې اظهاراتو ډډه وکړي او د جانبینو ترمنځ درامنځته شوي اعتماد فضا خرابه نګړي.

مورچل دخپل دښمن په مقابل کې په مادي لحاظ خپله کمزوري منو اوتري انکار نه کوو؛ داشغالګرو په مقابل کې دجنګ ډګر کې دبریالیتوب له امله مورچل دمغرور کېدلو حق نه لرو نو ځکه نه دخپل قوت او طاقت خبرې کوو او نه هم دښمن ته پیغورونه ورکوو بلکې وایو چې دا ستر دښمن راته الله تعالی راځملاوه او محض دالله تعالی په مدد، فضل او مهربانۍ موددې ستر دښمن په مقابل کې فتحه په نصیب شوه.

هو! مورچل پدې پوهېږو چې دجهاد په نوم دالله تعالی دسپېځلې فریضې دژوندۍ کولو په برکت الله تعالی مهربانه شو او دا لویه فتحه یې زمورچل په نصیب کړه؛په سیاسي ډګر کې زمورچل دکامیابۍ اصل لامل هم دهمدې مقدسې فریضې ژوندي کول او پدې ډګر کې بریالیتوب دی.

مورچل چې ددښمن په مقابل کې دټولو کامیابیوو او ددښمن دټولوشرونونه دنجات اصل لامل همدا جهاد بولو نو مورچل یې قدر اومقام هم پېژنو.

مورچل غواړو چې خامخا یو نهایي ټرون رامنځته شي او پدې پوهېږو چې دا مو هر اړخیز لوي بریالیتوب دی خوکه خدای مکړه امریکایان په خپلو کړو ژمنو وندربدل او دا ټرون رامنځته نه شو نو داشغالګرو او داشغالګرو دګوډاګیانو په مقابل کې به مورچل خپل جهاد ته ادامه ورکړو؛ زمورچل مبارزه دمادي اهدافو لپاره نده نوځکه خو دسیاسي هلو ځلو تېزوالي او پدې ډګر کې بریالیتوبونو زمورچل عسکري میدان نه یواځې دا چې ندی سورچل کړی بلکې لا زیات ګرم شویدی؛ مجاهدینو په کندز،تخاراو بغلان کې پرسترو بناروتو تهاجمي عملیات وکړل او دهبواد په مختلفو ولایتونو کې یې زیات عسکري مرکزونه او پوستې فتحه او فراخې سیمې ددښمن دشتون نه پاکې کړې.

دمجاهدینو دې تهاجمي عملیاتو او سوبو له ځان سره دا پېغام ولاړه چې که چېرې امریکایان په خپلو کړو ژمنو وندربدل او یو نهایي ټرون رامنځته نه شو نو مورچل ته دجهاد لار خلاصه ده؛ مورچل وسلې پرځمکه ندي ایښي او نه دجهادنه ستړي شوي یو،دښمن ته په دې ډګر کې دبل هر وخت نه دزیات تاوان وراړولو توان لرو او له همدې لارې دښمن تېښتې ته اړ ایستلای شو دا اوس پردوئ ده چې زمورچل دهبواد نه دتللو اسانه لار انتخابوي او که له تاوانونو ډکه شرمونکې لار ؟

محسن پکتین

د قوي موقف اصطلاح د ارګ د ویاند په خوله؟!

ورمه ورځ په کابل کې خبریالانو ته د ارګ د ویاند له خولې ور وټلې چې حکومت به له طالبانو سره له قوي موقف څخه خبرې کوي، ښايي نومورې تر روزنه لاندې د ارګ مذاکره کونکي تیم پر همدغه روزنه د پوره داد او اتکاء پر بنسټ او هغې ته د بشپړې خوشبینې له اُمله یاد تګې په ژبه راوړې چې تازه باورې دولتي سرچینې وایي له طالبانو سره په بین الأفغاني ناستې لپاره دغه تیم ته د المان بېرګاف په نوم بنسټ له غربي دیموکراسي څخه دفاع په موخه روزنه ور کوي.

خو اوس د دا ډول روزنو وخت تېر دی، لومړی خو طالبانو بهغې د یوې اداري په حیث د ارګ استازي نه خپلې کوې ناستې ته پرې اینبي او نه به یې پرېږدي، چې ابوظبي کې یې د پلاوي او بیا د مسکو په ناسته کې د پر اصطلاح سولې شورا مشر او مسکو کې د افغان سفیر برخلیک یې ښې ښلګې دي چې اوس هم د غې په اعتراف د تاکلې پلاوي د غړو نومونه له دې وجې نه اعلانېږي چې د طالبانو له لورې د ابوظبي په تېر څل ناستې پسې دا ځل بیا د طالبانو له غېرګون سره مخ نشي.

او بیا هغه څه (دیموکراسي) چې دوی یې په اړه روزنه ترلاسه کوي تر دېره ښايي د افغانانو خپلمنځې ناستې په اجنډا کې نه وي، ځکه د دې ناستې که د طالبانو اړخ واخلو نو هغوی خو د یو نظام له موقفه له خپلو هېوادوالو سره دغه ناسته ترسره کوي او د دوی په نظام کې دیموکراسي ته ځای نشته، او که د ناستې دوهم اړخ افغان سیاسیون او نورو ګډونوال واخلو نو هغوی هم د مسلمان ملت له منځه د افغان او اسلام حیثیتونو په درلودلو او په تېر کې د دیموکراسي راوړیو بد مرغیو ته پر کتلو سره په هیڅ ډول دیموکراسي نه غواړي، نه یې مني او نه یې هم له مذهب، کلتور او عقیدې سره اړخ لګوي چې پرې بحث وکړي.

نو د ارګ تیم د دیموکراسي موضوع به یکې د هیڅ بحث ور نه وي، بلکې لا هغه یو دریم لوری او خپله د ناستې له اجنډا او بیا تالاره باسي، سړی نه پوهېږي چې د ارګ تیم له المان څخه د مذاکرې روزنه

ترلاسه کړي اجنډا يې هم بېله وي نو ايا ناستي ته هم د المان په استازيتوب ورځي که څنګه؟!.

د نورو پر وړاندې قوي موقف هغه وخت منځته راتللای شي چې يوځوك په خپله نه يواځې پرځان بسيا بلکې لا ښه ځواکمن او نه ماتېدونکی هم وي، له همدې اُمله د قوي موقف اصطلاح د طالبانو لپاره د خليلزاد په مشري د امريکا ۱۱ کسيز مذاکراتي ټيم او د هغې د باندېنيو چارو وزير پامپيو کارولې او د دوی د اعتراف تکی شوه چې ويل يې طالبان له يو غښتلي او قوي موقف څخه مذاکرات پرمخ وړي، له هغه را وروسته دغه اصطلاح ډېره پراخه کارول کېږي، تردې چې اوس د ارګ د وياند خولې ته هم ورغله.

خو څوك چې حق د مذاکرې وړتيا نلري او روزنه يې هم د پرديو په لاس کې وي، مذاکرې ټيم په مياشتو له دې وېرې پټ ساتي چې داسې نه د ټېر ځل ترخه تجربه بيا تکرار او طالبان يې ناستي ته پرېنږدي، په خپل اعتراف له پرديو پرته يوه اونۍ هم د مقابل ارخ په وړاندې نشي درېدلای، مخ پر تېښته امريکايانو ته په بيا بيا زاري کوي چې مه راځخه تېښتې مور د خپل ملت رحم ته مه پرېږدئ خو بيا هم ترې پر تلو وي، يواځې د جګړې رول ورکړل شوی وي چې پر مظلوم ولس وحشتونه ترسره کړي او د پرديو هغه توجيه کړي، له طالبانو سره خبرو کې ګډون يې په ورکړل شوي رول کې نه (منروي)وي، سلاکاران يې په يوه او هغه پر بله وي او...او... د مذاکرې بڼې کوم موقف لرلای نشي قوي موقف خو لا څه کوي...

د واشنګټن او هغه ټه منسوب اسلام (ديموکراسي) ساتنې لپاره ارګ په خپل اعتراف يواځې په څلور نيم کاله کې ۱۵۰۰سرتېري او سر بېري له لاسه ورکړي چې اوس يې شمېره ۶۰۰۰ته لوړه شوې، له ۵۰زياتو هېوادونو کې سفيران اوډيپلوماټيك پرسونل!! لري، همدارنګه له طالبانو سره د خليلزاد پرلپسې ۱۰مياشتې ناستو دوام درلود، له هغو پرته هم طالبانو جلا او خليلزاد جلا د يوشمېر هېوادونو له چارواکو سره ډيپلوماټيکي ناستې درلودې او د افغانانو هم دوه خپلمنځي ناستې ترسره شوې، امريکا له طالبانو سره موافقې ته ورسېده، د طالبانو او افغان سياسيون همغږي را منځته شوه، طالبانو له ګڼ شمېر هېوادونو سره ډيپلوماټيکي اړيکې ټينګې او ډيپلوماټيکه راشه درشه يې برحاله کړه

خو ارګ او پرې راغونډ جنسي- رشوت خواره چې پر ځان پوهېدل او خپل پتلونونه يې پرځان راکشول دا هرڅه تري تېر و، لا تر اوسه هم د واشنګټن او ديموکراسي څخه تش پر خوله دفاع لپاره څه نلري، يواځې د بېرګاف له المانې بنسټ څخه د دوه اونۍ کورس ويلو نو وخت پاتې و.

له طالبانو سره د ارګ دا دول خيالي ناستې او د دربار (واشنګټن) يې بايللې موقف بيا هم د هغه د څوکيدار په حيث د اونيزو کورسونو له لارې درلودلو تمه او انګېرنه خيال است ومحال است و جنون، واشنګټن هم چې له خپلې پخې ډيپلوماسۍ!! سره تښتې همدغه موقف يې بايللې، نو ارګ په دا دول څرګندونو هم پر ځان پورې خلك خندوي او هم واشنګټن سپکوي.

د اسلام غزوات او سرلیکونه

دمکې مکرمې عظیم الشانه فتح

دمکې سوبې وروستی برخه

□ په تیر پسې

□ ابوظهیر

د دابي لهب دزامنو [عتبه او معتب] ایمان راوړل:

له حضرت عباس رضی الله تعالی عنه روایت دی؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمکې فتح کولو لپاره راغی نوماته یې وفرمایل:

ستا دواړه وریرونه دابي لهب زامن (عتبه اوعتیبه)چیرته دي ، ماته په نظر نه رازي هغوی دواړه چیري دي؟

ماعرض وکړ:

د قریشو کوم مشرکان چې پټ شوي، هغوی دواړه هم له هغوی سره لاړدي.

رسول الله صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل هغوی دواړه ماته راوله.

زه درسول الله صلی الله علیه وسلم دارشاد وروسته [عرنه] خای ته لاړم او له هغه خای نه مې دواړه له خان راوستل او درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې مې حاضرکړل، دواړو اسلام قبول کړ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس یې بیعت وکړ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته شو او دواړه یې له لاسو ونیول دکعبې دروازې ته نژدې ملتزم کې ودریدل او تړویره خنده پورې یې دعاغوښته،بیا له هغه خای نه بیرته په داسې حال کې راغی چې په مخ کې یې دخوښۍ نښې ښکاریدې.

حضرت عباس رضی الله عنه وایي؛ ماعرض وکړ؛

الله تعالی دي تل تا! خوشال ولري ، ستا په مخ دخوښۍ نښې وینم

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

ما دخپل رب نه داغوښتنه وکړه چې دا دخپل تره دواړه زامن [عتبه اوعتیبه] ماته راوښښه! نو الله تعالی دواړه ماته راوښښل او دواړه یې راته هبه کړل(الخصایص الکبری ۱توک، ۲۴۶مخ)

دمعاویه [رضي الله عنه]اسلام راوړل:

ځینې وایي: معاویه رضی الله عنه دمکې دفتح په ورځ اسلام راوړی، خو صحیح داده چې دحدیبیه صلحې نه وروسته یې اسلام راوړی و، لیکن خپل اسلام یې پټ ساتلی و، او دمکې دفتح په ورځ یې ښکاره کړ.(اصابه ۳توک ۴۳۳مخ)

أم المؤمنین أم حبیبه بنت ابي سفیان رضی الله تعالی عنها دحضرت معاویه رضی الله تعالی عنها خوروه، شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکلي: څنګه چې دمور وروڼه ماما ویل کېږي، نو حضرت معاویه رضی الله عنه هم [خال المؤمنین] راځي، یعني دټولو مؤمنانوماما ...اوځنګه چې د درسول الله صلی الله علیه وسلم د[اهل بیتً او ذوی القربی] سره محبت په مؤمنانوفرض اولازم دی ، دغسې- درسول الله صلی الله علیه وسلم دخسرګنې ،دترونوزامنو اوخپلوانواحترام او محبت هم فرض اولازم دی

مولانا کاندهلوي وړاندې لیکي:

ابوسفیان بن حرب درسول الله صلی الله علیه وسلم د[زوجه مطهره أم حبیبه رضی الله تعالی عنها]پلار او معاویه دام حبیه رضی الله تعالی عنها وروردی، دهغه سره محبت لرل فرض دي، او ورسره کینه اوعداوت لرل حرام دي، او داسلام نه وړاندې چې هرڅه شوي هغه ټول بنبل شوي او داسلام راوړونه وړاندې خبرې یادول دقران وحدیث له مخې په قطعي توګه ممنوع دي(سیرة المصطفی دریمه برخه ۸۰۶مخ)

دبوت خانو دنړولو لپاره سرایا استول:

دمکې دفتح نه شاوخوا ۱۵ ورځې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې مقیم و، کوم بوتان چې په خانه کعبه کې و، هغه یې مات کړل، او اعلان یې وکړ:

مَن کَانَ یُؤمِنُ بِا اللهِ والیومِ الاخرِ فلایدعُ فِی بیتِه صَنما

ژ: څوک چې په الله، او داخرت په ورځ ایمان لري هغوی دي پخپلو کورونوکې بوتان نه پریږدي.

کله چې مکه مکرمه دبوتانو څخه پاکه شوه اوټول بوتان مات کړای شول نو دمکې دشاوخوا سیمونه هم دبوتانو نړولو اوماتولو لپاره یې وړې وړې ډلې واستولې.

دعزی اوسُواع نړول:

د هجرت په ۸ کال دروژې په ۲۵مه نیټه رسول الله صلی الله علیه وسلم خالدبن ولید رضی الله تعالی عنه ته دیرش کسان ورکړل او نخله نوم ځای ته یې د[عزی] بوت نړولو لپاره واستاوه ، هغه

خای ته له مکې یوشپه منزل و، او عمروبن العاص رضی الله عنه یې د[سُواع] بوت په ماتولوپسې ولیږه، دا له مکې نه ددې میله په مسافت لرې و،کله چې عمروبن العاص رضي الله تعالی عنه هلته ورسید ، نو دهغه بوت منجاور ورته وویل: ته په څه اراده راغلی یې؟ عمروبن العاص وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم راته حکم کړی چې دابوت ونړوم، منجاور ویل: ته دانشي- نړولی، [سواع خدای] به پخپله ستا مخنیوی وکړي، عمروبن العاص ورته ویل: افسوس چې ته تراوسه په دې باطل خیال کې مبتلی یې، ایا دا اوري او ویني چې ما منع کړې، په دې سره یې په هغه ګذار وکړ، اوپاش پاش پریوت او منجاورته یې وویل: تا ولیدل ؟؟

منجاور دهغه په پاش ، پاش لیدو سره سملاسي مسلمان شو او ویې ویل: اسلمتُ لِلهِ

ما دالله تعالی لپاره اسلام راوړو

د مناة نړول:

اودروڼې په ۲۶مه نیټه یې سعدبن زیداشهلي دمناة بوت دنړولو لپاره [مشلل] نوم خای ته ولیږه او ورسره شل سپاره یې واستول

غرض داچې دروڼې مبارکې تولې میاشت یې دبوتانوپه ماتولو یعنې دخدای تعالی زمکه دکفروشرک دنجاست نه په پاکولو کې تیره شوه

دشوال په میاشت کې محض داسلام دتبلیغ لپاره دري نیم سوه مهاجرین او انصاردخالدبن ولید په مشری کې [بني خذیمه] لورته ولیږل، څوک چې [یلملم] ته نژدې د[غمیضاء] په نوم دیو ډنډ په غاړه اوسیدل، خالدبن ولید لاړ هغوی ته یې داسلام دعوت ورکړ، هغوی دډار په وجه په ښه توګه داسې ونشوی ویلی چې موږ مسلمانان یو، ویلي:

صَبأنَاصَبَأنَا ژ: موږخپل پخوانی دین پریښود

خالدبن ولید دا کافي ونه ګڼله، دهغوی نه یې څینې قتل کړل اوځینې یې ونیول، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هغوی راوستل او واقعه یې بیان کړه نورسول الله صلی الله علیه وسلم لاسونه پورته کړل دوه واره یې وویل:

اَللّٰهُمّ اِنی اَبرَأُ اِلَیکَ مِمّاصَنعَ خالد

ژ: اې الله ! زه دهغه نه بالکل بري یم کوم چې خالد کړي (بخاري وفتح الباري ۸ټوک ۴۵مخ)

بیا یې حضرت علی رضی الله عنه ته پیسې ورکړې او بنوخذیمه ته یې ولیږه، څو هغوی ته دیت ورکړي ، حضرت علي رضی الله عنه لاړ، هغوی ته یې دیت ورکړ، کله چې پوره تحقیق وشو او دادیې راغی چې دچا دیت ندی پاته، نو کومې روپۍ چې پاته وې هغه یې هم احتیاطاً په هغوی تقسیم کړې بیرته راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې تولې قیصه بیان کړه ، رسول الله صلی الله ډیرزیات خوشال شو او ویې فرمایل:

اَصَبتَ وَاَحسَنتَ زرقاني ۳ټوک ۳مخ)

نوربیا...

د حافظ مولوي

حمد الله قانت تقبله الله

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

م نقیب الله حامد

دا چې اسلامي امارت د شهیدانو کور دی، د دې کور هر (مشر-او کشر-) وګړی د اعلاء کلمة الله او اسلامي نظام د حاکمیت لپاره د سر قربانی په نذرانه منلې، ځینو یې دغه نذرونه پوره کړل او د شهادت په جام سیرابه شول، او ځینې نور یې ورته د یوې لویې نېکمرغۍ په توګه د انتظار شېبې شماري او غواړي خدای ج ته خپل منلي نذرونه ور پوره کړي (فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَ مِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ) ، د شهیدانو له جملې یې اتل شهید مولوي حمدالله قانت هم دی.

زوکړه او زدکړې: شهید مولوي حمدالله قانت تقبله الله د مرحوم حاجي غلام رسول زوی په ۱۳۶۹ لمریز کال د میدان وردګو ولایت جلریز ولسوالی د زیولات سیمې د سیدخیلو کلي په یوه متدینه کورنۍ کې سترګې وغړولې.

نومورې لومړنۍ زدکړې د کلي له ملا امام او بیا د خپل تاتوبي میدان ښار د کوته عشرو په مدینه العلوم او د زیولات په نعمانیه مدرسه کې وکړې، پر هېواد مو د غربي تاړاك د یرغل له أمله د طالبانو اسلامي امارت له سقوط سره سم د ګاونډي هېواد په پېښور کې د جلوزو کیمپ ته لاړ او هلته یې د وخت له مشهور استاد قاریصاحب خان څخه حفظ پوره کړ.

ورپسې یې منځنۍ زدکړې د خیبر پښتونخوا ایالت په بیلابیلو مدرسو او په ځانګړې ډول پېښور کې د بورډ حبیبیه مدرسه او د تاج آباد دارالعلوم کې وکړې، په۱۳۹۵لمریز کال یې د بورډ په تاج اباد کې له شیخ الحدیث عبدالسمیع غزنوي صاحب څخه وړه دوره او ورپسې په ۱۳۹۶کال یې په دارالعلوم تاج اباد کې له جیدو استادانو لویه دوره وکړه وکړه او همدلته یې د فضیلت پکړۍ پر سر او د عالمیت ستر ویاړیې ترلاسه کړ.

جهادي فعالیت او کارنامې یې: شهید حمدالله قانت تقبله الله په یوه مجاهد پاله او شهید پاله کورنۍ کې خلمیتوب ته رسیدلی وه، د محمد اسماعیل په نوم د هغه یو مشر ورو د اسلامي امارت په مهال یو نوموتی مجاهد او بیا همغه مهال شهید شوی و، ورپسې یې د ملا جاوید په نوم دوهم ورو هغه وخت د یو خلمکي مبارز په توګه راڅرګند شو، چې زمور د هېواد پر پاکه خاوره غربي تاړاك یرغل وکړ او متدین ولس مو د

اسلامي امارت تر قيادت لاندي د هغوی او د هغوی د ګوډاګيانو پر وړاندي وسلواله مبارزه پيل کړه.

نوموړی چې د اتل شهيد قاري صاحب سيدآغا تقبله الله له نژدي ملګرو څخه و يو ديندار، نيک خويه، غيرتي او د جهاد له مينې سرشاره مجاهد و او په دې لاره کې يې ډېر تکليفونه ګاللي وه، له نه ستړي کېدونکي اوږدې مبارزې او جهادي فعاليت وروسته هغه هم په ۱۳۸٦ لمريز کال د ميدان ښار د کوټې عشرو د شهيدانو په سيمه کې پر دښمن د يو تعرضي بريد پر مهال په شهادت ورسېد او شهيد قاري حمدالله قانت تقبله الله يې خای ناستی شو چې په خورا ښه ډول يې اړوندې چارې پر مخ وړلې.

نوموړی پر جهادي چارو يو پوه او تجربه کار مجاهد و، که څه هم لوړې مسلکي زدکړې يې نه درلودې خو پر خپلو خانګړو وسلو کې يې زيات مهارت درلود، لکه څمکني ماينونه، دراز کوف لېزري وسلې او...چې د هغو پر مټ په چريکو بريدونو، يرغليزو بريدونو، کمينونو او مخامخ عملياتو کې تر ډېره بريالی و.

په لومړيو کې چې امريکايان د جلريز ولسوالی زيولات سيمه کې ميشت شول، هغوی او د دوی مزدور عسکر چې په ظلم او وحشت کې به يې نوم درلود په ډېر غرور به له مجاهدينو څخه د سيمې د تصفيې په موخه ميدان ښار ته راتلل، خو نه پوهيدل چې دلته د شهيد قانت تقبله الله غوندې شازلمي شته چې چېرته به هم تړې د ارام ساه وانخلي، هغه و چې له راتلو سره سم به د نوموړي د ماينونو هدف وګرځيدل يا به يې د درازکوف اوکمين ښکار شول.

په۱۳۸۹لمريز کال اشغالګر امريکايان د جلريز کوټو سيمې ته په ګڼمه را وتلي وه چې يو ټانک يې د شهيد قانت خښ کړي ماين پورته کړ او ورکې سپرو اشغالګرو سره په بشپړ ډول له منځه لاړ چې بيا يې د چورلکو په مټ انتقال کړل.

په۱۳۹۲لمريز کال د ميدان وردګو ولايت د خانګړو خواکونو قوماندان خالد په مشری د جلريز په لوري وخوځېد چې د همدې ولسوالی په اسماعيل خيلو سيمه کې د شهيد قانت د ماين ښکار شول او يو ټانک پکې له منځه لاړ، ورکې سپاره عسکر ټول و وژل شول، يو امريکايي ثقيل، يو ايم۴ او يو د شپې دوربين تړې د مجاهدينو لاس ته ورغلل.

په۱۳۹۳لمريز کال په جلريز کې د عملياتو لپاره د دښمن يو لوی کتار را وتلی وه چې د زيولات په سيمه کې يې د شهيد قانت په ماين يو رينجر له منځه لاړ او لوړ رتبه امنيتي کسان پکې و وژل شول.

په همدې کال د جلريز پر خواجه محمدولي بيس باندې يرغليز بريد ترسره شو، چې ياد بيس فتحه او ګڼ شمېر عسکر پکې مړه او ژوبل شول، وسلې، وسائط او په لويه پيمانه ډول ډول مهمات يې ولجه شول، په دې عملياتو کې کليدي رول د شهيد قانت و.

اشغالګرو امريکايانو له ميدان ښار څخه د وتلو پر مهال دلته خپل اجير عسکر خای پر خای کړل، تر څو د مجاهد پروره ولس پر وړاندې د هغوی نيابتي جګړه پر مخ يوسي، خو د شهيد قانت په شتون کې هغوی د خپلو مورچلو دننه هم د سکون او آرام احساس نه کاوه، د هغه له راتلو سره به عسکرو خپلو ملګروته خبرداری ورکاوه چې په ګرځېدو حتی په خپلو پوستو کې د ډېر احتياط نه کار واخلي.

په ۱۳۹۲کال د میدان ښار جهادي مسئول لخوا د جلرښ پر پوستو پلان شوېو عملیاتو کې شهید قانت تقبله الله په ډېره هیرانه برخه واخیسته چې مجاهد پروره ولس په ګلونو استقبال کړ، د جلرښ ولسوالي د اسماعیل خیلو سیمې د هزاره اربکیانو پر پوستو د ده تر قیادت لاندې عملیات ترسره شول، په ترڅ کې یې یادې پوستې د الله په نصرت په بشپړ ډول فتحه اوګڼ شمېر اربکیان په کې ووژل شول، چې له ځمله یې هزاره ګانو یاده سیمه د خپلې مقبرې په نوم ونومولې.

د جلرښ ولسوالي پر پوستو په۱۳۹۷المریز کال دوهم ځل پراخ تعرضي بریدونه ترسره شول چې په مهال یې دعامه نظم۱۲پوستې فتحه او د نومورې په رابطه ګڼ شمېر عسکر تسلیم شول، وسلې او وسایط یې د امارت مجاهدینو ته وسپارل، د همدې کال په جریان کې یوځل بیا وحشي-امریکایان د جلرښ ولسوالي د زیولایت بیس ته د عملیاتو لپاره راغلل، ورسره شهید قانت تقبله الله هم یادې سیمې ته ځان ورساوه او د درازکوپ په مټ یې دوه هغه وحشي-لوړ رتبه امریکایان چې په سیمه کې یې د ځار لپاره کښلي الوتکه کنترولوله و وېشتل چې له امله یې یاده الوتکه هم په یوه مفتوحه سیمه کې را وغورځېده او بیا اشغالګرو په بمبار کې له منځه یوړه، د تلفاتو په لیدو له یادې سیمې د چورلکو، جیټ او ډرون الوتکو تر سیوري لاندې وتښتیدل چې وحشیانه بمباري یې هم وکړې.

شهید مولوي حمدالله فانت تقبله الله د روان هجري کال په جریان کې شپه او ورځ په اجیرو عسکرو او د دوی په بادارانو پسې ګرځیده چې د ده او ځینې نورو مجاهدینو د هڅو په پایله کې د زیولایت بیس او ګڼې پوستې وتښتېدې او سیمه د مجاهدینو د حاکمیت لاندې راغله، له دې پرته یې لسګونه وړې او لویې کارنامې ترسره کړې چې د ټولو یادونه ستونزمنه ده.

شخصیت یې: شهید مولوی حمدالله فانت خوش اخلاقه، شجاع او پر دین مین انسان وه، مشرانو او کشرانو ټولو ته محبوب وه، په راتګ سره یې د مجلس بڼه بدلېده او د خلکو په خوله به خندا خپرېده، د شجاعت او استقامت یې مثال نه و، له دښمن څخه یې هیڅ ډول ویره نه لرله، له جهاد سره یې پخه مینه وه، شهید قانت یو نه ستړی کیدونکی مجاهد و، له خپلو ملګرو، مجاهدینو او عام ولس سره یې نیک تعامل درلود، له دنیا سره یې علاقه نه وه خپلو ملګرو ته به یې همیشه د پرهېزګارۍ توصیه کوله او ټوله هڅه او کوښښ یې د آخرت لپاره وه.

شهادت یې: دا چې شهید مولوی حمدالله فانت د شهادت ګرمه او یې کچې مینه په سینه کې لرله، په پایله کې یې د ۱۳۹۸المریز کال سنبلې د میاشتې په لومړۍ نېټه د میدان ښار د شهیدانو په سیمه کې په یو تعرضي برید کې په شهادت ورسیده، نحسبهم کذالك والله حسیبهم/اناالله و انا الیه راجعون.

په آخر کې د ټول مجاهد پروره ولس نه هیله کوم چې له الله تعالی څخه د نومورې کورنۍ، ملګرو او خاصکر نړدې ملګرې مولوي نقیب الله حامد صاحب ته د نعم البدل غوښتنه وکړي.

د برما مهاجرين

د يو بل ناورين په درشل

حسن مومند

دروانې اګست مياشتې په ۲۵ مې نېټې دبرما مهاجرينو په بنګله ديش کې دېر ستر لاريونونه وکړل.

دروهنګيا قبيلې سره تړاو لرونکي دبرما مسلمانان چې په برما کې دېودايانو دسختو ظلمونو او وحشتونو نه دځان ژغورنې په موخه دسمندر له لارې ګنو هېوادونو ته په هجرت کولو مجبور شويدي لويه شمېره يې په بنګله ديش کې په مهاجر کمپونو کې مېشت دي چې ژوند يې دخورا سترو کړاوونو نه ډک دی.

دوئ په مهاجر کمپونو کې محصور دي؛ دهېواد کوچنيواو سترو ښارونو ته د ازاد تلو راتلو او پکې دکار کولو اجازه نه ورکول کېږي او دې ته اړ کړای شويدي چې په کمو هغو مرستو خپل ژوند روان وساتي کومې چې ورته دملګرو ملتونو او يا نورو خيريه ادارو له لورې ورکول کېږي.

ديکشنبې په ورځ د اګست په ۲۵ مې نېټې له ۲ سوه زرونه زياتو مهاجرينو په خپلو مهاجر کمپونو کې لاريونونه وکړل او له بنګله ديش دولت نه يې وغوښتل چې ددې هېواد په ښارونو کې دازادانه ګرځېدو او کار کولو لپاره دې دوئ ته تابعيت ورکړي او يادې هم دبرما دولت دې ته اړ کړای شي چې مورږ دخپل هېواد اتباع ومني ؛ په قانوني ډول خپلو سيمو او کورونو ته دستنېدو اجازه راکړي اوزمورږ دځان اوناموس دساتنې اوخوندیتوب اطمينان راکړي.

د يادولو وړ ده چې په تېرو دوه کلونوکې دبرمانه بنګله ديش ته ۸ سوه زره مسلمانان هجرت کولو ته اړ شويدي ؛ داکډه شوي مسلمانان په برماکې دروهنګيا په نوم دمسلمانانودسترې قبيلې سره تړاو لري؛ دروهنګيا په نوم ددې قبيلې سره تړاولرونکي مسلمانان دبرما ظالم بودايي دولت دبرما اصل اوسېدونکي نه ګڼي او وايي چې دوئ نسلاً

بنګله ديشيان دي نوبايد له برما نه وشړل شي ؛ له ۸ پېړيوو نه زياته موده وشوه چې دا قبيله په برما کې اوسېږي خو لا يې هم دبرما دولت خپل اتباع نه ګڼي اونه ورته دتابعيت کارتونه ورکوي ؛ دظلم دپاسه ظلم دادی چې دبرما دولت هيڅ دانه مني چې ګينې دبرمانه کډه شوي دامسلمان دبرما اوسېدونکي دي د دېروسياسي فشارونو نه پس دبرما دولت پدې ۸ سوه زره کې يواځې د ۲۳ زره مسلمانانو په باره کې دامنلې چې دوئ دبرما اوسېدونکي دي او يواځې دهمدې ۲۳ زره تنانو په هکله دي ته تيار شوې و چې په تدريجي دول به بېرته برما ته دراتللو اجازه ورکړي.

دبرما دولت وايي چې ددې ۲۳ زرو تنانو دبېرته ستنېدو په هکله يې دبنګله ديش دولت سره ترون هم رامنځته شوی و خو دا چې بنګله ديش پدې ترون عمل ونکړ او ددې وګړو رومبنی جوړه يې برما ته راونه لېږله نو شايد مورږ ددې ترون دلغوه کولو په اړه بيا کتنه وکړو.

دبنګله ديش دولت ولې دبرما دولت سره په رامنځته شوي ترون عمل ونکړ؟

دبنګله ديش نه خپرېدونکې (پروتوم آلو)نومې جريدې په خپل يو تازه راپور کې پدې اړه ليکي دي چې ۳۴۵۰ مهاجرين په خپله خوښه برما ته تللو ته چمتو شوي وو خو دبنګله ديش او برما دامنيتي ادارو نه چې دوئ دځان او عزت ساتنې غوښتنه وکړه نو ددواړو هېوادونو امنيتي ادارو پدې هکله له ضمانت ورکولو نه انکار وکړ.

نورحسنين نومي يو روهنګيا مهاجر دالجزيره تلويزون ته وويل چې که مورږ ته خپلې ځمکې او کورونه بېرته راکړل شي او زمورږ دسر او مال دساتنې اطمينان څوک راکړي مورږ ټول چمتو يو چې برما ته ستانه شو خو متأسفانه چې هيڅوک داسې نشته چې مورږ ته دا ضمانت يا لږ ترلږه دا اطمينان راکړي چې برما ته دستنېدو په صورت کې به تاسې نه وژل کېږئ او پرمېرمنو به مو جنسي تېري نه کېږي؛نو مورږ دمرګ هغې کندې ته ولې بېرته ستانه شو چې په ۲۰۱۷ م کال کې ترې په ډېرې سختې راوتلي وو؟

((ايراوادي)) نومې د برما نه خپرېدونکې جريدې هم ليکلي دي چې که روهنګيا مسلمانان برما ته راستانه شي چرته به مېشت شي؟په راخين او نورو ايالتونو کې ددوئ ټول کورونه په بلډوزرو نړول شويدي او ځمکې يې نيول شويدي.

دبنګله ديش نامتو جورنالست مفيض الاسلام په خپل يو راپور کې ويلي دي چې روهنګيا مهاجرين له ۳ لوريو راګېرلي يو لور ته دملګرو ملتونو يې احساسه افسران دي چې تراوسه يې دبرما دولت دې ته اړ نکړ چې له پېړيو راهيسې

دبرما اوسېدونکي روهنګيا مسلمانان دبرما اتباع ومني او په خپل هېواد کې ورته داوسېدو اجازه ورکړي.

بل لور ته دحسينه واجد په مشرۍ کې د بنګله ديش دولت هم ډېره جفا کوي نه خو برما ته ددې مهاجرينو دستنولو لپاره په نړيواله سطحه هڅې کوي او نه ورته هم په خپل هېواد کې دتابعيت ورکولو او ازاد ګرځېدلو اجازه ورکوي بلکې مهاجرين يې په کمپونو کې محصور کړيدي او بيا بيا ترې غوښتنه کوي چې بنګله ديش دې پرېږدي او پرکوم لور چې تلل غواړي ولاړ دي شي.

دېادولو وړ ده چې دبرما نه دروهنګيا مسلمانانو دجړړو ويستلو په موخه دبرما دولت او ولسي- وحشي- بودايانو د ۲۰۱۷م کال داګست مياشتې په ۲۵ مې نېټې دروهنګيا بې وسلې مظلومو مسلمانانو پرضد دوحشت نه ډک عمليات پيل او ټول روهنګيا مسلمانان يې دخپلو کورونو نه وويستل؛دنړيوالو رسنيو له لورې دخپرو شويو ارقامو له مخې پدې عملياتو کې په زرونو مېرمنې بې عفته کړای شوې د ۴ سوه زرونه زيات تنان ووژل شول او ۷ لکه او ۶۰ زره مسلمانان دکښتيو له لارې بنګله ديش ته په ځان رسولو وتوانېدل.

دا مسلمانان چې بنګله ديش کې ورته په ډېرو خرابو ځايونو کې کمپونه جوړ شويدي په همدې کمپونو کې محاصره کړای شويدي؛نه چرته دتلو اجازه ورکول کېږي او نه هم په ښارونو کې دکار کولو؛خو دا چې دلته يې خانونه او عزتونه مصئون دي نو دلته همدا د مشقت نه ډک ژوند يې قبول کړی.

دمهاجرينو مشرانو ويلي دي چې د برما دولت په ۸ سوه زره مهاجرو شويو روهنګيا مسلمانانو کې يواځې ۲۳ زرو ته برما ته دتلو اجازه ورکړيده او پاتې نور هېڅ دبرما اوسېدونکي نه ګڼي؛دملګرو ملتونو اداره اود بنګله ديش دولت دپاتې نورو تنانو دحقوقو دترلاسه کولو او په برما کې يې مېشت کولو لپاره هېڅ کوښښونه نه کوي بلکې برعکس دبنګله ديش دولت مهاجرينو ته حکم کوي چې له بنګله ديش نه دې ووځي او که ونه وځي نو شاړو ورانو جزيرو کې به يې وغورځوي.

دالجزيره تلويزون نماينده(ستيفني ډيګر)وايي چې((ګوتوپولانګ)) کمپ ډېر تنګ کمپ دی په ډېر کم ځای کې په سونو زره انسان راټول شويدي خو دولت له لورې ورته هېڅ اساتنياوې ندي برابرې شوي.

مولوي شيراغا رشيدي

د اتل قهرمان شهید

مولوی عبدالمجید حنیف (طیب) تقبله الله

ژوندلیک

خوشحال خان خټك څه ښه ویلي:

چې دستار تري هزار دي

د دستار سړي په شمار دي!

همدارنګه متل دی وایي: سل دې ومره یو دې مه مره!.

د اسلام له پیله تر دې مهاله په لکونو اتلانو د غیرت او میرانې شملې لوړې درلودې، د اعلاء کلمة الله بن یې په خپلو وینو خړوب او تازه ساتلی، د اسلام له حریم څخه یې په کلکه دفاع او ننګه کړې، د طاغوت ډلې یې ماتې او تیت و پرك کړې، د ولسونو په سر کې د اسلام د سپیڅلي دین لپاره له خپل سر او مال څخه تیر شوي، خو دښمن یې نه ده پرېښې چې ولسونه یې پر مرېیتوب وښیسي، بلکې لا سرچپه پر پېړیو دښمن او د طاغوت ډله د اسلام د سرښندونکو او میړنیو غازیانو په مرېیتوب کې پاتې شوې.

او لله الحمد چې لا د اسلامي نړۍ په ځوانه انرژي کې د سرښندنې جذبه ژوندۍ پاتې ده او الله تعالی ج دې تر قیامته ژوندۍ ولري، دا مهال یوبشتمه هجري پیړۍ کې لاهم هغه د دستار په شمار سړي د امریکا په سرمشرۍ د طاغوت ډلې سره په سختو او خونړیو جګړو بوخت دي، چې افغانستان یې د امریکا، ناټو او په ټوله کې شاوخوا ۵۲ ایتلافي هېوادونو د ځواك لپاره د جهنم کنده او سور اور ګرځولی، له دوی څخه یو هم غازي شهید مولوي عبدالمجید حنیف (طیب) صاحب تقبله الله و، لاندې همدې د دستار سړي او د سلو مخې پر ژوند ګړېږو.

زوکړه: شهید مولوي عبدالمجید حنیف (طیب) تقبله الله د حاجي تراب خان زوی د سلام جان لمسی ، د ګل باز خان کړوسی، په ختې احمدزی/عیسی خیل په ۱۳۵۰ لمریز کال چې د ۱۹۷۱ زیږدیز میلادي کال سره برابر دی د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالی اړوند د زاهدآباد کلي په یوه دینداره کورنۍ کې سترګې پرانیستې.

د شهید حنیف تقبله الله پلار مرحوم حاجي تراب خان رحمه الله یو دیندار، علم دوست، د ښه لیک او لوست خښتن، په پخوانۍ جهاد کې د محمدي صاحب د اسلامي انقلاب غړی او په قضاء کې یې د محرر دنده درلوده، د حاجي نادرخان او حاجي عمراخان په نومونو دوه نور وروڼو (د شهید حنیف ترونه)یې جبهه درلوده چې مشري یې د عمراخان په غاړه وه.

زدکړې او علمي ژوند یې: نوموړي هغه مهال چې کورنۍ یې له شوروي یرغل څخه د پیښور باغبانانو کیمپ ته هجرت کړی و هلته یې د میر جیلاني صاحب" په دارالنجات مدرسه کې زدکړې پیل کړې؛ څه موده وروسته د چراټ جامعه محمدیه مدرسې ته لاړ چې هغه مهال د انقلاب حرکت تر اشراف لاندې وه او له " مولانا سید قریش"، " شیخ محمد امین" صاحب او نورو څخه یې ځینې کتابونه ولوستل، له هغه ځایه د ورسک "ضیاء الاسلام" مدرسې ته لاړ له "شیخ محمد اسمعیل، " شیخ صاحب خیرالله صدیقي"، " شیخ صاحب عبیدالله" شیخ سلطان محمد ثاقب صاحب " او نورو څخه ځینې کتابونه ولوستل او بیا بېرته د چراټ جامعه محمدیه ته لاړ، هلته یې څو کاله پرلپسې له " مولوي صاحب فضل الرحمن پکتیاوال"، شیخ محمد نعیم اخندزاده صاحب، شیخ الحاج محمد صادق صاحب ، شیخ مولوي نورمحمد ثاقب صاحب" او شیخ عبدالغني لوګري صاحب څخه کتابونه و ویل، د ادب فن دوره یې له " حافظ فضل مالك" سره او د ریاضي دوره یې له "شیخ مولوي نورمحمد ثاقب صاحب سره وکړه.

خو جهادي هلوڅلو یې د زدکړو بهیر کې اوږدې او ګڼې وقفې رامنځته کړې، چې بالآخر په ۱۴۲۱سپوږمیز کال یې د ننګرهار درونټې په جهادي مدرسه کې وړه دوره له "مولوي فضل الرحمن پکتیاوال" او شیخ " محمد امین سره وکړه او په"لومړی نمبر" ترې فارغ شو.

ورپسې یې لویه دوره له په هېواد کې د اسلامي امارت په وروستي کال د خیبرپختونخوا ترټولو لویه دیني مدرسه (دارالعلوم حقانیه) اکوړه خټك کې وکړه او د ۱۴۲۲ سپوږمیز کال په رجب کې همالته په ممتاز څلورم نمبر فارغ او د عالمیت پګړۍ یې وترله، له هغه وروسته یې د جهادي فعالیت ترخنګ په وقفه یې دول د باغبانانو د "مولوي سیدخان صاحب" په نورالمدارس نومې مدرسه کې تدریس پیل کړ او همداسې یې تر شهادته پورې دوام ورکړ، رب ج دې ورته قبول کړي. اللهم امین!.

جهادي فعالیتونه یې: شهید حنیف تقبله الله چې د شوروي ضد جهاد په مهال لا ځلمکی او د مدرسې طالب و د خپل تره زوی ملاشربت په

جبهه کې يې د خپلې سيمې (محمد آغه) په سطحه جهادي فعاليت درلود، د کورنيو جګړو په مهال يې وسله په کور کښوده، عادي ژوند او دينې زدکړو ته يې دوام ورکړ.

د ملامحمد عمر مجاهد (رحمه الله) په مشرۍ د شر او فساد په وړاندې په کندهار کې د طالبانو خوځښت را منځته کېدو سره سم شهيد حنيف تقبله الله د کويټې له لارې په سپين بولدک کې ور سره يوځای او له همغو لومړيو شېبو د اسلامي امارت د سېبځلي يون ملګری شو، د طالبانو د ګرندیو فتوحاتو سره په ګډو ولايتونو او سيمو کې د جګړې د لومړۍ کرښې شاهد پاتې شو، د پروان په جبل سراج کې د جنګ په مختلفو محاذونو او په لومړيو کرښو کې يې د خپلو ملګرو د نظامي مسئول دنده لرله، همدارنګه په ريشخورو، سرای خواجه او د شمال لومړيو جنګي کرښو ګډونوال و او له شهيد مولوي خوشحال تقبله الله سره يې د کابيسا په مختلفو جنګي محاذونو کې برخه لرله.

د فتوحاتو چټکي لړۍ د هېواد له زياتره سېمو د شر او فساد ټغر ور تول کړ، مجاهدينو په مفتوحو سېمو کې خپل اداري تشکيلات رامنځته کول چې په دې موخه شهيد "مولوي احسان الله احسان تقبله الله "، شهيد "جلالزی صاحب تقبله الله " او نور مشران د خوست ولايت ته لاړل، شهيد " مولوي محمد شريف سعيدي"تقبله الله يې د خوست د ښاروالۍ مرستيال او شهيد مولوي "عبدالمجيد حنيف تقبله الله يې د اوبو رسولو مسؤل و تاکل او بيا چې سعيدي ښاروال وګمارل شو حنيف د ښاروالۍ مرستيال وتاکل شو، له دې پرته يې د پروان په چاريکارو او جبل سراج کې هم د ښاروال دنده پرمخ وړې، هغه مهال چې مولوي عبدالکبير صاحب حفظه الله د ننګرهار والي و شهيد حنيف د عامي روغتيا د مرستيا دنده پرمخ وړله ترڅو امريکايانو يرغل وکړ او اسلامي امارت سقوط شو.

د صليبي يرغل په وړاندې: په ۲۰۰۱ زېږديز کال چې له۱۴۲۲سپوږمیز سره برابر دی هغه مهال چې د صليبي يرغل لومړۍ شېبې وې، شهيد حنيف تقبله الله تازه له دښې زدکړو را فارغ شوی و، د اسلامي امارت له بشپړې عقب نشينۍ وروسته پېښور ته لاړ او تدريس يې پيل کړ، موده نه وه تېره چې د اسلامي امارت مجاهدين بيا ځل له سره منظم او د نوي يرغل په وړاندې يې نوی جهادي بهير پيل کړ.

دا چې موږ د يو داسي دښمن په وړاندې قرار درلود چې له هري مخې نوی، مجهز، ډېر ځواکمن او په وړاندې يې زموږ افراد په اوږو کې له مالګي هم لږ او شته امکانات مو بېخي زاړه او هغه هم د نشت برابر و، د منځنۍ او لوړې رتبې مجاهدين زياتر سره تيت وپرک و، نو تبعاً سر پورته کول يو خورا ستونزمن کار برېښېده، خو چې پر الله تعالی توکل او د هغه پر نصرت د مجاهدينو باور پوخ و، د مشر ملاصاحب رحمه الله د جهاد له نوي فرمان سره الله تعالی د هغوی زړونو ته يو ځل بيا قوت او داډ ور وبابنه، شرائطو او امکاناتو ته پر کتو يې خال

خال فعالیتونه او پر دښمن بریدونه پیل کړل خو د هغه مهال شرائط ډېر او له خیاله لوړ سخت و.

شهید حنیف تقبله الله لکه چې د طالبانو په اسلامي تحریک کې له سابقینو اولینو څخه و همداسې د اشغال په وړاندې له لومړیو شېبو یې خپل محدود ملګري په سیمه (محمدآغه ولسوالی) کې بیا منظم او پر دښمن یې غلچکي بریدونه پیل کړل، موده نه وه وتلې چې په زیاتره سیمو کې مجاهدینو خپل شتون ډاګیز کړ او پردښمن یې پرغلیزو بریدونو نه لاره ومونډله، شهید حنیف تقبله الله هم له خپلو ملګرو سره راښکاره شو او فعالیت یې پراخ کړ.

شهید حنیف تقبله الله د طیب کاروان په نوم د خپلو ملګرو یوه پرتمینه ډلګي درلوده چې د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالي په ګنو سیمو کې په ځانګړې له زاهد اباد څخه تر مامور سلام هوټل پورې د کابل لوګر پر لویه لاره یې پرلپسې د امریکایې پرغلګرو او د هغوی د اشړبانو او کورنیو ګوډاګیانو پر کتارونو، ګزمو، اکمالاتي کاروانونو او... د بوشکیې ماینونو، کمینونو، مخامخ بریدونو پر مټ پراخ عملیاتونه ترسره کړي او ګڼ شمیر پرغلګر، مزدور عسکر، پولیس، ځانګړي ځواکونه، اربکیان او د هغوی نقلیه وسائط یې پکې له منځه وړي، چې له جملې یې تر لس پوري ټانګونه او عرادي رېنجر هغه پر خپل لاس د اور خوراک کړي، وښتلي او پر ماینونو پورته کړي دي، د طیب کاروان د عملیاتي لړۍ ځینې ویډیو ګانې د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون لخوا د لوګر جهادي بهیر کې خپرې شوې، یاد بهیر کې په همدې (طیب کاروان) نوم پېژندل کېږي.

طیب کاروان د خپل سپېځلي مسیر په اوږدو کې د یو شمېر شهیدانو، ځخمیانو او بندیانو ستري قربانۍ ورکړې چې په سر کې یې خپله د هغه مشر- شهید حنیف، مرستیال یې شهید ابراهیم (بلال مبارز) او د حنیف صاحب ۲۲کلن زوی شهید طالب العلم فضل هادي (فاتح) تقبلهم الله راځي، د ځیني نورو شهیدانو نومونه یې په لاندې ډول دي.

۱:- شهید مولوي عبدالجلیل مقدس، ۲:- شهید مولوي محمد حسین فاروقي، ۳:- شهید مولوي محمد ماهر مزمل، ۴:- شهید مولوي صلاح الدین، ۵:- شهید ازاد خان خالد، ٦:- شهید مشنګ (عبدالهادي)، ۷:- شهید فیض الله بدر، ۸:- شهید تراب خاکسار، ۹:- شهید زرولي(محمد فدایې)، ۱۰:- شهید قاري کلیم الله (صادق سلمان)، ۱۱:- شهید ولي جان الماس، ۱۲:- شهید طالب العلم ضیاء الحق یاسر، ۱۳:- شهید قاري روح الله، ۱۴:- شهید عبدالله حنظله، ۱۵:- شهید مصطفی زرقاوي، ۱٦:- شهید شاه حامد (شاهدالله)، ۱۷:- شهید نوراغا عرفان، ۱۸:- شهید رازګل فیضان، ۱۹:- شهید سلیمان سجاد، ۲۰:- شهید مولوي ذاکر، ۲۱:- شهید نارنج جلالي، ۲۲:- شهید احمدګل جراح، ۲۳:- شهید اکرام الدین القاعده، ۲۴:- شهید عابد قدایې او ۲۵:- شهید عمران تقبلهم الله.

شهید مولوي عبدالمجید حنیف د خپلې ډلګي (طیب کاروان) د مشري ترڅنګ د محمد

آغې ولسوالۍ په استازیتوب د نظامي کمیسیون غړیتوب، د یادي ولسوالۍ د ولسوال او د ولسوال د مرستیال په توګه او د لوګر ولایت د مرافعه محکمې د مجرر دندي هم ترسره کړې، له دې پرته له هغه راسي چې د اسلامي امارت تشکیلاتو د نښه تنظیم په موخه اداري تعیینات پیل شوي پرلپسې پې بېلابېلې دندي ترسره کړې دي.

شخصیت یې: شهید حنیف تقبله الله یو خوش تبه او مزاحي، ځیرک او هوښیار، مېرنی او زړور شخص و، په مزاحیه لهجې او زړه راښکونکو تورو او جملو به یې خبرې کولې، زیاتره به یې د ملګرو د نشاط پر خای کولو لپاره (یاره غرق دې کړو) او (ما خوار ، غریب، بې وسه، ملنګ، او بې چاره ته ګوره، بس را پورې خانده) ټکي په یو جالب انداز په ژبه راوړل.

نومورې د غوره علمي سویې، په نظامي تخنیک کې د تجربې او جهادي سابقې ترڅنګ یو نښه لیکوال هم و، له حالاتو سره سم یې په زړه پورې څېړنیزې لیکنې کولې، د تراب افغان په نوم به یې په خپله فیسبوک پاڼه لیکنې خپرولې ورسره د اسلامي امارت په میاشتینیو، پاڼو او د نن ټکي اسیا پاڼه کې هم خپریدې، هغه د یو غوره کاتب په توګه پېژندل کېده او د نسخ، ثلث ، شکسته او نستعلیق په ګډون اووه ډوله خط یې کولای شو او زیاتو شاګردانو ور څخه استفاده کړې وه، پښتو یې مورنۍ ژبه وه، له هغې پرته په دري، انګریزي، عربي او اردو ژبو هم پوهیده ، خو په دري او انګریزي کې یې زیات لاس درلود، د کمپیوټر په پروګرامونو کې هم نښه بلد و.

شهادت یې: د لوګر مرکز (پل عالم) اړوند بابوسو ته نږدې د شولك په پیارو خیلو سیمه کې د مازدیګر او مابښام تر منځ چې دري نورو ملګري ورسره و د دښمن له یوه کمین سره مخ شول موټر یې یې پیلوته الوتکي وویشت او دوی مقاومت پیل کړ، له اوږد مقاومت او دښمن ته له مرګ ژوبلې اړولو وروسته ځلور واړه ملګرو شهید عبدالمجید حنیف، مرستیال یې محمد ابراهیم بلال لوګری، مولوي محمد حسین فاروقي خوګیانی ننګرهاری، ملا مزمل لوګری تقبلهم الله د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د جولای په ۳مه نیټه چې د ۱۳۹۸ لمریز کال سرطان له ۱۲مې سره برابره ده د چهارشنبې په ورځ د شهادت جام نوش کړ، له شهادت وروسته دښمن د خپل قساوت له مخې د هغه بې روحه تن پر پرمیکاټ بارودو توټه توټه کړ انا لله وانا الیه راجعون!

جنازه یې د پنجشنبې په ورځ مازدیګر ٤ځلور بجې د ګڼ شمیر ولسي خلکو له لورې ادا شوه او د خپل کلي په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو، نومورې ترشا دري ورونه محمدولي، محمدبشیر او قاري عبدالهادي، شپږ اولادونه احمدهادي، عبدالحمید، حافظ عبدالحق، سراج الحق، اکرام الحق، دري کلن شمس الحق او په خپله روحیه روزلیو مجاهدینو جراره ډلګی پرېښوده، روح یې شاد او یاد یې تل پاتې.

له محمدبشیر، مولوي عبدالستار او مولوي قیام الدین قانت صاحب څخه په مننې.

جنګي جنايتونه (اګست)

د ۲۰۱۹ز. کال د اګست د میاشتې په لومړۍ نیټه د بادغیس ولایت د جوند ولسوالۍ د الله یار د قالي ګردک په سیمه کې یر غلګرو پر یو واده بمبار کړی چې له املې یې پنځه تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي.

د اګست په لومړۍ نیټه د فراه ولایت د بکوا ولسوالۍ د کاریز د مېلې په سیمه کې د یر غلګرو په درون حمله کې یو د سپرلۍ موټر ویجاړ او پکې سپاره دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د اګست په ۳مه د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ په چتو سیمه کې اشغالګر او داخلي عسکرو چاپه وهلې، د خلکو کورونه یې پلټلي او وروسته یې پر سیمه بمبار کړی چې له املې یې شپږ تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د اګست په ۳مه ګلهو ځواکونو د غزني ولایت د زنخان ولسوالۍ په لوله کلي چاپه وهلې، د کورونو او جومات دروازې یې په بمونو الوزولې او دوه تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د اګست په ۳مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په عمومي کلینک او چهار قلعه کلي باندې حکومتي ځواکونو چاپه وهلې، یادوو شوو ځواکونو تر چاپې وروسته پر سیمه بمبار کړی چې له املې یې کلینیک زیانمن شوی او شپږ تنه ماشومان او میرمنې ټپیان شوي دي.

د اګست په ۴مه د غزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ د ادریس خیلو کلي ته څیرمه یر غلګرو په درون حمله کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د اګست په ۵مه د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په نورلام صاحب دره کې داخلي عسکرو پر یو کور چاپه وهلې او دري تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د اګست په ۵مه د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د مهاجرو په سیمه کې امنیه قوماندان (بصیر ک) د

خلکو پر دودیزې مېلې چاپه وهلې، دخلکو نقلیه وسایط یې سوځولي او پنځه تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

داګست په ۵مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالي دنهر سراج دیخچال په سیمه کې یرغلګرو او داخلي کمانډویانو دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او شپږ تنه یې ډندیانو په توګه له ځان سره بهولي دي.

داګست په ۶مه د غزني ولایت دګیلان ولسوالي په خیرالدین چمبر سیمه کې داشغالګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ولسي وګړي چې په موټر سایکل سپاره وو، شهیدان شوي دي. همدارنګه دیادې شوې ولسوالي په نوي کاریز سیمه کې یرغلګرو دملکي خلکو دسپرلي پریږو موټر هم ډرون برید کړی، چې له املې یې پنځه تنه ولسي وګړي چې دخوست ولایت او سیدونکي وو، شهیدان شوي دي.

داګست په ۶مه دفاریاب ولایت دپښتونکوټ ولسوالي دموقاتي په سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې څلور میرمني او یو ماشوم شهیدان شوي دي.

داګست په ۶مه ګلبو قواوو د پکتیکا ولایت دسرحوضې ولسوالي په مارزکو کلي کې دخلکو د کورونو او د کلي دجوماتونو دروازې په بمونو الوزولې، او دوه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.

داګست په ۶مه دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالي مرکز کې اربکیانو یو سړی شهید کړی اویوه ښځه یې زخمي کړې ده.

داګست په ۶مه دفراه ولایت دفراه رود ولسوالي د مرکز په مربوطاتو کې دداخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې څلور تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۱مه د پکتیا ولایت دزرمت ولسوالي په کولالګو سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، یوولس تنه ملکي هیوادوال یې چې دلېسې استادان، محصلین او عام وګړي وو، له کورونو رایستلي او بیا یې په مخامخ ډزو کې شهیدان کړي دي، خلکو دلاریون په مهال ددې پېښې غندنه وکړه اودعاملینو دمجازات غوښتنه یې وکړه، خو ولایتي چارواکو یې ځواب نه درلود او ویل یې چې دغه عملیات ددوی له خبرتیا پرته ترسره شوي دي. رسنیو د شهیدانو نومونه په لاندې ډول خپاره کړي: (استا شفیع الله د داکټر الفت زوی، د کولالګو په لیسه کې دفزیک استاد. انعام الله د داکټر الفت زوی متعلیم. انصارالله د داکټر قدرت الله زوی د پکتیا پوهنتون د تعلیم او تربیې محصل. حیات الله د محمدمختار زوی، په کابل کې د یوه خصوصي لیسې استاد. راحت الله د عبدالله زوی د محصل او په غزني کې ولایت کې دوکاندار. حکمت الله د عبدالله زوی د دولت زیو لیسې استاد. نصرت الله د عبدالله زوی محصل. محمد آصف د عزیزالله زوی د دولت خان په عالیسه کې مدیر. فدامحمد د محمدیوسف زوی بزګر او عام کلیوال. نصرالله ولد وردک بزګر. فتح الله د جمعه ګل زوی عام کلیوال او بزګر).

داګست په ۱۳مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالي په مرکزي سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان مرمي دشامل په نوم یو هیوادوال پر کور لګېدلې چې له املې یې یوه میرمن اودوه ماشومان شهیدان اودرې ماشومان ټپیان شوي دي. خلکو شهیدان داحتجاج په توګه دولسوالي بازار ته وړي، خو عسکرو ډزې پرې کړې چې په پایله کې یې پنځه تنه مظاره کونکي شهیدان او ژوبل شوي دي.

داګست په ۱۴مه د فاریاب ولایت د دولت اباد ولسوالي په مرکزي سیمه کې د حکومتي عسکرو دهاوان په وزو کې څلور تنه ښځې او کوچنیان شهیدان او ټپیان شوي دي.

داګست په ۱۵مه د بادغیس ولایت د مرغاب ولسوالي مرکز ته څیرمه دګډو ځواکونو په بمبار کې شپږ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

داګست په ۱۵مه د هلمند ولایت د کجکي ولسوالي داذان په سیمه کې د یرغلګرو په برون حمله کې درې تنه ملکي وګړي چې په یو موټر کې سپاره وو، شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۶مه د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي په حضرت شاه بازار کې یرغلګرو د ملکي هیوادوالو دسپرلي پر موټر برید کړی، په دغه حمله کې د ښځو او ماشومانو په ګډون نهه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۸مه د کابل ولایت د موسهي ولسوالي شینکیو کلي ته څېرمه د یرغلګرو په برون حمله کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۸مه د هلمند ولایت د کجکي ولسوالي د بند په سیمه کې یرغلګرو د سپرلي پر یو موټر برون برید کړی چې له املې یې دوه تنه ولسي وګړي (پلار او زوی) شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۸مه د زابل ولایت د شهر صفا ولسوالي د حاجي عبدالعزیز پمپ ته څیرمه یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال څلور تنه ولسي وګړي شهیدان او څلور نور ژوبل کړي دي.

داګست په ۱۸مه د فاریاب ولایت د خیبر ولسوالي د مرکز په مربوطاتو کې حکومتي ځواکونو د ابوذر غفاري – رضی الله عنه – جامع مسجد او مدرسه بمبار کړي، په دغه بمبار کې د مسجد اطاقونه زیانمن شوي او یوکې پراته کتابونه او نور درسي لوازمات له منځه تللي دي.

داګست په ۱۸مه د ارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالي مرکز ته څیرمه د یرغلګرو او داخلي عسکرو په چاپه کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان او درې نفره ژوبل شوي دي.

داګست په ۱۹مه د لوګر ولایت مرکز مربوط دادو خیلو سیمه کې د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو دوه تنه ولسي هیوادوال په مایینونو الوزولي، طلوع نیوز په دې اړه یو راپور خپور کړی، په راپور کې د شهیدانو د کورنۍ د غړو له خولې ویل شوي، چې د ملي امنیت ځواکونه یې نیمه شپه په کور ورختلي او د کورنۍ دوه غړي (محمد امین چې تازه له سعودي څخه راغلی و او ۱۶ کلن ځوان) یې د کور په انګړ کې په بمونو کنبښولي او منفجر کړي دي، د محمد امین پلار محمد رحیم طلوع ته ویلي چې زوی او لمسي یې هیڅ ګناه نه وه کړې، خو دامنیت ځواکونو راته توک- توک کړل. یاده شوې پیښه د لوګر امنیه قوماندان مخلص تائیدوي او په وینا یې د پلټنې لپاره یې یو پلاوی تاکلی او تر تحقیقاتو وروسته به د پیښې ټول جزئیات له رسنیو سره شریک کړي.

داګست په ۱۹مه د فاریاب ولایت د چهلګزي ولسوالي د هزار قلعه په سیمه کې حکومتي قواوو داستوګنې پر سیمه بمبار کړی، په دغه بمبار کې یو کور ویجاړ شوی او لس تنه ولسي وګړي چې ښځې او ماشومان هم پکې دي شهیدان او ټپیان شوي دي.

داګست په ۱۹مه د لوګر ولایت مرکز اروند دشتک سمه کې د ګډو ځواکونو په چاپه کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۲۰مه دارزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ مرکز هوشي سیمه کې د داخلي ځواکونو په بمبار کې اته تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۲۱مه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ د بند تیمور دریګن مانده په سیمه کې ګډو ځواکونو دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

داګست په ۲۱مه دارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ مربوط په خانقې سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او یو مسجد یې منفجر کړی دی.

داګست په ۲۱مه دلوګر ولایت دازرې ولسوالۍ په قاسم خیلو سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال د بنځو او ماشومانو په ګډون اووه تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي دي.

داګست په ۲۲مه د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ په علی همت کلي کې حکومتي ځواکونو دواده پرمراسمو د دې سي توپ مرمۍ ویشتلې، چې له امله یې یو محصل (قدرت الله) شهید او شپږ تنه بنځې او ماشومان ژوبل شوي دي.

داګست په ۲۲مه د نیمروز ولایت د خاشرود ولسوالۍ په قلعه نو سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

داګست په ۲۳مه دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په سنګر سیمه کې حکومتي عسکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

داګست په ۲۳مه دهلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د انګرک په سیمه کې د یرغلګرو په درون حمله کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان او یو تن ژوبل شوی دی.

داګست په ۲۴مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د قلعه ګزد کاریز کوکې په سیمه کې یرغلګرو دملکي خلکو پریو کرولا موټر درون برید کړی، چې له امله یې په موټر کې سپاره درې تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

داګست په ۲۴مه دکابل ولایت دموسهي ولسوالۍ د عبدالرؤف کلا په میاخیلو او په شادخانې سیمو کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال یو ملا امام او دوه کروندګر شهیدان کړي دي.

داګست په ۲۵مه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ په رخه سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال یوه میرمن او درې نارینه شهیدان کړي او خلکو ته یې مالي تاوانونه هم رسولي دي.

داګست په ۲۶مه دلوګر مرکز پل علم کې ګډو ځواکونو یو ډاکټر (خیال محمد عادل) چې د الحاج صدو خان په روغتون کې یې خدمت کاوه، شهید کړی دی.

داګست په ۲۷مه د بدخشان ولایت دجرم ولسوالۍ په اب راغک سیمه کې حکومتي قواوو داستوګنې پر سیمه بمبار کړی، چې له امله یې دوه کورونه زیانمن شوي او خلکو ته پراخ مالي تاوان اوښتی دی.

داګست په ۲۷مه دزابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ په سرخ سنګ کلي کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان او یو میرمن او کوچنۍ ټپیان شوي دي.

داګست په ۲۸مه د خوست ولایت مرکز د مرديخیلو په سیمه کې د کمپاین ځواکونو یو ديني عالم (مولوي فضل الرحمن) شهید کړی دی.

داګست په ۲۸مه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په شمکټ سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال پنځه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي، د شمکټ کلینیک پخوانی ودانۍ او نوې ودانۍ یې ویجاړې کړې او طبي وسایل یې له منځه وړي او همدارازګډو قواوو په دې چاپه کې دخلکو نقیه وسایط هم سوځولي دي.

داګست په ۲۸مه د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په بره ارغندۍ کې دګډو ځواکونو په چاپه کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي او پنځه تنه کلیوال ګډو عسکرو د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

داګست په ۲۸مه د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ په ملک الدین کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال څلور تنه کلیوال شهیدان کړي او څلور تنه نور ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

داګست په ۲۹مه د بدخشان ولایت د زبباک ولسوالۍ په تېزاب سیمه کې د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی او ګڼ مواشي له منځه تللي دي.

داګست په ۳۰مه د بدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په فرغامیر سیمه کې حکومتي عسکرو د ملکي خلګو ګڼو کورونو ته اورونه اچولي او خلکو ته یې ډیر لوی زیانونه اړولي دي.

داګست په ۳۰مه د فاریاب ولایت د المار ولسوالۍ د بخاري قلعه په سیمه کې د ګډو ځواکونو په بمبار کې یو ملکی وګړی ټپي شوی او دوه کورونه زیاتمن شوي دي. همدارازد همدې ولسوالۍ په خدایمت سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی. همدارنګه د ګرزیوان ولسوالۍ په دونقلعه سیمه کې دحکومتي قواوو په بمبار کې دوه ماشومان او یو سپین ږیری ټپیان شوي دي.

داګست په ۲۹مه د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ د جهانګیر بازار باندې ګډو ځواکونو چاپه وهلې، درې تنه دوکانداران یې شهیدان کړي، دوه ویشت دوکانونه او یو هوټل یې په بمونو الوزولي او دخلکو ګڼ شمېر نقیله وسایط یې سوځولي دي.

داګست په ۳۰مه ګډو ځواکونو د غزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ په موسی خیلو، عبدالله کلا، باتور کلیو، پمپ او بازار باندې چاپه وهلې، یو مسجد او یو ملکي وګړي یې شهیدان کړي، ګڼ دوکانونه یې منفجر کړي او دولسي خلکو نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

داګست په ۳۰مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ د موسی زو دغوندې پر کلي د ګډو ځواکونو په چاپه کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۳۰مه د بلخ ولایت د نهرشاهي ولسوالۍ په شهرک سیمه کې یر غلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال د خلکو کورونه په بمونو الوزولي، کلیوال یې ځوروليو او درې تنه ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

داګست په ۳۱مه یر غلګرو او داخلي عسکرو د بدخشان ولایت د بهارک او وردج ولسوالیو ترمنځ په دوو کلیو کې دملکي خلکو څلویښت کورونه سوځولي او په بمونو الوزولي دي.

داګست په ۳۱مه د شپې مهال یر غلګرو او داخلي عسکرو د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ په بازار چاپه وهلې، سل (۱۰۰) دوکانونه، ۲ کلینیکونه، ۴ هوټلونه، ۳ دتیلو پمپونه او دملکي هیوادوالو ګڼ نقیله وسایط یې سوځولي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو، ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال وبیبانه ،لراوبر = ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

د مورچل وږمې

له قطره

حکیم الله حکیمي

دقلزوم تل

د امارت سپیڅلی توغ به تر کابله رسي
زمونږ د ارمان سپینې بیړۍ به تر ساحله رسي

چا چې ددې مظلوم ملت سره خیانت کړی وي
هغه وګړي به تر دار او تر اجله رسي

دوخت موسی دجادوګرې بړۍ ملاماته کړه
بیا فرعوني لښکر د مست قلزوم تر تله رسي

زر به تکرار رنګین سهار شي دخیبر د فتحې
ویاړلی زیری د زخمي زړو تر کوکله رسي

عابده بیا غاړه غړی د کوم ردیف سره یې
ښاغلی خواک دی د امید تر یو غزله رسي

نسیم راباندې خوږ لګي سحره له قطره
وږمه راځي د سوبې خونده وره له قطره

دحي علی الفلاح نعره دې ټولو بدرګه کړه
تکبیرو ایه بلاله برادره له قطره

شمله دې ټیټه مه شه ټول تاریخ مو په تاویاړي
سرلوړی راشې یاره شملوره له قطره

څپې څپې څپې شه او په غیږه کې مې واخله
ای راشه دخوښیو سمندره له قطره

دستورو په سودامو رانیولې آزادي ده
راو خیژه زموږ د بري لمره له قطره

دعا دحکیمي ده بریالی شې مجاهده
خالي لاسونه رامه شې رهبره له قطره

طالب اشنا به راشي

تاریخ لیکم قلمه!

حسان ضعیف

تـــاریخ لـــیکم قلمـــه پـــاني تـــوروه راپـــسي
راڅـه راڅـه د ننـگ ویارونـه مـي شـمیره راپـسي

کـه مـي پـر دیـن وطـن ننـگ و ټـه کـړ بیـا هلـه یـاره
لاس چپـه پورتـه کـړه بـهـراوي دي کـوه راپـسي

د انتقـــام اور لولپـــه کړمـــه ســـوخېږمه زه
چـي لـه زندانـه د خـورکې راڅـي ګریـه را پـسي

مـا یـې لیـدلي وحشـتونه دي پـه خپلـو سـترګو
کریـږي د کونـدو یتیمانـو بدرګـه راپـسي

چـي غلامـي یـې نـه منمـه ازادي خوښـوم
قـرار مـی نسـته کـلي کـور کـي وي چاپـه راپـسي

مـا داسي مانـه ورکـړه هغـه صـلیبي لښکر تـه
ویټنـام یـې هیـر سـو جـوړوي نـوې قصـه راپـسي

حسـان ضـعیفه پـه سـینه کـي مـي ژونـدی ده مینـه
بریـاوي ګـوري ګـام پـه ګـام هـره دره راپـسي

خدای مهربـان دی پـه تیـاره پـسي رنـا بـه راشي
شـپه بـه شي تېـره د خوښـیو سـپین سبا بـه راشي

د ازادۍ زیـري بـه وشي نـور کـه خـدای کولـه
د کابـل زړه تـه ببرتـه ورک طالـب اشـنا بـه راشي

دا خـونړی انقـلاب تیـر بـه شي خـوږو ملګـرو
ژړا به دومي زمور له چم خولې ته خندا به راشي

دیموکراسي نظام به ختم شي او ورک به شي نور
د اســلامي نظــام رنــاوې پــه فضــا بــه راشي

پر ګران هیواد افغانستان به سپین بیرغ شي رپاند
سـپین امـارت سـپین شریعـت پـه اریانـا بـه راشي

مهـاجر یـاره د زړګـي ارمـان بـه سـتا شي پـوره
باطـل بـه سر و خـوري نظـام د مصـطفی بـه راشي

۲۰۱۹ زکال

داګست د میاشتې جهادي خبرونه

کندهار

خاکریز کې شوبله ویجاړه پکې سپاره عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د مندګک په سیمه کې د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه ترسره شوه، دچاودنې له امله شوبله ویجاړه اوپکې سپاره عسکر ټول ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱

حاکریز کې موټر سایکل ویجاړ ۲ عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت خاکریز ولسوالۍ اړوند دشرغې دوراهې په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په موټرسایکل چاودنه وشوه چې له امله یې موټرسایکل ویجاړ اووربانديې سپاره ۲تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱

معروف کې په پلي عسکرو دماین چاودنه وشوه

دکندهار ولایت دمعروف ولسوالۍ اړوند د فانزو په سیمه کې د اجیرو عسکرو په پلې ګزمه چاودنه وشوه ، دچاودنې له امله عسکروته مرګ ژوبله واوسته خوکره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۱

شاولیکوټ کې ماین د ۳ عسکرو ژوندواخست

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند کوندلانو په سیمه کې د مزدور دشمن پر پلیو عسکرو چاودنه وشوه، دچاودنې له امله ۳ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱

پنجوایي کې پوسته فتحه، ۱۵ عسکر او اربکیان مړه اوژوبل ۲شوبلې او ۲ موټر ویجاړ ګڼ مهمات نیول شوي

دکندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د تلکان په سیمه کې دمیروز دکلي داریکیانو په پوسته بریدونه ترسره شول، دبریدونو په پایله کې پوسته په ټولیزه توګه فتحه، ۸ تنه شریر اربکیان قتل او دپوستې قومندان نعمت اویوبل اربکی ژوبل شول، په پوسته کې ګڼ شمېر مهمات اووسلې دمجاهدینو لاس ته ورغلې، یوه شوبله او یو رینجر موټر یې وسوځېدل، همداراز په سیمه کې له کومکي عسکرو سره هم نښتي وشوې چې په پایله کې یې یوه شوبله اویو لوکسل موټر ویجاړ ۲ تنه عسکر ځای په ځای قتل او ۳ ژوبل شول، په پېښه کې ۳ تنه مجاهدین زخمیان شول. ۲۰۱۹/۸/۲

خاکریزکې ۲ عسکر دلبر په مب ورل شوي

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې په سیمه کې د نویو جوړو شویو پوستو ۲ تنه عسکر په لیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲

میوندکې شوبله ویجاړه ، یو عسکر ددرازکوف په مټ وژل شوی

د کندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ اړونـد د کلاشنامپر د رنګریزانو مانده په سیمه کې د اجیرو عسکرویه شوبله چاودنه وشوه، دچاونې له امله شوبله ویجاړه اوپکې ناستوعسکروته مرګ ژوبلـه واوسـته، په سیمه کې یوتن عسکر ددرازکوف په برید کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۳

حاکریز کې تکتیکي چاودني ۲عسکرقتل ۲ژوبل کړ

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهي په سیمه کې د اجیرو عسکرو په پلې ګزمه تکتیکي چاودنه وشوه چې له امله یې ۲تنه عسکر ځای په ځای قتل او یوبل ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۳

ارغنداب کې کاز موټر ۳ عسکر وژل شوي

دکندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور د سرپه سیمه کې مزدورو عسکرو پر کاز موټر چاودنه وشوه ، دچاودني له امله موټر ویجاړ اوپکې سپاره ۳ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳

کندهارسارکې په جلاپیسوکې یوقومندان قتل او یو افسر ژوبل شوی

دکندهار ولایت دمرکز کندهاربنار د ځوارلسمې حوزې د ډیرو دیله په سیمه کې دلویې ویالې پرغاړه د مزدورو عسکرو قومندان (عزت الله) دمجاهدینو دغلچکي بریدپه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. همداراز دکندهار بار دشپږمې حوزې د ډنډ ځلور لارې په سیمه کې دکابل اداري یوتن افسر هغه مهال سخت ژوبل شو چې په لوکسل موټریې چاودنه وشوه، په چاودنه کې د نوموړي موټر تخریب شو. ۲۰۱۹/۸/۳

میوندیه جلاپیسوکې ۴ عسکر د لیزري وسلو په برید کې وژل شوي

دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ د زرغون کندک اړوند سیمه کې تنه عسکر د لیزري وسلو په برید کې وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول، دغه راز دیادي ولسوالۍ اړوند دکلا سامپر په سیمه کې دجوګرم دکندک ۲ تنه عسکر د لیزري وسلو په برید کې ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه،۵ تنه عسکر په ماین چاودنو کې وژل شوي

دکنـــدهار ولایـــت دشـــاولیکوټ ولســـوالۍ اړونـــد د مـــانو او کوندلان سیمو ترمابین د اجیرو عسکرو پـه شـوبله چاودنـه وشـوه چې له املې یې شوبله ویجاړه اوپکې سپاره ټول عسکر ځای په ځای ووژل شول، همداراز په سیمه کې ددښمن په پلیو عسکرو هم یوه چاودنه وشوه چې له املې یې ۲تنه عسکر ووژل شول، دغـه راز په همدې سیمه کې د یوبـل مـاین چـاودني ۳ تنـه نـور عسـکر ووژل . د۲۰۱۹/۸/۳

شاولیکوټ کې یو تن اریکی قتل موترسایکل یې مجاهدینوته پاتې شوی

کندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د تنګي په سیمه کې دکمین په بریدکې یوتن اریکی ځای په ځای قتل اوموټرسایکل یې مجاهدینوتـه پـه لاس ورغی. ۲۰۱۹/۸/٤

خاکریز کې یو عسکر درازکوف په مټ قتل شو

دکندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهې په سیمه کې یوتن عسکر ددرازکوف په مټ وویشتل شـو اوځـای پـه ځـای ووژل شـو، وروسـته سـیمې تـه نـور عسـکر پـه بـایفور مـوتر کـې راورسیدل چې دمجاهـدینو تروسـلوال بریـد لانـدې راغلـل، پـه بریدکې دیمن تـه دوراوښـتو تلفـاتو پـه اړه کـره معلومـات نـه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۹/۸/٤

میوندکې ۲ عسکر د لیزري وسلو په برید کې ووژل شول

د کندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند د سره بغل په سیمه کـې د مزدورو عسکرو دکنډک ۲تنـه پیـره داران د لیـزري وسـلو پـه مـټ ووشتل شول اوځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/٤

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه سپاره عسکر پکې ووژل شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسـوالۍ اړونـد د چنـار او بادغسر تـر مابین د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه ترسره شوه، دچاودني له املې شوبله ویجاړه اوپکې سپاره ټول عسـکر ځـای پـه ځـای ووژل شـول. ۲۰۱۹/۸/٤

کندهارېارکې یو عسکر په یکتیکي چاودنه کې ووژل شو

د کنـــدهار ولاـــت دمرکـــز کندهارســـار اړونـــد ددوهمـــې حوزې دقادري سرای په سیمه کې دتکتیکي ماین په چاودنه کـې دکابل اداري یوتن عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/٤

شاولیکوټ کې نفوذي مجاهدینو۱۴ تنه عسکر قتل وسلې اومهمات یې راوسولې

دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د تورکوتل پـه سـیمه کې د مزدورو عسکرو په ۲ پوستو کې نفـوذي مجاهـدینو هلتـه پـه میشتو عسـکرو بریـد وکـړ او ۱۴ تنـه عسـکر یـې ووژل، لـه بریـد وروسـته مجاهـدین ددسـمن لـه ۹ میلـه سـپکو اودرنـو وسـلو اومهماتـوسره روغ رمـټ ترخیلـو ملګـرو پـوري راورسـیدل. ۲۰۱۹/۸/٤

بولدک کې ددښمن ۴ وسائط وسوځول شول

د کندهار ولایت د بولدک ولسوالۍ اړوند دتوري دېوستې اړوند سـیمه کـې دنلاتـو پوسـتې تـه خبرمـه دکابـل اداري ۴ وسـائط دمجاهدینوله لورې وسوځول شول. ۲۰۱۹/۸/۵

خاکریز کې یوتن عسکر ووژل شو

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهې په سیمه کې یوتن عسکر چې خپلې پوسـتې تـه یـې اوبـه وړلـې دوسـلوال بریدیه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۵

خاکریز کې ۳ عسکر د لیزري وسلو په برید کې ووژل شول

دکندهار ولایت د خـاکریز ولسـوالۍ اړونـد د شرغـې دوراهـې پـه سیمه کې د مزدورو عسکرو په پلې ګزمه برید ترسره شـو چـې پـه مهال یې ۳ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۵

شاولیکوټ په چاودنوکې یو رینجر موټر او دېلې ګزمې ۲ عسکر له منځه تللي

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د چنار پـه سـیمه کـې دکابل اداري د عسکرو په پلې ګزمه چاودنه وشوه چې له املـه یـې ۲تنه عسکر ځای په ځـای ووژل شـول،همداراز پـه سـیمه کـې د اجیرو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه چې له املې یې شـوبله یـې ویجاړه اوپکې سپاره عسکر ووژل شول.۲۰۱۹/۸/۵

میونداو شاولیکوټ کې ۳ عسکر د لیزري وسلو په برید کې وژل شوي

دکندهار ولایت دمیونـد ولسوالۍ اړونـد د بنـدتیمور پـه سـیمه کـې د مزدورو عسکرو ۲تنه د لیزري وسلو په برید کې وویشتل شول اوځای په ځای ووژل شول، همداراز دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د زنګټان په سیمه کې دقرارګاه یوتن عسکر دلیزر په مټ وویشتل شـو اوځـای پـه ځای ووژل شو.۲۰۱۹/۸/٦

کندهارښارکې یومشهورقومندان اودهلمند د والي خاص ملګرې ووژل شو

دکندهار ولایت دمرکز کندهارښار د خوارلسمې حوزې اړوند د منزل باغ جاده په سیمه کې دواشپر ولسوالۍ وحشي او غټ ظالم غل دسنګوري اربکیانو مشهور قومندان د هلمند ولایت دکابل اداري دوالي خصوصي ملګري (حاجي سیدمحمد استاد) دمجاهدینو دغلچکي بریدیه ترځ کې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/٦

ارغنداب کې رینجر ویجار ۷ عسکر پکې قتل یو ژوبل شو

د کندهارولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور د برمو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په رینجر موټر چاودنه ترسره شوه، دچاودني له امله رینجر ویجار اوپکې سپاره ۷ تنه عسکر قتل اویوبل ژوبل شو، همداراز په هغه عسکرو د ماین چاودنه وشوه چې سیمې ته راورسیدل، په چاودنه کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۷

پنجوایي کې په قرارګاه برید ۴ عسکر قتل ۳ ژوبل شول

د کندهار ولایت دپنجوایي ولسوالۍ اړوند د دوآب په سیمه کې د مزدورو عسکرو پر قرارګاه بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ۴ تنه عسکر قتل، ۳ تنه ژوبل اوپاتې یې په تېښته ولاړل، په ننته کې یوتن مجاهد هم دشهادت لورمقام ته ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۷

ډنډکې زغروال ټانګ ویجارپکې سپاره برغلګر ووژل شول

دکندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ اړوند دارغسان د رود پر غاړه دخونسیزو په سیمه کې دیرغلګرو په زغروال ټانګ چاودنه وشوه، دچاودني له امله ټانګ په ښپره توګه ویجار اوپکې سپاره ټول برغلګر عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۷

ارغستان کې یوهومندان دکمین په ترځ کې ووژل شو

دکندهار ولایت دارغستان ولسوالۍ اړوند د مندي په سیمه کې دکابل اداري یوتن قومندان (تورجان خوندی) ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹.۸.۸

پنجوایي کې رینجر ویجار ۳ عسکر پکې ووژل شول

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د حاجي ګلو بابا په سیمه کې د مزدورو عسکرو پر یو رینجر موټر چاودنه وشوه، دچاودني له امله رینجر ویجار اوپکې سپاره ۳تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۸

میوندکې پوسته فتحه، ۷ عسکر قتل ګڼ مهمات ټیول شوي

د کندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند د رنګریزانو په سیمه کې د مزدورو عسکرو په ۲ پوستوبریدونه ترسره شول، د بریدونو په ترڅ کې یوه پوسته په تولیزه توګه فتحه اوپکې میشت ۷ تنه عسکر ځای په ځای قتل شول، همداراز ددښمن ٦ کلاشینکوفونه ، یوهاوان ، ۲ د سپوږمۍ دوربینان او نور مهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل، په پیښه کې یوتن مجاهد دشهادت لورمقام ته ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۸

پنجوایي کې یوقومندان له ساتونکي سره ژوبل شو

دکندهار ولایت دپنجوایي ولسوالۍ اړوند د دوراهي په سیمه کې د مزدورو عسکرو په پلي ګزمه چاونه وشوه چې له امله یې یوتن قومندان له ساتونکي سره ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

ارغنداب کې چاودني یوتن عسکر ووژل

دکندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د اماني په سیمه کې ددښمن په پلي ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې یوتن عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

ژېړی کې ۲ عسکر د لیزري وسلو په برید کې ووژل شول

دکندهارو لایت د ژېړی ولسوالۍ اړوند د سنزري په سیمه کې دګل اغا دپوستې ۲تنه عسکر د لیزري وسلو په برید کې وویشتل شول اوځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۹

میاښین کې یوعسکر دلیزر په مټ ووژل شو

دکندهار ولایت دمیانشین ولسوالۍ مرکز اړوند د لالاګي دپوستې یوتن عسکر دلیزر په مټ ووپشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

شاولیکوټ کې شویله ویجاړه پکې سپاره عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د ریګتان او کوندلانو ترمابین د مزدورو عسکرو په شویله چاودنه وشوه، دچاودني له امله شویله ویجاړه اوپکې

سپاره عسکر ټول ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۹

شاولیکوټ کې ماین چاودني ۳ عسکر ووژل

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوندد سره سخر په سیمه کې د مزدورو عسکرو په پلي ګزمه چاودنه ترسره شوه چې له امله یې ۳ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۹

خاکریز کې چاودنو ۲ عسکر قتل یوژوبل کړ

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د سیاه سنګ درې په سیمه کې د ګوداګیو عسکرو په پلیو عسکرو چاودنه ترسره شوه چې له املـه یې یوتن عسـکر خـای پـه خـای قتـل اوویـل ژوبـل شو، خـو شپږې وروسته په سیمه کې په دښمن دوهمه چاودنه وشوه چې له املـه یې یوبل عسکر ووژل شو. ۲۰۱۹،۸،۹

ژړی کې په پوسو برید ٦ عسکر وژل شوي

دکندهار ولایت د ژړی ولسوالۍ مرکز ته خیرمه د اجیرو عسکرو په ۲ پوستو بریدونه ترسره شول، په بریـدونو کـې دپوسـتو ټاورونـه تخریب یه یوه پوسته کې ۴ تنه عسکر اویه بله کې یې ۲ تنه ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۰

ارغستان کې دمهمقومندان په شمول ۵ تنه قتل معاون قومندان ژوبل شوی

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ اړوند د لوی دې په سیمه کې د مزدورو عسکرو پر رینجر موټر چاودنه ترسره شوه، دچاودنې له املـه رینجر په بشپړه توګـه ویجـاړ اویکـې دجهـانګیر دپوسـتې قومندان (قیوم) نقیب دقادر زوی او د تورلړم په شمول ۲ تنه نور عسکر قتل او دپوستې معاون قومنـدان (عبیدالله) سـخت ژوبـل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۰

پنجوایي کې تکتیکي چاودنې ۴ عسکروته مرګ ژوبله اړولې

دکندهار ولایت دپنجوایي ولسوالۍ په بازارکې د زمري خلـورلاري په سیمه کې په هغه عسکرو چې په تلاشي کولـو بوخـت ؤ چاودنـه وشوه، دچاودنې لـه املـه ۴ تنـه عسـکروته مـرګ ژوبلـه واوښـته . ۲۰۱۹/۸/۱۰

شاولیکوټ کې یو عسکر قتل موټرسایکل اوکلاشینکوف یې دمجاهدینولاس ته ورغلل

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړونـد د زرنګـاو پـه سـیمه کې د اجیر دښمن یوتن عسکر دکمین په بریـدکې خـای پـه خـای قتل شو، یو موټرسایکل اوکلاشینکوف یې دمجاهدینولاس ته ورغی. ۲۰۱۹/۸/۱٤

معروف کې یو عسکر قتل یو بل له موټرسایکل اوکلاشینکوف سره ونیول شو

دکندهار ولایت دمعروف ولسوالۍ اړوند د ثالثون پـه سـیمه کـې د اجیر دښمن په عسکرو بریدترسره شو، دبریـد پـه پایلـه کـې یـوتن عسکر خای په خای قتل یو بل یـې ژونـدی ونیـول شـو، همـداراز ددښمن یو موټرسـایکل اویـو کلاشـینکوف هـم دمجاهـدینولاس تـه ورغی. ۲۰۱۹/۸/۱٤

نښې کې په دښمن بریدشوی

دکندهار ولایت دنښې ولسوالس پرمرکز او داستخباراتو په ودانـۍ توغندیز برید وشو چې لـه املـه یـې دښـمن تـه تلفـات واوښـتل . ۲۰۱۹/۸/۱٤

خاکریز کې شوبله ویجاړه ، د قومندان په شمول ۴ عسـکر مړه اوژوبل شول

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهـي پـه سـیمه کې د اجیر دښمن دعسکرو پر شوبله ۲ چاودني وشوې، دچـاودنو لـه املـه شوبله تخریب اوپکـې ناسـتو عسـکرو تـه مـرګ ژوبلـه واوښـته، همداراز په سیمه کې په نورو پلیو عسکرو یوه بله چاودنه وشوه چې پـه پایله کې یې ۲ تنه عسکرخای په خای قتل او دقومندان فولاد په شمول ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۷

نښې کې په چاپه وهونکو برید کې دښمن ته تلفات واوښتل

دکندهار ولایت د نښې ولسوالۍ اړوند د پای ناوې په سیمه کې په هغه یرغلګر و او ګوداګیو عسکرو بریدونه ترسره شول چې سـیمې ته دالوتکویه مټ دچاپې په موخـه راسـکته شـول، پـه بریـدونوکې دښمن ته تلفات واوښتل خـوکړه شـمېره یـې نـه ده ترلاسـه شـوې. ۲۰۱۹/۸/۱۷

کندهار ښارکې یوتن عسکر ووژل شو

دکنـدهار ولایـت دمرکـز کنـدهار سـار اړونـد د باچاخـان د جادې دپوستې یوتن عسکر دمجاهدینو دغلچکې برید په تـرخ کې خای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۷

خاکریز کې موټر ویجاړ ۳ عسکر پکې وژل شو

دکندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهي په سیمه کې د اجیر دښمن دعسکرو یو سراچه موټر د بریدپه ترخ کـې پـه بشـپړه توګـه تخریـب اویکـې سـپاره ۳ تنـه عسـکر ووژل شـول. ۲۰۱۹/۸/۱۸

میوندکې یو عسکر له ۲کلاشینکوفونوسره مجاهدینوته تسلیم شو

دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند د کلانکیچې پـه سـیمه کـې دتـوري شـا دپوسـتې یـوتن عسـکر دحقانقویـه درک کولـوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شـو، نومـوړي لـه خـان سره ۲ کلاشینکوفونه هم مجاهدینوته راوړل. ۲۰۱۹/۸/۱۸

ارغستان کې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغستان ولسوالي مرکز ته خیرمه دجهادګیر دیوستي ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۸

میوندکي ۵ تنه عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالي اړوند د کلاشامیر د برجک دیوستي ۲تنه پلي عسکر دویشتونکی ماین په چاودنه کي خای په خای ووژل شول، وروسته په سیمه کي په هغو عسکرو چاودنه وشوه چې د وژل شویو عسکرو دجسدونو

انتقال ته راغلل، دغې چاودني ۳ تنه نور عسکر ووژل .۲۰۱۹/۸/۱۹

خاکریز کې ۲ عسکر ووېشتل شول

دکندهار ولایت د خاکریز ولسوالي اړوندد شرغي دوراهي به سیمه کې د اجیر دښمن په عسکرو برید ترسره شو چې په پایله کې یې ۲ تنه عسکر ووېشتل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۹

دامان کې دیرغلګرو زغروال ټانګ دماین ښکارشو

د کندهار ولایت د دامان ولسوالي اړوند د مرغان کېچې په سیمه کې دیرغلګرو یو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په پېښه کې ټانګ ویجاړ اوپکي ناستو یرغلګرو عسکروته مرګ ژوبله واوښته . ۲۰۱۹/۸/۱۹

ژرۍ کې دجانان دیوستي ۳ تنه عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د ژرۍ ولسوالي اړوند د حوض مدد دبازار اړوند سیمه کې دجانان دیوستي ۳ تنه عسکر دلیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۰

خاکریز کې ۴ عسکر ویشتل شوي

د کندهار ولایت دخاکریز ولسوالي اړوند د شرغي په سیمه کې ددښمن ددفاعي پوستو ۴ تنه عسکر دلیزري وسلو قتل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۰

میوندکي دیوستي ۲ عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالي اړوند د لوی کاریز په سیمه کې زرغون کنډک ته خیرمه د اجیر دښمن دعسکرو دیوستي ۲تنه عسکر دلیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۰

میوندکي ۲عسکر په لیږ ویشتل شوي اوبه پلي ګرمه چاودنه شوي

دکندهار ولایت د میوند ولسوالي اړوندد کلاښامیر د رنګریزانو په سیمه کې دکندهاري دیوستي ۲ تنه عسکر د لیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول، همداراز د کلاشامیر د شلغمي سیمې ته خیرمه د اجیر دښمن د عسکرو په پلي ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې عسکروته مرګ ژوبله واوښته . ۲۰۱۹/۸/۲۱

پنجوایي کې ددښمن تعرضي بریدونه په شاوخوا شول

دکندهار ولایت دپنجوایي ولسوالي اړوند د دوآب په سیمه کې د اجیر دښمن عسکرو تعرضي برید وکړ چې د تلفاتو په لیدلو سره په شا وتمبول شو، وروسته یوځل بیا دښمن تعرضي برید ترسره کړ چې بیاهم دمجاهدینولـه کلک مقاومت سره مخ شول او دښمن دتلفاتو په لیدلوسره په تېښته مجبور کړی شو. ۲۰۱۹/۸/۲۱

میوندکي ګډ دښمن ۲ کلیوال شهیدان کړي

دکندهار ولایت د میوند ولسوالي اړوند د بند تیمور د ریګن مانده په

سیمه کې یرغلګرو او ګوډاګیو عسکرو دملکي خلکوپه کورونو چاپه ووهله ، دچاپې په مهال دښمن ګن شمېر خلک وځوروول او ۲تنه کلیوال یې په ډېر وحشت سره په شهادت ورسول. ۲۰۱۹/۸/۲۲

کندهاربارکې قومندان ژوبل ساتونکی یې ووژل شو

دکندهار ولایت دمرکز کندهاربار اړوند د ددوهمې حوزې داحمدشاهي لوېغالي مخې ته یوتن قومندان (ګلالی) دغلچکی بریدیه ترڅ کې ژوبل اوساتونکی یې خای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۲

ارغنداب کې دقومندان په شمول ۵ تنه عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالي اړوند د مصرباد او خوجملک سیمو ترمابین دکابل ادراې دمصرباد دیوستي دقومندان (خان) په لوکسل موټر چاودنه ترسره شوه، دچاودني له امله موټر ویجاړ او دقومندا ن خان په شمول ۵ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۲

خاکریز کې شوبله ویجاړه پکې سپاره عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالي اړوند د منډګک ددښت په سیمه کې د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه، دچاودني له امله شوبله ویجاړه اوپکي ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/۲۲

میوندکې یوعسکر دلیزر په مټ ووژل شو

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلا سامیر په سیمه کې دجوګرم دپوستې یوتن عسکر دلیزر په مټ وویشتل شو اوخای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۳

ارغنداب کې رینجر ویجاړ یکې سپاره عسکر ټول ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور په سیمه کې د مزدورو عسکرو په رینجر موټر چاودنه وشوه چې له امله یې رینجر ویجاړ اوپکې سپاره ټول عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۳

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه سپاره عسکر یکې ووژل شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د زنګټان د برغولي په سیمه کې د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه، دچاودني له امله شوبله ویجاړه اوپکې سپاره عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۵

مرکز کې دکابل اداري داستخباراتي شبکې مهم غړی (فیض الله) ووژل شو

دکندهار ولایت دمرکز کندهار ښار اړوند د نهمې حوزې د نازک کوتې ته خیرمه دکابل اداري دظاهرشاهي لېسې مدیر او کابل اداري دجاسوسي شبکې مهم غړی دپخواني امنیه قومندان رازق نړدي ملګری (فیض الله) دمجاهدینو دغلچکي برید په ترڅ کې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲٤

میوندکې ۷ شوبلې یو رینجر موټر ویجاړ ۵ عسکر ددرازکوف په مټ وځل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلاسامېر اړوند د رنګریزانو په سیمه کې په اجیرو عسکرو بریدونه او چاودني وشوې، د نیسو په مهال ددښمن ۵ شوبلې د راکټونو په مټ او ۲ نورې شوبلې اوبورینجر موټر د ماینونو په وسیله ویجاړ او یکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، همداراز ددښمن ۵ تنه عسکر د درازکوف په مټ ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲٤

میوندکې ۲عسکر دلیزري وسلو ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلانکیچې په سیمه کې دباغ دپوستې ۲تنه عسکر په لیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۵

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه سپاره عسکر یکې ووژل شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د تورکوتل او زنګټان سیمې ترمابین د مزدورو عسکرو په شوبله قوي چاودنه وشوه، دچاودني له امله شوبله ویجاړه اوپکې سپاره ټول عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۵

ارغنداب کې په پوستو برید ۳ عسکر قتل دپوستې یوتاور ویجاړ شو

د کندهار ولایت دا رغنداب ولسوالۍ اړوند د خانه ګردآب په سیمه کې د اجیرو عسکرو په پوسته دلیزري وسلو برید ترسره شو چې په پایله کې یې په یوه پوسته کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او د دوهمې پوستې یوتاور د راکټ په مټ ویجاړ او دښمن ته یکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۲۵

پنجوایي په جلا بریدونوکې ۵ تنه اریکیان ووژل شول

دکندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د دوآب په سیمه کې ۳ تنه اریکیان په داسي حال کې چې یوه فصل ته یې اور ورکاوه په لیزري وسلو ووژل شول، همداراز په یاده سیمه کې دعیسی دپوستې ۲ تنه نور اریکیان دلیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۵

شاولیکوټ کې ویشتونکي ماین ۵ عسکروته مرګ ژوبله اړولې

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د چینار په سیمه کې په اجیرو عسکرو درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۵ تنه عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/۲٦

ارغنداب کې ماین چاودني ۵ تنه عسکر ووژل

دکندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور په سیمه کې ددښمن په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۵ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲٦

کندهارښار کې رینجر ویجاړ یوتن مهم افسر یکې وژل شوی

دکندهار ولایت د مرکز کندهارښار اړوند د پنځمې حوزې د احمدشاهي مېنې په سیمه کې د کابل اداري دیوتن افسر (حمیدالله) په رینجر موټر چاودنه وشوه، دچاودني له امله رینجر ویجاړ اوپکې یاد افسر ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲٦

ارغنداب کې رینجر ویجاړ ۵ عسکر یکې ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور په سیمه کې د مردورو عسکرو په رینجر موټر چاودنه ترسره شوه، دچاودني له امله رینجر ویجاړ اوپکې سپاره ۵ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲٦

شاولیکوټ کې چاودنې ۲ تنه عسکر ووژل

دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند کوندلانو په سیمه کې دکابل اداري دعسکرو په پلې ګزمه چاودنه وشوه چې له ملې یې ۲ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۶

شاولیکوټ کې پوسته فتح ٦ عسکر قتل ۴ ټویکونه یې ونیول شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د اردو بلاغ په سیمه کې د اجیرو عسکرو په پوسته بریدترسره شو، د برید په ترڅ کې پوسته فتحه، ٦ تنه عسکر خای په خای ووژل شول او نور په تښته ولاړل، په پوسته کې له دښمن څخه ۴ کارمولي ټویکونه هم دمجاهدینو لاس ته ورغلل.۲۰۱۹/۸/۲٦

میوند په جلابریدونوکې۳ تنه عسکر وویشتل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلاسامیر په سیمه کې دبصیرک دپوستې یوتن عسکر دلیزري وسلو وویشتل شو اوخای په خای ووژل شو، همداراز دیادي ولسوالۍ اړوند د سنګبر په سیمه کې یوتن عسکر ددرازکوف په مټ ووژل شو او په همدې سیمه کې یوبل عسکر هم د درازکوف په مټ ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲٦

میوندکې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلاسامیر په سیمه کې بریجک دپوستې ۲تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۷

ارغنداب چاودنې ۵ تنه عسکر وژلي

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د جوی لاهور د سر به سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې له املې یې ۵ تنه عسکر خای په خای ووژل شول . ۲۰۱۹/۸/۲۷

کندهارسارکې یون عسکر ووژل شو

دکندهار ولایت د مرکز کندهارسار اړوند د فیرو کلاچې په سیمه کې دخادو یوتن عسکر دمجاهدینو دغلچکي بریدپه ترڅ کې خای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۷

ژړی کې ددښمن په پوسته برید شوی

دکندهار ولایت د ژړی ولسوالۍ اړوند د حوض مدد په سیمه کې د قدرت په نامه پوسته باندې بریدترسره شو، د برید په ترڅ کې دښمن دتلفاتو په لیدلوسره له خپلې پوستې وتښتید. ۲۰۱۹/۸/۲۷

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه سپاره عسکر یکې ووژل شول

دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د کوندلانو د وچې خاشې په سیمه کې د اجیروعسکرو په شوبله قوي چاودنه وشوه، دچاودنې له املې شوبله ویجاړه اوپکې سپاره عسکر ټول خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۸

کندهار سارکې یوعسکر د بریدپه ترڅ کې ووژل شو

دکندهار ولایت د دمرکز کندهارسار اړوند د پنجوایي دوارهي په سیمه کې د سردار ولي دپوستې یوتن عسکر ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۸

خاکریز کې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې په سیمه کې یوتن عسکر په پوسته کې اویوبل عسکر په داسې مهال چې له شوبلې راسکته شو دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول اوخای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۸

شاولیکوټ کې ماین چاودنې ۳ تنه عسکر ووژل

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د کوندلانو د وچې خاشې په سیمه کې د اجیروعسکرو پر پلې ګزمه چاودنه ترسره شوه، دچاودنې له املې ۳ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۸

ارغستان کې موټر ویجاړ ۳عسکریکې قتل ۳نور ژوبل شوي

دکندهار ولایت دارغستان ولسوالۍ اړوند د توري ګاري په سیمه کې دعسکرو پر سراجه موټر قوي چاودنه وشوه، دچاودنې له املې موټر ویجاړ اوپکې سپاره ۳ تنه عسکر قتل او ۳ نور زوبل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۸

کندهارسارکې په غلچکي بریدکې یوعسکر ووژل شو

دکندهار ولایت دمرکز کندهارسار اړوند دپنجوایي دوراهي په سیمه کې دسردارولي دپوستې یوتن عسکر د غلچکي بریدپه ترڅ کې خای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۹

خاکریز کې یوتن مهم قومندان (فوجي) دماین په چاودنه کې ووژل ش

دکندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهي په سیمه کې داجیرو عسکرو یوتن مهم ماین پاکونکی قومندان (فوجي) د تکتیکي ماین په چاودنه کې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۹

کندهارسارکې موټر ویجاړ ۷ تنه عسکر یکې ووژل شول

دکندهار ولایت د مرکز کندهار سار اړوند د لویي ویالي د نرې پله په سیمه کې دګوډاګۍ اداري د امنیه قومندان تادین د عسکرو پر پلډر موټر چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر په بشپړه توګه ویجاړ اوپکې سپاره ۷ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۹

شاولیکوټ کې ۲ تنه عسکر دماین په چاودنه کې ووژل شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ و لسوالۍ اړوند د تورکوتل په سیمه کې ۲تنه عسکر د ویشتونکي ماین په مټ چاودنه کې ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۹

په هوایي اډه کې دیرغلګرو پر استوګنځای توغندیز برید شوی

د کندهار ولایت په هوایي اډه کې دیرغلګرو پر مهمه ځاله مجاهدینو ۲ توغندي وتوغول،توغندي په اډه کې دننه په هدفونو ولګېدل چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۲۹

میوندکې ۵ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د جوګرم په سیمه کې دکنډک ۳ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول اوځای په ځای ووژل شول، همداراز دیادي ولسوالۍ اړوند د رنګریزانو په سیمه کې هم د قرارګاه ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۹

شاولیکوټ په و بریدونوکې ۱۵ تنه عسکر ویشتل شوي

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د بادغسري په سیمه کې پر هغه عسکرو بریدونه ترسره شول چې سیمي ته دنوي قرارګاه جوړولو په موخه راغلي ؤ، د بریدونو په ترڅ کې د ۱۵ تنه عسکر وویشتل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۹

پنجوایي کې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

دکندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د دوآب په سیمه کې دعیسی محمد دپوستې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول او دپوستې ټاورونه دراکټونوپه مټ تخریب شول. ۲۰۱۹/۸/۲۹

میوندکې یوتن عسکر دلیزر په مټ ووژل شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د سره بغل په سیمه کې دکنډک یوتن عسکر دلیزر په مټ وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۳۰

خاکریز کې په پوستو برید ۴ شوبلې تخریب ۱۲ تنه عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د شرغې دوراهي په سیمه کې داجیرو عسکروپر ۲ پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو په مهال یوه پوسته فتحه اوبله پوسته ویجاړه شوه، همداراز ددشمن ۴ شوبلې ویجاړي شوې او ۱۲ تنه عسکر یې ځای په ځای ووژل شول، په پېښه کې یوتن مجاهد هم دشهادت لوړمقام ته ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۳۰

میوندکې ۴ تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلاسامیر په سیمه کې د عصمت په نامه دپوستې ۳ تنه عسکر د لیزري وسلو په مټ ووژل شول، همداراز په یاده سیمه کې د توري شا د پوستې یوتن عسکر دلیزر په مټ ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۳۰

ارغنداب کې رینجر ویجاړ پکې سپاره عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند دجوی لاهور په سیمه کې د دښمن په رینجر موټر قوي چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر ویجاړ اوپکې سپاره ټول عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳۰

د نېښ پر امنیه قومندانۍ بریدکې دسمن ته تلفات اوښتي

دکندهار ولایت د نېښ ولسوالۍ مرکز کې دامنیه قومندانۍ پر ودانۍ بریدترسره شو، د برید په مهال د قومندانۍ امنیتي ټاورونه ویجاړ شول اودښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته، ددښمن څرخي الوتکو هڅه وکړه چې له سیمي نه مړه اوژوبل عسکر ولېږدوي خو دمجاهدینو دبریدونو له ډاره بیرته په تېښته ولاړي. ۲۰۱۹/۸/۳۱

هلمند

ګرشک کې په پوسته برید ۵ پولیس قتل ۳ ژوبل شول

دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ بازار ته څیرمه د کرو په سیمه کې د مزدورو پولیسو په پوسته برید ترسره شو، د برید په مهال ۵ تنه پولیس ځای په ځای قتل او ۳ نور ژوبل شول، په پېښه کې دوه تنه مجاهدین د شهادت لوړمقام ته ورسېدل. ۲۰۱۹/۸/۱

مارجه کې نفوذي مجاهد یو پولیس وژلی او ۲توپکونه یې رارسولي

دهلمند ولایت دمارجې ولسوالۍ په مرکز کې یوتن قهرمان نفوذي مجاهد یوپولیس وواژه او له ۲ کارمولي توپکونو سره روغ رمټ برمجاهدینو پوری راورسید. ۲۰۱۹/۸/۲

هلمند ناوه کې ۲ سنګوري اربکیان وویشتل شول

د هلمند ولایت دناوې ولسوالۍ اړونـد دنـري زامـر پـه سـیمه کـې دسنګوري اربکیانو په پوسته ددرازکوف بریدونه وشول چې په پایله کې یې ۲تنه اربکیان وویشتل شول. ۲۰۱۹/۸/۲

ناوه په جلاپسوکې ۲ تنه اربکیان ویشتل شوي

دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ اړونـد د شایسـت خـان د ډراب پـه سیمه کې یوتن سنګوری اربکی ددرازکـوف پـه مـټ وویشـتل شـو اوځـای پـه ځـای ووژل شـو، همـداراز دیـادي ولسـوالۍ اړونـدد تریخ زابر په سیمه کې یوتن اربکی ددرازکـوف پـه مـټ وویشـتل شو اوژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۲

مارجه کې په پوستو برید ۷ تنه عسکر وپشتل شوي

دهلمند ولایت دمارجې ولسوالۍ اړونـد د کیمـپ پـه سـیمه کـې د مزدورو عسکرو په پوسـتوبریدونه وشـول، دبریـدونو پـه پایلـه کـې ۷ تنه عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/۲

ناوه کې ۳ تنه سنګوري اربکیان ویشتل شوي

دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ اړوند د نري زابر په سیمه کې ۳تنه سنګوري اربکیان ددرازکوفونو په مټ وویشتل شول. ۲۰۱۹/۸/۳

ناوه کې یو عسکر وویشتل شو

دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ اړوند د سرخـدوز پـه سـیمه کـې د مزدورو عسکرو په پوسته د لیزري وسلو په برید کـې یـوتن عسـکر وویشتل شو اوژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۳

دګرشک اوسنګین ترمابین په پلي عسکرو اوشوبله چاودني شوي دي

دهلمند ولایت دګرشک اوسنګین ولسوالیو ترمابین د توري شـا پـه سیمه کې سنګین ته پرغزیدلي سړک د اجیرو عسـکرو پـه شـوبله او پلیو عسکرو دوې جلا چاودني وشوې، دچاودنو له املـه شـوبله ویجاړه او عسـکروته مرګ ژوبله واوښته . ۲۰۱۹/۸/۳

نادعلي کې په پوستو برید ۳ تنه عسکر ویشتل شوي

دهلمند ولایت دنادعلي ولسوالۍ اړوند د هزارګانو دپارچاوې په سیمه کې د مزدورو عسـکرو او سـنګوري اربکیانویـه پوسـتوبریدونه تـرسره شول،دبریدونو په پایله کې ۴تنـه عسـکرو او اربکیانوتـه مـرګ ژوبلـه واوښته . ۲۰۱۹/۸/۳

سنګین کې شوبله ویجاړه پکې سپاره عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د هلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ اړوند د کریم کاریز په سیمه کـې د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه، دچاودني له املـه شـوبله ویجاړه اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/٤

هلمند:ګرمسیرکې ګډ دښمن د چاپې په مهال ملکي خلک ځوروللي

دهلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالۍ اړوند د خـره کـو پـه سـیمه کـې امریکایی پرغلګرو دخپلـو اجیـرو عسـکرو پـه ملتیـا د خلکـو پـه کورونو چاپه ووهله، دچاپې په مهال دښمن ګڼ خلک وځـوروول او له تالاشي وروسته له سیمې ولاړل. ۲۰۱۹/۸/٤

دګرشک اوسنګین ترمابین یو موټر ویجاړ یو عسکر پکې ووژل شو

دهلمند ولایت دګرشک او سنګین ولسوالۍ ترمابین دحیدراباد په سـیمه کـې د مـزدورو عسـکرو یـو کـاز مـوټر دکمـین پـه تـرڅ کې ویجاړ اویوتن عسکر پکې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/٤

ناوه کې ۲ تنه سنګوري اربکیان وویشتل شول

د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ اړوندد نمرو په سـیمه کـې ۲ تنـه سنګوري

اربکیـان یـو پـه بـل پسـې د درازکـوف پـه مـټ وویشـتل شـول . ۲۰۱۹/۸/٤

ناوه کې په پوسته برید ۲ پیرداران وویشتل شول

دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ اړونـد دسرخـدوز پـه سـیمه کـې د اجیرو عسکرو پر پوسته بریدترسره شو، دبرید په پایله کې دپوستې ۲تنه پیره داران وویشتل شول. ۲۰۱۹/۸/٤

ګرمسیرکې په پوسته برید ۴ تنه اربکیان وویشتل شول

دهلمند ولایت دګرمسیر ولسوالۍ اړونـد د خرکـو پـه سـیمه کـې د سنګوري اربکیانو په پوسته برید تـرسره شـو چـې پـه مهـال یـې خلورتنه اربکیان وویستل شول. ۲۰۱۹/۸/٤

درابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ اړوند د سپین مسجد په پوسته بریدترسره شو چې په پایله کې یې پوسته فتحه، د ۷ تنو عسکرو مړي په پوسته کې پاتې شول، په پوسته کې یوثقیل ، یوراکټ ، یو دراکزوف ، ۳ کارمولي بویکونه ، اوګڼ نور مهمات وتیول شول، همداراز دیادي ولسوالۍ اړوندد حسن کاریز په سیمه کې ددښمن په مهمه پوسته بریدترسره شو چې په پایله کې یې پوسته په نولیزه توګه فتحه او ګڼ شمېر عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته چې ۱۵ تنه ووژل شویو جسدونه یې په پوسته کې پاتې شول، په پوسته کې یوه شوبله ویجاړه شوه اوګڼ شمېر وسلې اومهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۸/۱

ارغنداب کې دولسوالۍ پرمرکز اوپوسو بریدونه شوي

د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ اونورو مراکزو ، هراول او دچپه بند اوسره سخر په سیموکې د مزدورو عسکرو اوپولیسو په پوستو بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۱

شېنکی ته ځیرمه له ۳ پوستو عسکر په تېسته تللي دي

د زابل ولایت دشېنکی ولسوالۍ ته ځیرمه دلوړګي دملکیزو کلي له شاوخوا سیمو له ۳ پوستو دکابل اداري عسکر دمجاهدینو دوسلوالو بریدونوله ډاره وتښتېدل. ۲۰۱۹/۸/۱

دایچویان کې ۳تنه عسکر د لیزري وسلو په برید کې ووژل شول

په ځای قتل او وسله یې مجاهدینولـه خـان سره راوړه ۲۰۱۹/۸/۳۰



مرکز قلات کې یوه شوبله دراکټ په مټ ویجاړه ۸ تنه عسکر ووژل شول

د زابل ولایت د مرکز قلات اړوند د سپیني غبرګي په سیمه کې ددښمن په تولې،بریدترسره شو چې له امله یې دمرکز تاوران تخریب شول اویوه شوبله دراکټ په مټ ویجاړه شوه، په دې علاوه په پېښو کې ۸ تنه عسکرو ژوند له لاسه ورکړ، همداراز په قلات بازارکې یوتن پولیس دغلچکي بریدپه ترڅ کې په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ د لیزري وسلو په برید کې چې په پایله کې یې ۳ تنه عسکر ووژل شول.
۲۰۱۹/۸/۱

شملزو کې مهم مرکز فتحه ۲۴ تنه عسکر قتل او ګڼ وسایل ونیول شول

د زابل ولایت د شملزو ولسوالۍ مرکز ته نژدې د مزدورو عسکرو مهمه قرارګاه دمجاهدینو دبریدپه ترڅ کې فتحه شوه، په قرارګاه کې دمشهور اوظالم قومندان (دل اغا) په شمول ۲۴ تنه عسکر ووژل شول، ۲غټې کودان مخابري، ۲ راکټونه ، ۳ کارمولي توپکونه،۲ امریکایي ثقیلان،یو هاوان، یو نارنجک، ۵۸ د راکټ مرمي،۳۱ دهاوان مرمي،۱۰۴۳۶ دکارمولي توپکونو مرمي، ۲۴۶۰ د ثقیل مرمي، ۵ لاسي بمونه ، ۴ د اګایز مرمي، ۲ د ورځني دوربینان ، یوه کوچنۍ مخابره او یوه اندازه نقدي روپۍ اونور مهمات هم ونیول شول، په پیسه کې ۲ تنه مجاهدین زخمیان اویویل دشهادت لورمقام ته ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۱

شهرصفاکې یوه شوبله دماین ښکارشوه

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند د حاجي عبدالعزیز اکا پمپ ته خیرمه د مزدورو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه ، دچاودنې له امله شوبله ویجاړه اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوسته، همداراز په سیمه کې له اربکیانو سره هم نښته وشوه خو دتلفاتو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي.
۲۰۱۹/۸/۲

سیوري کې ۵ شوبلې او ۳ موټر ویجاړ،۲۰ تنه عسکر قتل یوه شوبله اوګڼ مهمات یې نیول شوي دي

د زابل ولایت د سیوري ولسوالۍ اړوند د اخندحیلو کلي نه خیرمه لرې ددښمن په موبریزکاروان یوه چاودنه وشوه چې له امله یې یو رینجر موټر ویجاړ او پکې سپاره ۵ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول، وروسته په دښمن بریدترسره شو چې په مهال یې ۵ شوبلې او ۲ کماز موټر په بشپړه توګه ویجاړ او د ۱۵ تنه وژل شویو عسکرو جسدونه یې دجګړې په ډګر پاتې شول، همداراز له دښمن څخه یوه شوبله ، ۳ کارمولي توپک ، ۴ ثقیلان ، یو راکټ ، یو ماین پال ، یو لیپ ټاپ کمپیوټر اوګڼ شمېر مرمي اونور مهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۸/۲

شاجوی ۳ عسکرقتل ۲ژوبل او له ۴ پوستو عسکر تبسیدلي دي

د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ مرکز په ۵۰ متري کې دماین په چاودنه کې دکابل اداري ۳ تنه عسکر خای په خای قتل او ۲نور ژوبل شول، همداراز دشاجوی ولسوالۍ مرکز ته خیرمه د سپین مسجد، بازرګان ،د چینو د بره خان او داندړو کلي له سیمو څخه دکابل اداري عسکر له خپلو مهمو ځلورو پوستو دمجاهدینو دبریدونو له ډاره په تېښته ولاړل. ۲۰۱۹/۸/۲

مرکز قلات کې موټر تخریب ٦ عسکر پکې ووژل شول

دزابل ولایت دمرکز قلات اړوندد خالا په سیمه کې دکابل اداري یو عسکرویریدترسره شو، د برید په مهال یوورینجر موټر تخریب اوپکې سپاره ٦ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳

شهرصفاکې یو عسکر قتل اویوبل ژوبل شو

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند د حاجي اسحاقزي اکا دمانده په سیمه کې دکمین په ترڅ په اجیرو عسکرویریدترسره شو چې په مهال یې یوتن عسکر خای په خای قتل اویوبل ژوبل شو ۲۰۱۹/۸/۳

شملزوکې شوبله ویجاړه ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوسته

د زابل ولایت دشملزو ولسوالۍ اړوند د څنځیر د آډې پرکندک بریدترسره شو، دبرید په مهال یاد کندک ته خیرمه یوه شوبله دراکټ په مټ ویجاړه اوپکې سپاره ۳ تنه عسکرو ته مرګ ژوبله واوسته .
۲۰۱۹/۸/۳

شاجوی بازارکې دکرباغو دپوستې قومدان له ساتونکي سره ووژل شو

دزابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ په بازارکې دهمدي ولسوالۍ دکرباغو دپوستې قومندان له خپلې یوه ساتونکي سره دمجاهدینو دغلچکي بریدپه ترڅ کې خای په خای قتل او موټر یې وروسوځول شو. ۲۰۱۹/۸/۳

شاجوی کې عسکر دچینو د (شګې) له پوستې وتښتیدل

دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ اړوند د چینو سیمې د شګو(سګو) له پوستې دکابل اداري عسکر دمجاهدینودبریدونو له ډاره وتسیدل ۲۰۱۹/۸/۳

شاجوی کې ۳ پوستې فتحه، یوتانګ دماین ښکارشو

د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ دبازار پای ته ددښمن داکالاتي کاروان یوتانګ ویجاړ اوپکې ناست عسکر ټول خای په خای ووژل شول، همداراز دیادي ولسوالۍ اړوند د تازي سیمې د انتن پوسته داندړو کلي دپای پوسته ، اوګاجوی پوسته په بشپړه

توګه فتحه او ددسمن عسکر دتلفاتو په لیدلوسره په ټپنسته ولاړل. ۲۰۱۹/۸/٤

ارغنداب کې یوتن عسکر ژوندی ونیول شو

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د ده افغانانو په سیمه کې یوتن عسکر (عرب) چې پټ کورته راغلی ؤ داستخباراتو معلوماتو پر بنسټ په داسې مهال چې دسرخ سنګ پوستې ته روان ؤ ژوندی ونیول شو. ۲۰۱۹/۸/٤

مرکز قلات کې ۲تنه عسکر ووژل شول

د زابل ولایت مرکز قلات ښار اړوند د کندهار خواته په دروازه کې ۲ تنه عسکر ددرازکوف په مټ ورېښتل شول اوخای په خای ووژل شول.۲۰۱۹/۸/٤

شینکۍ کې یوتن اریکی مجاهدینوته تسلیم شو

دزابل ولایت دشینکۍ ولسوالۍ اړوند د غوندۍ دکلي اوسیدونکی یوتن اریکی (کجیر) دحقائقوپه درک کولوسره مجاهدینوته تسلیم شو. ۲۰۱۹/۸/٤

سیوري کې په قرارګاه اوپوستو برید ۳ تنه عسکر وژل شوي

د زابل ولایت دسیوري ولسوالۍ اړوند د خړ بند پر قرارګاه ، دګرابند په پوسته او دکوچني ښاره سیمې ته خیرمه د عسکرو په پوسته بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ۳ تنه عسکر له منځه ولاړل. ۲۰۱۹/۸/۵

دایچوپان کې یوه پوسته فتحه، ، ګڼ مهمات ترلاسه شوي اودښمن ته درانه تلفات اوښتي

د زابل ولایت ددایچوپان ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ ، بېس او امنیتي پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو په ترڅ کې دزیکویک په نامه پوسته فتحه، د ۷ تنه وژل شویو عسکرو جسدونه پکې پاتې شول او په نورو پوستو اومرکزونوکې هم دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته ، په فتحه شوي پوسته کې له دښمن څخه یو درازکوف ، یوثفیل ، اومرمۍ دمجاهدینو لاس ته ورغلي اوګڼ مهمات ترخاورو لاندې شول، په پېښه کې ۳ تنه مجاهدین زخمیان اویویل دشهادت لورېمقام ته ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۵

مرکز قلات په جلاپېسوکې ۷ عسکر قتل ۲ژوبل او ۳تنه یې ژوندي نیول شوي

دزابل ولایت دمرکز قلات اړوند د نوي نورک په سیمه کې د اجیر دسمن په پلیو عسکرویریدترسره شو چې په پایله کې یې ۳ تنه عسکر خای په خای قتل او ۲نور ژوبل شول، همداراز دنوي نورک پرکندک بریدترسره شو چې په مهال یې ۴تنه عسکر خای په خای قتل شول، دغه راز په یاده سیمه کې ۳تنه عسکر دمجاهدینوله لورې ژوندي ونیول شول. ۲۰۱۹/۸/۵

دشملزو ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ برید ۸ کاندیویان قتل ۳تاورونه ویجاړ شوي

د زابل ولایت د شملزو ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ بریدترسره شو، د برید په مهال ۳ دفاعي تاورونه ویجاړ ۸ تنه کاندیویي عسکر ووژل شول، په دې سربیره پولیسو او داردو عسکرو ته هم مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې، په پېښه کې ۵ تنه مجاهدین زخمیان او ۳تنه شهیدان شول. ۲۰۱۹/۸/۵

شهرصفاکې رینجر تخریب ٦ عسکرقتل یوژوبل شوی

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند دملتني مانده په سیمه کې د مزدورو عسکرو په رینجرموټر بریدترسره شو، دبرید په پایله کې رینجر موټر تخریب او پکې سپاره ۳تنه عسکر خای په خای قتل اویویل ژوبل شو، همداراز په سیمه کې په پلیو عسکرو هم برید ترسره شو چې په مهال یې دګزمې مشر احسان الله په شمول ۳ تنه عسکر ژوبل شول. ۲۰۱۹/۸/۵

میزانه کې رینجر ویجاړ پکې سپاره ټول عسکر ووژل شول

د زابل ولایت دمیزانې ولسوالۍ اړوند د تکپر په سیمه کې دبریت پوستې رینجر موټر د ماین په مټ ویجاړ اوپکې سپاره ټول عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۷

مرکز قلات کې دقومندان تورجان په شمول ۲ عسکرقتل ۲نور ژوندي ونیول شول

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند دسپیې غبرګې په سیمه کې دکمین په ترڅ کې د مزدورو عسکرو قومندان تورجان او دوه تنه عسکر خای په خای قتل او ۲تنه نورې یې ژوندي ونیول شول. ۲۰۱۹/۸/٦

ارغنداب کې شوبله ویجاړه پکې سپاره عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د چپه بند په سیمه کې دکابل اداري دعسکرویه شوبله چاودنه وشوه، دچاودنې له امله شوبله ویجاړه اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته . ۲۰۱۹/۸/٦

شهرصفاکې رینجر ویجاړ پکې سپاره عسکرونه مرګ ژوبله واوسته

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند د هزارتک په سیمه کې د مزدورو عسکرو پر رینجر موټر چاودنه وشوه، دچاودنې له امله رینجر ویجاړ اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته .
۲۰۱۹/۸/٦

مرکزقلات کې یوتن تښتیدونکی عسکر ونیول شو

دزابل ولایت دمرکز قلات اړوند د سپینې غیرګې له پوستې یوتن تښتیدونکی عسکر دمجاهدینوله لوري ژوندی ونیول شو اوقضیه یې داسلامي امارت شرعي محکمې ته وسپارل شوه. ۲۰۱۹/۸/۸

مرکز قلات کې ۵ شوبلې ویجاړي ۱٦عسکرقتل ګڼ مهمات نیول شوي

او ددایچوپان ولسوالۍ له مرکزه عسکر تښتیدلی

دزابل ولایت د مرکز قلات د نوي نورک بیا دظافرخیلو سیمې پورې دکابل اداري دعسکرو ۵ شوبلې وسلوالو بریدونو او چاودنو له امله په بشپړه توګه ویجاړي شوې، ۱٦ تنه عسکر یې قتل شول، همداراز ددښمن ۴ کارمولي توپکونه ، یو اګاییزو یونټیل ، یوراکټ اوګڼ شمېر مرمۍ اونورمهمات ونیول شول، دغه راز د زابل ولایت ددایچوپان ولسوالۍ مرکز چې دهمدې ولسوالۍ دبایلوغ په سیمه کې یې موقعیت او په سپینه ولسوالۍ سره یې شهرت درلود د ډښمن عسکرو تخلیه کړل او ټول دمجاهدینو دبریدونوله ډاره وتسټبدل. ۲۰۱۹/۸/۹

ارغنداب کې یو عسکر دلیزر په مټ ووژل شو

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوندد چپه بند په پوسته کې یوتن عسکر دلیزر په مټ وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

سیوري کې نفوذي مجاهد یوعسکر وژلی ۲میله وسلې یې له ځان سره راوړي

د زابل ولایت دسیوري ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ کې یو تن نفوذي مجاهد یوتن عسکر وواژه او ددښمن له یو راکټ اویو اګاییز سره روغ رمټ تر خپلو ملګرو پورې راورسېد. ۲۰۱۹/۸/۹

مرکز قلات کې یوعسکر ددرازکوف په مټ ووژل شو

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند د میزانې پر سړک د کلا کلي ته خیرمه یوتن عسکر ددرازکوف په مټ وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

دایچوپان کې ۲ عسکر تسلیم شوي اوبه مرکز قلات کې یوعسکر ووژل شو

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ په مربوطاتوکې ۲تنه عسکر چې دهرات ولایت اوسیدونکي ؤ دحقانقوبه درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شول، د یوبل خبر له مخې د مرکز قلات اړوند د سپینې غبرګې په سیمه کې یوتن عسکر د بریدپه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو ۲۰۱۹/۸/۱۳

ارغنداب کې یو عسکر ددرازکوف په مټ ووژل شو

د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په نظام قراول کې یوتن عسکر ددرازکوف په مټ وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱٤

مرکز قلات کې دیوستې ۳ عسکر دلیزري وسلو ووژل شول

د زابل ولایت د مرکز قلات اړوند د بالبست دپوستې ۳ تنه عسکر دلیزري وسلو په بریدکې ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۸

شاجوی کې یوتن عسکر مجاهدینوته تسلیم شو

د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ اړوند د سرورقلعه سیمې اوسیدونکی یوتن عسکر میرویس دحقانقوبه درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شو. ۲۰۱۹/۸/۱۸

شهرصفاکې ګډ دښمن دچاپې په مهال ۳تنه کلیوال شهیدان او ۴تنه له ځان سره وړي

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند د حاجي عبدالعزیز پمپ ته خیرمه د ګلاب شاه اکا پر کلي یرغلګرو او د اجیر دښمن عسکرو دتانګونو او الوتکوبه مټ چاپه ووهله، دچاپې په مهال دښمن ۲ تنه کلیوال او یومیلمه په شهادت ورساوه او ۴ تنه نور کلیوال یې له ځان سره یورل. ۲۰۱۹/۸/۱۹

مرکز قلات کې دبالست دپوستې یوعسکر ووژل شو

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند د بالبست د پوستې یوتن عسکر ددرازکوف په مټ وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۸

میزانه کې ۲ تنه عسکر مجاهدینوته تسلیم شول

د زابل ولایت دمیزاني ولسوالۍ په مربوطاتوکې ۲ تنه عسکر (محمد اسماعیل او سیداحمد) چې په مرکز قلات کې یې په لېوا کې دنده ترسره کوله دحقانقوبه درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شول. ۲۰۱۹/۸/۲۰

شملزوکې یوتن پولیس مجاهدینوته تسلیم شو

د زابل ولایت د شملزو ولسوالۍ اړوند د ګردي ټوغي دکلي اوسیدونکی یوتن پولیس (مهاجر) دحقانقوبه درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شو. ۲۰۱۹/۸/۲۰

مرکز قلات کې ۵ تنه عسکر قتل وسلې اومهمات یې دمجاهدینولاس ته ورغلل

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند دنوي نوروک په سیمه کې داسلامي امارت مجاهدینو دکمین په ترڅ کې د اجیر دښمن پر عسکرو بریدترسره شو چې په پایله کې یې ۵ تنه عسکر قتل و وسلې اومهمات یې دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۸/۲۰

مرکزقلات کې ۴ نور عسکر وژل شوي

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند د خواشو دپوستې ۲ تنه عسکر د وسلوال بریدپه ترڅ کې خای پرخای ووژل شول، همداراز یوتن عسکر دبازار پای ته اویوبل بیا دسپینې غبرګې په سیمه کې په بریدونو کې قتل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۰

نوبهارکې تروخت تېر درمل ضبط او وسوخول شول

د زابل ولایت دنوبهار ولسوالۍ په مرکز کې داسلامي امارت دصحت عامه مسؤولینو یوه اندازه تر وخت تېر درمل او خوراکي توکي ترکشفولو وروسته ضبط او بیا په عام محضرکې وسوخول . ۲۰۱۹/۸/۲۱

مرکزقلات کې شوبله ویجاړه ۲ عسکر وژل شوي

د زابل ولایت د مرکز قلات اوند دسپیني غبرګي په سیمه کې د اجیر دښمن په عسکرو برید او دماین چاودنه وشوه، دبرید اوچاودني له امله یوه شوبله ویجاړه ۲ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۱

دارغنداب ولسوالۍ پرمرکز بریدکې ۴ عسکر وژل شوي

د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ بریدترسره شو چې په ترڅ کې یې ۴ تنه عسکر خای په خای قتل شول، همداراز په سیمه کې له نورو عسکرو سره هم نښته وشوه چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۲۲

دایچوپان کې دېس ۳ تنه عسکر دلیزر په مټ ووژل شول

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ دبایلوغ سیمه کې د کابل اداري د عسکرو په پېس کې ۳ تنه عسکر دلیزري وسلو وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۲

مرکز قلات کې داستخباراتو درئیس ساتونکی قتل موتر یې دمجاهدینولاس ته ورغلی

د زابل ولایت د مرکز قلات په بازارکې دکابل اداري دهمدي ولایت داستخباراتو درئیس یوتن ساتونکی دغلجکي بریدپه ترڅ کې قتل او موتر یې دمجاهدینو له لاس ته ورغی. ۲۰۱۹/۸/۲۲

ارغنداب په وسلوالو بریدونوکې ۵ تنه عسکر وژل شوي

د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د توت ، قراول اوزیکویک پر پوستو بریدونه ترسره شول چې په مهال یې ۵ تنه عسکر ووژل شول.۲۰۱۹/۸/۲۳

ارغنداب کې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو ووژل شول

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند دسره سخر په پوسته د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په مهال یې ۲ تنه عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲۴

شاجوی کې ۲تنه عسکر مجاهدینوته تسلیم شول

دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ اړوند د یخاب سیمې د ججوب کلي اوسیدونکی ۲تنه عسکر شفا محمد اودهغه زوی عصمت الله دحقانقوبه درک کولوسره مجاهدینوته تسلیم شول . ۲۰۱۹/۸/۲۴

دایچوپان کې ۴ عسکر د لیزري وسلو ووژل شول

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ مرکزي ودانۍ ته دکابل اداري عسکر راغلل چې تر بریدونو لاندې راغلل، دبرید په پایله کې ۴ تنه عسکر قتل اوپاتې نورې بیرته دښمن پر لوري وتښتیدل. ۲۰۱۹/۸/۲۴

مرکز قلات کې ۲تنه عسکر ووژل شول

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند د خواشو سیمه کې د مزدورو عسکرو پوستې ته خیرمه د بریدپه ترڅ کې یوتن عسکر خای په خای ووژل شو، همداراز د مرکز قلات اړوند د سپینې غبرګي په سیمه کې هم یوتن عسکر د برید په پایله کې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۴

شهرصفاکې ۲ عسکر دلیرري وسلو وژل شوي

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند د دوسرې دپوستې ۲ تنه عسکر دلیزري وسلو په برید کې ووژل شول. ۲۵/۸/۲۰۱۹

خاک افغان کې یوتن عسکر مجاهدینوته تسلیم شو

د زابل ولایت د خاک افغان ولسوالي په مربوطاتوکي یوتن عسکر فیض الله دحقانقوپه درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شو.
۲۰۱۹/۸/۲۵

دایچوپان کې په بېس اوبوسته برید ۳۰ تنه عسکر قتل تر ۲۰ زیات ژوبل ګڼ مهمات نیول شوي

د دایچوپان ولسوالي مرکز ته خیرمه دبایلوځ سیمې په بېس او امنیتي پوسته بریدونه ترسره شول، د برید له امله د بېس اوبوستې ودانۍ تخریب، ۳۰ تنه عسکر قتل او تر ۲۰ تنه دېر نور ژوبل شول، ددسمن ګڼ شمېر مهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل، به بېسه کې ۵ تنه مجاهدین زخمیان او ۳ تنه دشهادت لوړمقام ته ورسېدل.
۲۰۱۹/۸/۲۵

مرکز قلات کې قرارګاه فتح ۲۰ تنه عسکر قتل یو عسکر اوګڼ مهمات نیول شوي

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوندد سپینې غبرګې په سیمه کې دکابل اداري دعسکروپر مهمه قرارګاه بریدونه وشول، دبریدونو په پایله کې قرارګاه په فتحه، ۱۵ تنه عسکر ځای په ځای قتل یوتن یې ژوندی ونیول شو، همداراز ددسمن پوراکټ ، یوټیل ، یو کارمولي توپک ، یو ه دهشکه اوګڼ شمېر مرمي اونور مهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل، په پېښه کې یوتن مجاهد زخمي اویوبل دشهادت لوړمقام ته ورسید . ۲۰۱۹/۸/۲۵

مرکز قلات کې دجاسوسي شبکې یوغړی قتل یوزویل یو موتر اوکلاشینکوف یې مجاهدینو راورسول

د زابل ولایت د مرکز قلات اړوند د لیککو په کوشه کې دکابل اداري دجاسوسي شبکې پرغړو غلچکي برید ترسره شو چې په مهال یې یو تن کارمند قتل اویوبل سخت ژوبل شو، له پېښې وروسته مجاهدین ددسمن له یوه بایفور موتر اویو کلاشینکوف سره روغ رمټ ترخپلو مرکزونو پورې راورسېدل. ۲۰۱۹/۸/۲۶

ارغنداب کې دپوستې ۳ عسکر د درازکوف په مټ ووژل شول

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالي اړوند د سره سخر په سیمه کې د اجیرو عسکرو دپوستې ۳ تنه د درازکوف په مټ وویشتل سول اوخای په خای ووژل سول. ۲۰۱۹/۸/۲۷

ارغنداب کې یوتن عسکر ددرازکوف په مټ ووژل شو

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالي اړوند د سره سخر په سیمه کې دپس یوتن عسکر ددرازکوف په مټ وویشتل شو اوخای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۸

ارغنداب کې ددسمن په ډزو ۲ ماشومان شهیدان یوه نجۀ اویوبل ماشوم زخمیان شول

د زابل ولایت دارغنداب ولسوالي دسرخ سنګ کلي په سیمه کې عسکرو دفقیر اکا پرکور د راکټ بریدونه وشول چې له املې یې دوه تنه ماشومان شهیدان یوه نجۀ اویوبل ماشوم زخمیان شول.
۲۰۱۹/۸/۲۸

شاجوی کې ۲تنه عسکر قتل اویوبل ژوبل شو

دزابل ولایت د شاجوی ولسوالي اړوند د کرباغو په سیمه کې پر پلیو عسکرو بریدترسره شو، دبرید په پایله کې ۲تنه عسکر ځای په ځای قتل اویوبل ژوبل شو، وروسته په سیمه کې له نورو عسکرو سره هم تښته وشوه چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل، په جګړه کې ۲تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل. ۲۰۱۹/۸/۲۸

شملزوکې عسکرو یو لیونی شهیدکړی

د زابل ولایت د شملزو ولسوالي مرکزکې عسکرو یوتن لیونی (عبدالمالک) په ډزو باندې شهید شو. ۲۰۱۹/۸/۲۹

ارغنداب کې د سلام شرکت تاور له منځه یووړل

د زابل ولایت په ارغنداب ولسوالي کې داسلامي امارت مجاهدینو د سلام په نامه داستخباراتي شبکې د موبایل تاور له منځه وړی او جنراتور او نور آلات یې مجاهدینو له خان سره یووړل. ۲۰۱۹/۸/۲۹

ارغداب کې دښمن په مسجد دهاوان بریدکړی یو سپین ږیری شهید۴ کلیوال زخمیان شول

د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالي اړوندد سرخ سنګ دسرکلي پر مسجد د لمانځه مهال دګوداګي اداري عسکرو دهاوان په مټ برید وکړ، دبرید په پایله کې مسجد تخریب شو، یوتن سپین ږیری پخوانی جهادي قومندان محمدعلي شهید شو او۴ تنه کلیوال لمونځ کونکي زخمیان شو.۲۰۱۹/۸/۲۹

میزانه کې ګډ دښمن یو پخوانی مرکز او۴ اوطاقونه نړولي اوحلکونه یې تلفات اړولي

د زابل ولایت د میزاني ولسوالي اړوند د شپکان بازار په سیمه کې برغلګرو او عسکرو چاپه ووهله، دچاپې په مهال یې په سیمه

کې یو زور پخوانی جهادي مرکز او ۴ اوطاقونه ونړول او دملکي خلکو یو موټر او ۴ عرادي موټرسایکل یې وسوځول. ۲۰۱۹/۸/۳۰

مرکز قلات کې ۳تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ ووژل شول

د زابل ولایت دمرکز قلات اړوند د سپنک پله په سیمه کې دجاسوسې شکې اړوند ۳تنه عسکر دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول، همداراز د ظافرخیلو په سیمه کې ددښمن پر موټریزکاروان بریدترسره شو چې ډیر ښمن ته یکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۳۰

شهرصفاکې ۲ عسکر ووژل شول

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوندد مریم مانده په سیمه کې د اجیرو عسکرو په پوسته بریدترسره شو، په برید کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او دښمن ته مالي زیان هم واوښت. ۲۰۱۹/۸/۳۰

شاجوی کې گډ دښمن ۲ کلیوال شهیدان او ۲نور له خان سره وړي دي

د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ اړوند موسی زو دغوندی په کلي گډ دښمن چاپه ووهله، دښمن دچاپې په مهال ۲تنه کلیوال شهیدان او ۲تنه نور له خان سره یووړل. ۲۰۱۹/۸/۳۱

دایچوپان کې په پوسته برید ۷ تنه عسکر ووژل شول

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ اړوند د نورالحق په پوسته دلیزري وسلو په مټ برید ترسره شو چې په پایله کې یې ۷ تنه عسکر وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳۱

د اتغر ولسوالۍ پرمرکزي ودانۍ اویوستو بریدونه شوي

د زابل ولایت د اتغر ولسوالۍ پرمرکزي ودانۍ اوتولو امنیي پوسنو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوسته خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې، وروسته ددښمن الوتکویه سیمه کې بمبار وکړ چې له املې یې ۳تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل.۲۰۱۹/۸/۳۱

نوبهارکې ددښمن رینجروبجار پکې سپاره عسکر ووژل شول

د زابل ولایت دنوبهار ولسوالۍ اړوند د لوړګي د رضایي په سیمه کې یورینجرموټر د مایز په چاودنه کې په بشپړه نوګه ویجار اویکې سپاره ټول عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳۱

شاحوی کې ددښمن عسکرو یوټن کلیوال شهید اویوبل رحمي کړ

د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ اړوند د حسن کاریز په سیمه کې ددښمن عسکرو په ملکي خلکو دهاوانونو دزې وکړې چې له املې یې یوټن کلیوال اسماعیل شهید او یوبل کلیوال سردار زخمي شو. ۲۰۱۹/۸/۳۱

مرکز قلات کې ددښمن ۲ ضربتي ټانګونه ویجار پکې سپاره عسکر ووژل شول

د زابل ولایت د مرکز قلات اړوند د ظافرخیلو او خان کلي په سیموکې دکابل کندهار پر لویه لاره دعسکرو ۲ ضربتي ټانګونه ویجار اوپکې سپاره ټول عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳۱

فراه

دپشترود ولسوالۍ مرکز په هاوانونو وویشتل شو

د فراه ولایت دپشرود ولسوالۍ په مرکز - چې له شاوخوا ۴۰ ورځو راهیسې دمجاهدینو نرمحاصرې لاندې دی - دهاوان بریدونه ترسره شول، د بریدونو په مهال په ټینه شوي هدفونه وویشتل شول چې له املې یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۱

بکواکې درون الوتکي موټر ویجار ۲ کلیوال شهیدان کړل

د فراه ولایت د بکوا ولسوالۍ اړوند کارېر د مېلې په سیمه کې دیرغلګرو درون الوتکي دملکي خلکو پر سراچه موټر بمبار وکړ چې له املې یې موټر وسوځېدل اویکې سپاره ۲تنه کلیوال شهیدان شول. ۲۰۱۹/۸/۱

بالابلوک کې ددښمن په دزو ۲ ملکي وګړي شهیدان ۴ زخمیان شوي

د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند د ګنج اباد په سیمه کې اجیرو عسکرو دملکي خلکویه کورونو د دیسي توپ بریدونه وکړل چې له املې یې شیرین قصاب اکا یوه لور شهیده شوه او دکورنۍ ۳ نور غړي یې زخمیان شول، همداراز دهمدي ولسوالۍ د سیاه خنګل په سیمه کې فراه رود ته پرعزیدلي سړک عسکرو دملکي خلکویر موټر دزې کوړې چې له املې یې په موټرکې یوه ښځه شهیده او یوه بله زخمي شوه. ۲۰۱۹/۸/۱

فراه مرکز کې نفوذي مجاهد یو موټر ، یوپولیس او ۳میله وسلې راوړسولې

دفراه ولایت دمرکز فراه ښار اړوند د درېیمې حوزې په مربوطاتوکې داسلامي امارت یوټن نفوذي مجاهد ددښمن یو ټغیل ، یو کلاشینکوف ، یوه ټوینګچه یو ریمجر موټر اویوټن پولیس مرمجاهدینوپوري راوړسول. ۲۰۱۹/۸/۲

جوین کې مرستیال ولسوال ووژل شو

د فراه ولایت دجوین ولسوالۍ اړوند د لاش قلعه په سیمه کې مرستیال ولسوال عبدالرحیم د تکتیکي بریدبه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲

بالابلوک په وسلوالو بریدونوکې دښمن ته مرګ ژوبله واوسته

د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند دسیاه څنګل، تخسیرک، کال قلعه ، دهزکه ، خواجه خضر ، شیوان ، شیخ لالا ، ګراني ، ګنج اباد او کنسک په سیموکې دکابل اداري تر محاصره لاندې پوسټو اومرکزونو باندې بریدونه ترسره شول، همداراز دکمپنۍ په نامه قرارګاه باندې تعرضي برید ترسره شو، په بریدونوکې دښمن ته دسراومال دروند زیان واوښت خوکره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۲

بالابلوک کې په پوسته دهاوان برید شوی یو پولیس ددرازکوف په مټ قتل شوی

د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د زیارت دپولیسو په پوسته دهاوان برید ترسره شو چې دښمن ته یې تلفات واوښتل. همداراز د یادي ولسوالۍ اړوند د پیردمبال دزیارت د عوندۍ دپوستې یوتن پولیس په درارکوف وویشتل شو او ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲

بالابلوک کې ۳ عسکر قتل قومندان ژوبل شو

دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند دشیوان په سیمه کې ددومنزله پوستې قومندان دلیزر په مټ وویشتل شو اوژوبل شو، همداراز د غلامي دپوستې او د دیسي دپوستې ۳ تنه عسکر د درازکوف په مټ وویشتل شول اوځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۳

بالابلوک کې یوپولیس قتل اویوژوبل شو

دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د پیردمبال د زیارت دپولیسو دپوستې ۲تنه پیره دار پولیس د لیزري وسلو په برید کې وویشتل شول چې یو یې ځای په ځای قتل اوبل ژوبل شو، همداراز دیادي ولسوالۍ دشیوان په سیمه کې هم ددښمن پر پوستو بریدونه وشول خو دتلفاتو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۹/۸/٤

پرچمن کې ۲۰ تنه پولیس مجاهدینوته تسلیم شوي

دفراه ولایت دپرچمن ولسوالۍ اړوند د فاسک ناوې د غوجې او ولېمه کلیو ۲۰ تنه پولیس دحقانقوبه درک کولوسره دسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شول، په تسلیم شویو پولیسو کې غلام حیدر ، حفیظ الله ، غلام نبي ، احمد ، علاؤ الدین ، محمدرسول ،محمدظریف ، عبدالله جان ، ظریف ، بهاء الدین ،فاروق ،عبدالله ، احمد دمحمد زوی، عبدالحکیم ، محمد ، احمدد غلام نبي زوی ، جان محمد ، دوست محمد ، بازمحمد اوجانداد شامل دي. ۲۰۱۹/۸/٦

بالابلوک کې وسلوالو بریدونو د اجیرو عسکرو ته درانه تلفات اړولي دي

دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند دګراني ، نواباد او کنسک په سیموکې د دښمن په موټریزکاروان بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل، همداراز دتخسیرک په سیمه کې ددښمن دډیسي په نامه مهم مرکز باندې دهاوانونو بریدونه وشول چې له امله یې په مرکز کې د وسلو زیرمتون اور واخیست اودرنې چاودنې پکې وشوې چې له امله یې هلته میشت عسکر شاوخوا سیموته وتښتیدل، په تښتیدونکوعسکرو بریدونه ترسره شول چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/٦

فراه :مرکز کې تانګ ویجاړ ۲ عسکر پکې ژوبل شول

دفراه ولایت دمرکز اړوند د دهیک په سیمه کې د اجیرو عسکروپر تانګ دچریکي مجاهدینوله لورې بریدترسره شو چې په پایله کې یې تانک تخریب اوپکې سپاره ۲تنه عسکر ژوبل شول۲۰۱۹/۸/۷

پشرودکې دعسکرو پر موټریزکاروانبریدترسره شو

دفراه ولایت دپشترود ولسوالۍ اړوند د چین افغاني په سیمه کې په هفه موټریزکاروان چې د ولایت مرکز ته پر لاره ؤ بریدترسره شو، په برید کې دښمن ته د ور اوښتو تلفاتو کره شمېره نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۷

دفراه رود ولسوالۍ پر مرکز برید دښمن ته درانه تلفات اړولي

د فراه ولایت د فراه رود ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ دهاوانونو او ایس پي جي ۹ ټوپ په مټ بریدونه ترسره شول چې دهاوان لس مرمۍ او دایس پي جي باین ٦ مرمۍ دولسوالۍ په مرکز کې په مهمو نقطو ولګېدلې او له امله یې په ولسوالۍ کې اور ولګېد، همداراز دولسوالۍ په مرکز برید ترسره شو چې په

مهال يې ۳ تاورونه ويجار، ګڼ شمېر عسکر مړه او ژوبل او په دې سربيره دښمن ته درانه مالي تلفات واوښتل، په جګړه کې يوتن مجاهد دشهادت لورمقام ته ورسېد، دښمن له دارە دملکي خلکوپر کورونو دهاوانونو او ډيسي توپونوپه مټ بريدونه وکړل چې دمالي تلفاتو ترڅنګ يې په بازارکې ديوې نانوايي ۳ تنه کارکونکي اويوتن کليوال (عبدالباري) په شهادت ورسېد. ۲۰۱۹/۸/۷

مرکز کې دکابل اداري داستخباراتو مدير ووژل شو

د فراه ولايت مرکز فراه ښار اړوند د ګنج په سيمه کې دکابل اداري داستخباراتو مدير (سمونيار محمدعوض دبکوا ولسوالۍ دپوليسو داستخباراتو مدير) دمجاهدينو دغلجکي بريدپه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۹

مرکز کې ټانګ تخريب تحريب ۴ عسکر ژوبل شوي

د فراه ولايت د مرکز فراه ښار اړوند د نمايندګۍ په سيمه کې د پوليسو په امنيتي پوسته بريدترسره شو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خوکره شمېره يې نه ده ترلاسه شوې، همداراز ددښمن يوټانګ دراکټ په مټ ويجار شو او يکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته، دغه راز دفراه ښار اړوند د دهيک په سيمه کې داردوپر قرارګاه برید ترسره شو چې په مهال يې ۴ تنه عسکر ژوبل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۰

بالابلوک کې يوه شوبله دماين سکارشوه

دفراه ولايت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند د نعلک مانده په سيمه کې اجير دښمن په شوبله چاودنه وشوه چې له امله يې شوبله ويجاړه اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/۱۴

فراه رودکې دښمن ۲ ملکي خلک له خان سره بنديان کړي

د فراه ولايت د فراه رود ولسوالۍ اړوند د سپانځي په سيمه کې وحشي دښمن دالوتکوپه مټ دملکي خلکوپر کورونو چاپه ووهله ،دچاپي په مهال دښمن خلک وځورول او د بيرته تلوپه مهال يې ۲تنه کليوال له خان سره يووړل. ۲۰۱۹/۸/۱۴

مرکز کې قومندان قتل يو پوليس ژوبل شو

د فراه ولايت دمرکز فراه سار اړوند د نمايندګيو په سيمه کې دپوليسو دپوستې قومندان عبدالخالق دليزري وسلې په مټ ووژل شو اويوبل پوليس ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۵

مرکز کې ددښمن په ډزو ملکي خلکو ته تلفات واوښتل

دفراه ولايت دمرکز فراه ښار اړوند د نمايندګۍ په سيمه کې د ګودامګۍ اداري عسکرو دملکي خلکوپر کورونو ډزې وکړې چې له امله يې ملکي خلکوته تلفات واوښتل . ۲۰۱۹/۸/۱۵

بالابلوک کې د اجير دښمن عسکر له يوه مهم مرکز نه په تېښته تللې دفراه ولايت ديالابلوک ولسوالۍ اړوند کنسک په سيمه کې د اردو عسکر دريګ ريشن دکمينې له مهم مرکز نه چې له تېرې يوې مياشتې راهيسې دمجاهدينو ترکلکې محاصرې لاندې وۥ په تېښته ولاړل. ۲۰۱۹/۸/۱۵

مرکزکې ظالم قومندان قتل ۲ ساتونکي يې ژوبل شول

د فراه ولايت دمرکز فراه ښار اړوند د باغ نو او باغ پل ترمابين دننګ اب د سمت امر ظالم قومندان (جانان) دمجاهدينو دغلجکي بريدپه ترڅ کې قتل او ۲ ساتونکي يې ژوبل شول. ۲۰۱۹/۸/۱۵

پرچمن کې مهم اريکی قومندان ووژل شو

دفراه ولايت دپرمن ولسوالۍ مرکز ته خيرمه داريکيانو مهم قومندان (ظاهر) دتکتيکي بريدپه ترڅ کې ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۶

مرکز کې يوتن مهم ضابط ووژل شو

د فراه ولايت دمرکز فراه ښار اړوند د خلورمې ناحيې په سيمه کې د اجير دښمن د عسکرو يوتن مهم ضابط (معين الدين) دمجاهدينو د تکتيکي په مهال قتل اوتوپنګچه يې مجاهدينوله خوا سره راوړه. ۲۰۱۹/۸/۱۷

بالابلوک کې يو عسکر ژوندی ونيول شو

د فراه ولايت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د کنسک په سيمه کې يوتن عسکر (عنايت الله) دمجاهدينوله لورې ژوندی ونيول شو. ۲۰۱۹/۸/۱۷

بالابلوك كې يوتن عسكر ژوندی ونيول شو

د فراه ولايت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د دهزکي په سيمه کې يوتن عسکر (عتيق الله) د مجاهدينوله لوري له خپلو اسنادو سره ژوندی ونيول شو.۲۰۱۹/۸/۱۸

مرکز کې دقومنداني مهم کارمند ووژل شو،ددښمن ۲ تعرضي بريدونه په شاښبول شوي

دفراه ولايت د مرکز فراه ښار د عسکراباد پله په سيمه کې دهمدي ولايت د امنيه قومنداني مهم کارمند (

عبدالغفار) دتلاشي په مهال ووژل شو، وروسته په سيمه کې دسمن دوه خله تعرضي بريدونه وکړل چې دتلفاتو په لیدلوسره په شا وتمبدل. ۲۰۱۹/۸/۱۹

شپېکوه کې دسمن دسخو اوماشومانوپه ګډون ملکي خلګ سخت خوروئ

دفراه ولایت د شپېکوه ولسوالۍ اړوند سیموکې د ګډ دښمن عسکرو په ګڼ شمېرالوتکو کې دملکي خلکو پر کورونو په ډېره تېته ارتفاع کې الوتنې کولې او دشښک اودهزک ترمابین یې یو موټر ته الوتکې کښنولې او موټرچلونکی یې سخت ووهل او شځې اوماشومان یې وخوروول.۰۱۹/۸/۱۸

مرکز کې د لاسي بم برید کې یو پولیس ژوبل شو

دفراه ولایت دمرکز فراه شار اړوند د باغ پل په سیمه کې دیرجګ په پوسته دلاسي بم برید ترسره شو چې په پایله کې یې یوتن پولیس ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۹

بالابلوک کې یوعسکر دشپې له دوربین سره مجاهدینو ته تسلیم شو

د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ اړوندد پیر دمبال په سیمه کې یوتن پولیس (سعدالدین) دحقانۍ په درک کولوسره داسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شو. ۲۰۱۹/۸/۲۰

مرکز کې د اجیر دښمن دجاسوسي شبکې مهم غړی ووژل شو

دفراه ولایت دمرکز فراه سار اړوند د نمایندګي په سیمه کې د اجیر دسمن دجاسوسي شکې مهم غړی احمدشا دمجاهدینو دغلجکي بریدپه ترڅ کې ځای په ځای قتل او مخابره یې دمجاهدینولاس ته ورغله. ۲۰۱۹/۸/۲۰

مرکز په برید کې ۳تنه پولیس قتل او ۵ نور ژوبل یوټانګ ویجاړ ګڼ مهمات نیول شوي

د فراه ولایت دمرکز فراه شار اړوند د حیدرقلعه په سیمه کې په هغه پولیسو او عسکرو بریدونه ترسره شول چې عوښتل یې په سیمه کې یوه نوي پوسته جوړه کړي، په بریدونوکې یو ټانګ تخریب شو، ۳ تنه پولیس قتل او ۵ تنه نور ژوبل شول او دیوستې لپاره ټول راوړل شوي لوازم اومهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۸/۲۱

پشتکوه کې ۳ پولیس قتل ۴ مېله وسلې اوموټر یې مجاهدینو له ځان سره راوړي

د فراه ولایت دپشتکوه ولسوالۍ په بازار کې په پولیسو غلجکي برید ترسره شو چې په مهال یې ۳ تنه پولیس ووژل شول، وروسته مجاهدین ددښمن له ۳ کلاشینکوفونو او یو جلسه توبک اویو پلدر موټر سره روغ رمټ ترخپلو مرکزونو پورې راورسیدل. ۲۰۱۹/۸/۲۱

پشترود کې یو عسکر قتل اویوبل ژوبل شو

د فراه ولایت د پشترود ولسوالۍ مرکز کې یوتن عسکر دلیزر په مټ وویشتل شو ځای په ځای قتل اویوبل عسکر ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۱

مرکز کې د اجیر دښمن یوتن کارمند ووژل شو

د فراه ولایت دمرکز اړوندد میدان څلور لارې په سیمه کې د اجیر دښمن د مستوفیت یوتن کارمند(جمال الدین) دغلجکي برید په ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۱

مرکز په برید کې دکابل اداري عسکروته تلفات اوښتي

د فراه ولایت دمرکز فراه شار اړوند د عسکراباد پله په سیمه کې دکابل اداري دفطعه خاص کاندویې خواک په هغو عسکرو بریدترسره شو چې سیمې ته دکمین نیولو په موخه راورسیدل، په برید کې ددښمن عسکر د درنو تلفاتو په لیدلوسره په تېښته مجبورکړی شول، په پېښه کې ۳ تنه مجاهدین سرسرکې زخمیان شول. ۲۰۱۹/۸/۲۳

پشترود کې یو عسکر ووژل شو

د فراه ولایت د پشترود ولسوالۍ مرکز کې یوتن عسکر ددرارکوف په مټ وویشتل شو اوخای برخای ووژل شو، همداراز دولسوالۍ په مرکز د بم افګن بریدونه وشول چې دښمن ته یکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۸/۲٤

پشترودکې دهاوان برید دسمن ته تلفات اړولي

دفراه ولایت د پشرود ولسوالۍ پر مرکز دهاوان برید ترسره شو، په برید کې هدفونه وویشتل شول چې له املې یې دسمن ته تلفات واوښتل.۲۰۱۹/۸/۲٤

فراه رود کې یوتن پولیس ژوندی ونیول شو

د فراه ولایت د فراه رود ولسوالۍ اړوند د اب خورما په سیمه کې هرات ته پرغزیدلي سړک یوتن بولیس (اقبال) چې دهمدې ولسوالۍ د اننتن په پوسته کې یې دنده ترسره کوله ژوندی ونیول شو . ۲۰۱۹/۸/۲۵

پشترودکې دسمن دچاپې په مهال خلکوته مالي زیانونه اړولي یو کلیوال یې بندي کړی

دفراه ولایت د پشترود ولسوالۍ اړوند د گسکین په سیمه کې د گډ دسمن عسکرو دالوتکوپه مټ چاپه ووهله، دښمن په سیمه کې دملکي خلکو گڼ کورونه کړل او د چاپې په مهال یې په سیمو بمبار هم وکړ چې له امله یې خلکوته درانه مالي زیانونه واوستل، دښمن یوتن کلیوال عبدالجبار هم له ځان سره یووړ. ۲۰۱۹/۸/۲٦

د پشترود ولسوالۍ پرمرکزي ودانۍ دهاوان په مټ برید ترسره شو

دفراه ولایت د پشترود ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ دهاوان برید ترسره شو، د برید په مهال دهاوان ۴ مرمۍ د ولسوالۍ په انگړ کې ولگېدې چې له امله یې دښمن ته تلفات واوستل. ۲۰۱۹/۸/۲٦

بالابلوک کې ددښمن په پوسته بریدشوی

د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د پیر دمبال په سیمه کې دپولیسو په پوسته د ایس پي جي ۹ توپ په مټ برید ترسره شو، په پېښه کې دښمن ته د وراوښتو تلفاتو په اړه کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۹/۸/۲۷

مرکز کې د سمت آمر او ۲ پولیس قتل ۲نور ژوبل شول

دفراه ولایت د مرکز فراه ښار اړوند هوایي ډگر ته څیرمه دکمین په ترڅ کې دپولیسو پر رینجر موټر برید ترسره شو، دبرید په پایله کې رینجر تخریب او پکې د سمت د آمر (خدامراد) په شمول ۲تنه پولیس ځای په ځای قتل او ۲نور ژوبل شول، ددښمن ۴ کلاشینکوفونه هم دمجاهدینولاس ته ورغلل، ددښمن په متقابلو ډزو یوتن ملکي وگړی او ۲تنه مجاهدین زخمیان شول. ۲۰۱۹/۸/۲۸

بالابلوک کې گډ دښمن یوتن لیونی کلیوال دچاپې په مهال شهیدکړی

د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند دشیوان په سیمه کې یرغلگرو او عسکرو دالوتکوپه مټ دملکي خلکو پر کورونو چاپه ووهله، دچاپې په مهال گډ دښمن ملکي خلک وځورول ، کورونه یې ورتلاشي کړل او دکورونو دیوالونه اودروازې یې دمنفجره موادو په مټ تخریب کړې، همداراز یې یوتن کلیوال عبدالله جان چې لیونی هم و په ډېر وحشت په شهادت ورساوه. ۲۰۱۹/۸/۲۸

بالابلوک کې په چاپه وهونکو بریدترسره شو

د فراه ولایت دبابلوک ولسوالۍ اړوند د شیوان په سیمه کې په هغه یرغلگرو اودگوډاگۍ اداري پر عسکرو بریدونه ترسره شول چې سیمي ته دچاپې په موخه راغلي ؤ، په بریدونوکې دښمن ته تلفات واوښتل خوکره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۲۸

پرچمن کې ۱۱تنه اربکیان مړه اوژوبل ۳وسائط یې ویجاړ گڼ مهمات نیول شوی

د فراه ولایت د پرچمن ولسوالۍ اړوند د استوي ، خم باغون او قلعه نشته کلیو کې داربکیانوپر خلاف تصفیوي عملیات تر سره شول، د عملیاتو په ترڅ کې یادی سیمي په بشپړه توگه تصفیه ۵ تنه اربکیان قتل ٦ تنه نور نور ژوبل پاتي یې وتښتېدل، همداراز ددښمن یو پلډر موټر او ۲ ټانگونه ویجاړ شول او یو دشپې دوربین (Night vision) یو جلسه ټوپک ، ۳ کلاشینکوفونه ، ۷ موټرسایکلونه ، ۳ دورځي دوربینونه ، اوگڼ شمېر نور نظامي توکي اومهمات دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۸/۲۸

فراه رود کې معاون قومندان قتل موټر یې ویجاړ شو

د فراه ولایت د فراه رود ولسوالۍ اړوند د دوراهي په سیمه کې د پولیسو پر

پلډر موټر چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر ویجاړ اوپکې د اس د پوستې معاون قومندان (عبدالمتین) ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲۸

بالابلوک کې ددښمن په پوستو بریدونه شوي

د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند د کال قلعه په سیمه کې د اردو دگل اغا دسرای او دبازار پر پوستو د ایس پي جي ۹ توپ بریدونه وشول، همداراز د یادي ولسوالۍ اړوند د پیردمبال په سیمه کې هم دپولیسو په پوسته بریدونه وشول، په بریدونوکې دښمن ته تلفات واوستل خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۹/۸/۲۹

بالابلوک کې په پوستو بریدونه شوي

د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند د خواجه خضر په سیمه کې یوتن پیره دار ددرازکوف په مټ وویشتل شو اوژوبل شو، همدارار د پیر دمبال په سیمه کې دپولیسو په پوسته بریدونه ترسره شول چې دښمن ته پکې تلفات واوستل، په پېښه کې یوتن مجاهد زخمي شو. ۲۰۱۹/۸/۳۰

بالابلوک کې ۲ تنه پولیس قتل ۲نور ژوبل شول

د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ اړوند د پیردمبال په سیمه کې ددسمن په هغه قوه چې بریدونه ترسره شول چې سیمې ته کومک په موخه راغلې ؤ، په بریدونو کې ۲تنه پولیس خای په خای قتل او ۲ نور ژوبل شول، همدارازد دیادي ولسوالۍ اړوند د تخسیرک په سیمه کې ددسمن د ډیسې په نامه مهم مرکز باندې دهاوان ٦ مرمۍ وار شوي چې په هدف ولګیدې اودښمن ته پکې درومد زیان واوښت. ۲۰۱۹/۸/۳۱

مرکز کې مهم کارمند وویشتل شو

د فراه ولایت دمرکز فراه سار اړوند د ریګې په سیمه کې دمجاهدینو دعلجکې بریدپه ترڅ کې یوتن مهم کارمند (نورعلی) وویشتل شو اوسخت ژوبل شو. ۲۰۱۹/۸/۳۱

دایکندي

ناومښ کې په پوستو برید ۵ عسکر ووژل شول

د دایکندي ولایت د ناومښ ولسوالۍ اړوند د مشترک په سیمه کې د مزدورو عسکرو په ۲ پوستوبریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۵ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۸/۲

ګیزاب کې ۴ پوستې فتحه، ۲۰ تنه عسکر قتل ګڼ مهمات دمجاهدینولاس ته ورغلي دي

د دایکندي ولایت دګیزاب ولسوالۍ اړوندد پاتو په سیمه کې د مزدورو عسکرو پر ۴ پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو په مهال خلور واړه پوستې فتحه، ۲۰ تنه عسکر خای په خای قتل او پاتې یې په تپښته ولاړل، همداراز له دښمن څخه په زیاته اندازه وسلې اومهمات هم ونیول شول.۲۰۱۹/۸/۲

ګیراب کې له یوې پوستې دکابل اداري عسکر تبسیدلي

د دایکندي ولایت د ګیزاب ولسوالۍ اړوند د بزمې په سیمه کې له یوې پوستې څخه ټول عسکر د مجاهدینو د بریدونو له ډاره وتسټبدل او پوسته یې تخلیه کړه.۲۵/۸/۲۰۱۹

ګیزاب کې دکابل اداري عسکر له ۲ پوستو وتښتیدل

د دایکندي ولایت د ګیزاب ولسوالۍ اړوند د سنګ شیخ په سیمه کې دکابل اداري غولیدلي عسکر دمجاهدینو دبریدونو له ډاره له خپلو ۲ پوستو په تپښته ولاړل. ۲۰۱۹/۸/۲٦

کابل

کابل بسار کې د دښمن پوسته ویجاړه، ٦ پولیس مړه او ژوبل شول

د کابل بسار ۱۵ حوزې اړوند ۵۰۰ فامیلو سیمه کې د قرغستان د پوستې په داخل کې چاودنه وشوه چې له املې یې د دښمن پوسته ویجاړه او ٦ تنه پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱/۸/۲۰۱۹

موسهی کې چاودنې ۲ عسکر مړه او ژوبل کړل

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند پاینده خیلو سیمه کې په اجیرو عسکرو د ماین چاودنه ترسره شوه چې له املې یې ۲ عسکر مړه او ژوبل شول.۱/۸/۲۰۱۹

سرویې کې د دسمن ۲ ټانکر تخریب، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل- جلال اباد په لویه لاره، سرویې ولسوالۍ اړوند سیمه کې د دسمن په رینجرواو ټانکرو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ ټانکر تخریب، ۱ عسکر مړ او ۲ نور ژوبل شول. ۱/۸/۲۰۱۹

کابل بسار کې د صفریک قطعې مشهور جاسوس ووژل شو

د کابل بسار ټره خیلو کلي سره د میوند په نوم د صفریک قطعې په مشهور جاسوس برید وشو چې په مهال یې یاد ګودامګی ووژل شو. ۲/۸/۲۰۱۹

قره باغ کې رینجر تخریب، ۳ پولیس مړه او ژوبل شول

د کابل قره باغ ولسوالۍ اړوند باغ عارق سیمه کې په پولیسو برید ترسره شو، د برید په مهال د پولیسو رینجر تخریب، ۳ پولیس مړه او ژوبل شول. ۳/۸/۲۰۱۹

پغمان له دښمن سره جګړه کې ۲ ټانکونه تخریب، ۱۰ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل پغمان ولسوالۍ اړوند بره ارغندۍ حسن خیلو او قلعه نو کلیو ته دوې ورځې مخکې د اجیري اردو عسکر د عملیاتو په موخه راغلل چې له بریدونو او چاودنو سره مخ شول، په جګړه کې د دښمن ۳ ټانکونه تخریب، او ترلسو پورې عسکر مړه او ژوبل شول. ۳/۸/۲۰۱۹

خواجه رواش په هوایي ډګر توغندیز برید وشو

د کابل په خواجه رواش هوایي ډګر ۲ توغندي وویشتل شول، په برید کې توغندي په ټاکلي هدف ولګیدل خو دښمن ته د اوسنۍ زیان په هکله معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۳/۸/۲۰۱۹

سرویې کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل – جلال اباد په لویه لاره، سرویي ولسوالی اړوند وزبین بلول خیلو سیمه کې د اردو په ګډه برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر قتل، ۲نور ژوبل شول. ٤/٨/٢٠١٩

ده سبز کې د اشغالګرو ۳ اکمالاتي موټر وسوځول شول

د کابل ده سبز ولسوالی اړوند بندې خانې سیمه کې د امریکایي اشغالګرو په اکمالاتي کاروان برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن په اکمالاتي توکو بار ۳ موټر وسوځول شول. ٦/٨/٢٠١٩

پغمان کې رینجر تخریب، ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل پغمان د بره ارغندی بادام قول سیمه کې د اردویه رینجر چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن رینجر تخریب، ۵ عسکر مړه او ژوبل شول.٦/٨/٢٠١٩

پغمان کې ۳ ټانکونه ۱ رینجر تخریب، ۱۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د پغمان ولسوالی اړوند بره ارغندی ته د دښمن په راغلې قوه بریدونه ترسره شول ، په ٦ ورځنیو نیستو کې د دښمن ۳ټانګونه او یو رینجر تخریب شو او ۱۵ تنه عسکر مړه او ژوبل شول او پاتې قوه د تلفاتو په لیدلو سره له سیمې وتښتیده. ٦/٨/٠١٩

سرویي کې د دښمن رینجر تخریب شوه

د کابل – جلال اباد په لویه لاره، د سرویي ولسوالی اړوند ماهیپر سیمه کې د دښمن په رینجر چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن رینجر تخریب، خو د مړو او ژوبلو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ٧/٨/٢٠١٩

ده سبز کې د صفریک په مرکز توغندیز برید وشو

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالی اړوند سیمه کې د صفریک قطعي په لوی مرکز ۲ توغندي وتوغول شول، په برید کې توغندي په ټاکلي هدف ولګېدل چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ٨/٨/٢٠١٩

په کابل کې ددښمن حوره او د جلب اوجذب مرکز باندې فدایي برید لسګونه عسکر او پولیس وژل شوي او ټپیان دي کابل بمبار اړوند

د شپږمې حوزې په مرکز او ورسره نیږدې د دښمن دعسکرو د جلب اوجذب په مرکز همهاله د اتل استشهادي مجاهد ملاجبار لوګري لخوا د لوی بار وړونکي موټر په وسیله فدایي برید ترسره شو، د برید په مهال په حوزه کې او هم د جلب او جذب په مرکز کې تر ۳۰۰ پورې پولیس او عسکر اوسیدل چې اکثره په نظامي زدکړو او تمریناتو بوخت وو، په برید کې لسګونه تنه، افسران، پولیس او عسکر ووژل شول او ګڼ شمیر ټپیان شول. ٧/٨/٢٠١٩

کابل بمبار کې مشهور قومندان ووژل شو

د کابل بمبار ۵ مې حوزې اړوند دیوان بیګي سیمه کې د هارون پاچا په نوم په یو تن اریکي قومندان برید وشو چې په ترڅ کې یې یادقومندان چې د (خیزش مردمي) په نوم مشهور و خای په خا ی ووژل شو. ٨/٨/٠١٩

کابل بمبار کې د جاسوسي شبکې موټر تخریب، ۴ کارمندان مړه او ژوبل شول

کابل بمبار ۵ حوزې اړوند کمپنۍ باغ داود سیمه کې د جاسوسي شبکې په کرولا دوله موټر چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن موټر تخریب، ۴ کارمندان مړه او ژوبل شول. ٨/٨/٢٠١٩

موسهي کې د دښمن په پوسته برید وشو

د کابل موسهي ولسوالی اړوند سیمه کې د تنګي په نوم د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ٨/٨/٢٠١٩

ازبکستان هیواد ته د اسلامي امارت د استازي د سفر حرثیات

د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر مشر محترم ملابرادر اخند د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارت په مقر کې د ازبکستان د بهرنیو چارو له وزیر عبدالعزیز کاملوف او د افغانستان لپاره د ازبکستان هیواد د جمهورئیس دخاص استازي عصمت ایرګاشیف سره وکتل، په کتنه کې د دواړو اسلامي هیوادونو پرتاریخي او دوستانه اړیکو، له امریکایانو سره پر روانو مذاکراتو او په افغانستان کې د بشپړ سولې او ثبات د تامین، د افغانستان د بیارغونې او د ازبکسان هیواد لخوا په افغانستان کې د تر سره کیدونکو اقتصادي او رغنیزو پروژو په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې، محترم ملابرادر اخند د ازبکستان د بهرنیو چارو له وزیر خخه وغوښتل، تر څو هغه اقتصادي پروژې او عمراني کارونه چې ازبکستان پیل کړي دي لکه د افغانستان شمال ته د بریښنا رسول او د دواړو هیوادونو تر منځ د تجارت د پراختیا په منظور د مزارښارته د اورګادي د پټلي غزول او ورته نورې پرې‌ژې، تکمیل کړي او ډاډ یې ورکړ چې اسلامي امارت په یادو برخو کې ترخپل کسرول لاندې سیمو کې هر ډول همکاري ته تیار دی. ٨ ٩/٨/٢٠١٩

موسهي کې برید ۲ عسکر مړه او ژوبل کړل

د کابل موسهي ولسوالۍ اړوند د کوز قشلاق په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر قتل او بل ژوبل شو. ۱۰/۸/۲۰۱۹

قره باغ کې د ضربتي قطعې ۳ افسران ووژل شول

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند بیتنیو کلي ته خپرمه په ضربتي ګوډاګیانو مخامخ برید وشو چې په ترڅ کې یې د یادي قطعې ۳ افسران ووژل شول. ۱۰/۸/۲۰۱۹

موسهي ولسوالۍ په مرکز توغندیز برید وشو

دکابل موسهي ولسوالۍ په مرکز ۲ توغندي وویشتل شول، په برید کې توغندي په تاکلي هدف ولګېدل خو دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۰/۸/۲۰۱۹

موسهي کې د دښمن په پوسته برید وشو

د کابل موسهي ولسوالۍ اړوند د چارسوق کلي په امنیتي پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې په پیره ولاړ عسکر ووژل شو. ۱٤/۸/۲۰۱۹

ده سبز کې د دښمن اکمالاتي موټر ویجاړ شو

د کابل ده سبز ولسوالۍ د پل چرخي ته خپرمه د پلیګون ساحه کې د اردو په نوی اکمالاتي موټر د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن موټر ویجاړ او ۳ عسکر ووژل شول. ۱۵/۸/۲۰۱۹

موسهي کې چاودنې ۱ عسکر ژوبل کړ

د کابل موسهي ولسوالۍ اړوند شادخاني کلي ته خپرمه په ګوډاګیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ عسکر ژوبل شو. ۱۷/۸/۲۰۱۹

موسهي کې ۲ عسکر ووژل شول

د کابل موسهي ولسوالۍ د مرکز په نظامي قرول کې یو تن عسکر د درازکوف په مټ ووژل شو، همدارازد چارسو کلي ته خپرمه د قومندان صبوري د پوستې په یوتن عسکر هم د درازکوف برید وشو چې په ترڅ کې یې یاد ګوډاګی ووژل شو. ۱۹/۸/۲۰۱۹

د بګرامیو ولسوالي جنایي مدیر ووژل شو

د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالۍ په جنایي مدیر (شاه محمد کټري) چې په قاري مشهور و دبګرامیو سیمه کې چریکي برید وشو او ځای په ځای ووژل شو. ۱۹/۸/۲۰۱۹

پغمان کې د دښمن ټانک تخریب، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دکابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند کوزي ارغندۍ ساحه کې د اردو په عسکرو کمین برید ترسره شو ، په برید کې د دښمن ټانک تخریب شو خو عسکرو ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۹/۸/۲۰۱۹

موسهي کې د اشغالګرو درون برید ۲ کلیوال شهیدان کړل

د کابل موسهی ولسوالۍ اړوندشینکیو کلي ته خپرمه سیمه کې اشغالګرو په عامو وګړو درون برید وکړ چې له امله یې ۲ تنه عام کلیوال په شهادت ورسېدل، همدارازد صوفي بابا په کلي باندې هم د ګوډاګي اردو لخوا چاپه ووهل شوه، د چاپې په پای کې دښمن یو تن کلیوال له ځان سره یوور. ۱۹/۸/۲۰۱۹

خاکجبار کې د رینجر چپه کېدو ۵ عسکر مړه او ژوبل کړل

د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ اړوند دورانخیلو په سیمه کې د وارخطا دسمن رینجر چپه شو چې له امله یې یو عسکر ځای په ځای مړ او۴ نور سخت ژوبل شول. ۱۹/۸/۲۰۱۹

قرباغ کې د اربکیانو مرکز تخریب، ټانک ویجاړ کړل شو

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند پایتاوې په کلي کې د قره باغ د اربکیانو په لوی مرکز برید وشو چې له امله یې یاد مرکز ته دروند زیان واوښت، وروسته سیمې ته کومکي ګوډاګیان په لاره وو چې یو ټانک یې په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک تخریب خو دسمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۹/۸/۲۰۱۹

موسهي کې ۱ عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شو

د کابل موسهي ولسوالۍ اړوند سیمه کې د مصطفی په نوم د موسهي ولسوالۍ د سیاه جوی کلي یو تن اوسیدونکی عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شو.. ۱۹/۸/۲۰۱۹

کابل ښار کې د جاسوسي شبکې کار مند ووژل شو

د کابل ښار، ۸ مې حوزې اړوند رحمن مینه کې د چریکي مجاهدینو لخوا د جاسوسي شبکې په کارمند عثمان برید وشو چې ځای په ځای ووژل شو.۲۲/۸/۲۰۱۹

موسهي کې ۱ عسکر ووژل شو

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ مرکز په قرول کې یوعسکر د دراز کوف په برید کې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۲٤

موسهي کې ګډ دښمن د جامع مسجد امام او ۲ کروند ګر شهیدان کړي دي

د کابل ولایت د موسهی ولسوالی اړوند عبدالرؤف کلا او میا خیلو په کلي بهرنیو عسکرو او د غلامانو یې وحشیانه چاپه ووهله، ګډ دښمن د چاپې په مهال د عبدالرؤف کلا د جامع مسجد امام مولوي یارمحمد صاحب په شهادت ورساوه او ۲ کلیوال یې له ځان سره یوړل. همداراز یې په میاخیلو کې هم ۲ کلیوال په خپلو پټیو کې په شهادت ورسول او یو بل تن یې ژوبل کړ. ۲۶/۸/۲۰۱۹

کابل ارزان قیمت کې د څرخي پله زندان د ساتونکو په موټر برید وشو

د کابل سار اړوند ارزان قیمت سیمه کې د څرخي پله د زندان د ساتونکو په رینجر برید وشو چې په ترڅ کې یې رینجر تخریب شو. ۲۶/۸/۲۰۱۹

ده سبز کې په عسکرو وسله وال برید وشو

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالي اړوند د ترخیلو کلي بازار ته څېرمه په مزدورو عسکرو برید وشو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۷/۸/۲۰۱۹

پنځمه حوزه کې چاودنې ۳ پولیس مړه او ژوبل کړل

د کابل سار، ۵ حوزې اړوند د کمپنی او کوټه سنګي په سړک په پولیسو چاودنه وشوه، چاودنې ۳ پولیس مړه او ژوبل کړل. ۲۰۱۹/۸/۲۷

ارزان قیمت کې د جاسوسي شبکې غړی ووژل شو

د کابل سار، ارزان قیمت سیمه کې د جاسوسي شبکې په یو کارمند برید وشو، په برید کې د نورعلي په نوم دګروال ځای په ځای ووژل شو. ۲۷/۸/۲۰۱۹

سروبي کې ۱ عسکر ووژل شو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي اړوند بند سیمه کې په یوتن عسکر چریکي برید وشو او ځای په ځای ووژل شو. ۲۷/۸/۲۰۱۹

پغمان کې ګډ دښمن ۲ کلیوال شهیدان، ۵ بندیان او درونډ مالي زیان اړولی

د کابل ولایت د پغمان ولسوالي اړوند بره ارغنده سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو د اولسي خلکو په کورونو چاپه ووهله او په سیمه یې بمبار وکړ، ګډ دښمن د خلکو د کورونو دروازې په بمونو والوزولې، ۲ کلیوال یې په شهادت ورسول، د خلکو کروندې او باغونه یې سخت زیانمن کړل او د تلو پر مهال یې ۵ تنه کلیوال له ځان سره یووړل. ۲۹/۸/۲۰۱۹

کابل سار کې د ۹۰ ریاست د مستنطقینو مشر ووژل شو

د کابل سار، قلعه واحد سیمه کې د مزدوري اداري د جاسوسي شبکې اړونده ۹۰ یم ریاست د مستنطقینو مشر ووژل شو. ۳۰/۸/۲۰۱۹

ده باغ کې د دښمن په قرارګاه برید ۶ یانکونه تخریب، ۳۰ عسکر مړه او ژوبل شول

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالي په عسکرکوټ سیمه کې د دښمن په لویه قرارګاه د سپکو، درنو او لیزري وسلو بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې ۱۶عسکرقتل، تر۱۴ز یات نور ژوبل شول، همداراز ۴عرادې تانګونه د دښمن په قرارګاه کې او۲ نور په کمین کې تخریب شول.۱/۸/۲۰۱۹

اب بند کې د دښمن په پوسو برید وشو

د غزني ولایت د اب بند ولسوالي اړوند سرفرازکلاسیمه کې مجاهدینو د

پولیسو په ۲ پوستو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته .۱/۸/۲۰۱۹

غزني مرکز کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د غزني مرکز اړوند زرګرو ته څېرمه کابلو دامان سیمه کې د پولیسو په ګزمه برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ تن عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول.۲/۸/۲۰۱۹

ده یک کې درون برید د کلي ملا امام په شهادت رسولی

د غزني ولایت د دهیک ولسوالي اړوند علی کلا د کلي په ملا امام مولوی عبدالسلام صاحب باندې د اشغالګرو له لورې درون برید وشو چې له املې یې یاد مولوي صاحب په شهادت ورسېد. ۲/۸/۲۰۱۹

غزني: ده یک کې درون بریدونو ۶ کلیوال شهیدان کړل

د غزني ولایت د دهیک ولسوالي اړوند شیربوز، علی کلا اونجی کلیو باندې د اشغالګرو یې پیلوټه الوتکو ۱۲پیره وکړل چې له املې یې ۶ تنه کلیوال شهیدان شول.۲/۸/۲۰۱۹

ګیلان کې د دښمن په پوستو برید ۴ توپکیان مړه او ژوبل کړل

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي په ودانۍ اوچرلي پښې کند ه سیمو کې د اردو په پوستو بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۱ تن عسکر قتل، ۳ نور ژوبل شول.۲/۸/۲۰۱۹

شلګر کې د دښمن په پوستو بریدونو ۵ عسکر مړه او ژوبل کړل

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په خاني کلا سیمه کې د دښمن په ۳ پوستو بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې ۳ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول، همدار نګه د یادې ولسوالۍ اړوند ملاتوح بابا سیمه کې هم د اجیري اردو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲/۸/۲۰۱۹

ده یک کې په قرارګاه توغندیز برید وشو

د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ اړوند یونټ سیمه کې د اردو په قرارګاه باندې توغندیز برید وکړ، د راپور له مخې توغندي په تاکلي هدف ولګېدل او له املې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲/۸/۲۰۱۹

قره باغ کې دښمن په اولسي کورونه چاپه وهلې

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند برله سیمه کې په لر کلي باندې د ګډ دښمن عسکرو چاپه ووهله، د چاپې په مهال دښمن د ګڼ شمېر کورونو دروازې په بمونو والوزولې او شخصي موټر سیکلونه یې وسوځول. ۳/۸/۲۰۱۹

غزني مرکز کې ۲ بریدونو ۳ عسکر ووژل

دغزني مرکز اړوند حسن ا باد سیمه کې چریکي مجا هدینو د اردو۲تنه عسکرووژل، دغه راز قلعه جوزسیمه کې په دښمن یوه بله تکتیکي چاودنه

وشوه چې له املې یې ۱ عسکر ووژل شو.۳/۸/۲۰۱۹

غزني مرکز کې ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند کروسای سیمه کې د شریرو اربکیانو په پوسته د لیزري وسلو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ تن په پیره ولاړ عسکر ووژل شو. ۳/۸/۲۰۱۹

ده یک کې اشغالګرو په ۳ کلیو درون بریدونه وکړل

لوګر مرکز کې د اشغالګرو دروند برید ۲ سپینږیري کروندګر په شهادت ورسول

د لوګر ولایت مرکز اړوند احمدخان کلا سیمه کې اشغالګرو په اولسي وګړو دروند برید وکړ چې له املې يې يې ۲ تنه کروندګر چې دواړه سپینږیري وو په شهادت ورسیدل. ۱۴/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې ۲ چاودنو پوسته ویجاړه، ۷ اربکیان ووژل

د لوګر ولایت مرکز اړوند نیازیو پوزې ته څیرمه په شریرو اربکیانو په هغه پوسته کې دوه تکنیکي چادونې ترسره شوې چې اربکیان به ورپکې راتولېدل، د چاودنو له املې پوسته په ویجاړه، ۷ تنه شریر اربکیان خای په خای ووژل شول. ۱۵/۸/۲۰۱۹

لوګر محمداغه کې قومندان قتل ۲ اربکیان ژوبل شول

د لوګر ولایت محمداغې ولسوالۍ اړوند پل قندهاري سیمه کې د کابل - ګردیز په عمومي سړک د ظالم اربکي قومندان (شوکتي) د معاون په موټر برید ترسره شو ، په برید کې موټر ویجاړ او یاد ګوډاګی له ۱ ساتونکی سره مرګونی ژوبل شو، همداراز په پیاده اربکیانو هم برید وشوخو دښمن ته د اوبستي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۵/۸/۲۰۱۹

څرخ کې ګډ دښمن چاپه کې ۴ دوکانونه په بمونو الوزولي

د لوګر ولایت څرخ ولسوالۍ بازار او شست سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو د عامو خلکو په کورونو چاپه ووهله، ګډ دښمن د چاپې په مهال د خلکو کورونه لوټ کړل او د تلو پر مهال يې د يو کلیوال کور او ۴ دوکانونه وران کړل، همداراز يې عامو خلکو ته درانه مالي زیانونه واړول.۱۶/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې د جاسوسي شبکې ۳ کارمندان مړه او ژوبل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند پادخواب سیمه کې د دښمن په عسکرو برید ترسره شو، په برید کې د جاسوسي شبکې ۱ کارمند مړ او ۲ نور مرګوني ژوبل شول. لږ وروسته دوهم ځل هم په دښمن د ګرنیټ انداز بریدونه ترسره شول خو دښمن ته داوښتې مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.۱۶/۸/۲۰۱۹

خوشي کې ګډ دښمن په اولسي کورونو چاپه ووهله

د لوګر ولایت خوشي ولسوالۍ اړوند سره غونډۍ او دوبندي سیمو کې خارجي اشغالګرو او ګوډاګیانو يې د ملکي خلکو په کورونو چاپې ووهلې، دښمن د چاپو په مهال د کورونو دروازې په بمونو والوزولې او د خلکو قیمتي اجناس او نغدي پیسې يې لوټ کړې او د تلو په وخت يې ۷ تنه عام کلیوال له خان سره یووړل. ۱۶/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې د دښمن رینجر تخریب، ۵ عسکر ووژل شول

دلوګر ولایت مرکز اړوند التمور سیمه کې د کابل- ګردیز پر لویه لاره باندې د کابل رژیم د عسکرو په رینجر موټر برید وشو چې په ترڅ يې د دښمن رینجر موټر ویجاړ او ۵ تنه عسکر ووژل شول. ۱۷-۰۸-۲۰۱۹

لوګرمرکز او محمداغه کې رینجر ویجاړ، ۷ ګوډاګیان مړه او ژوبل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند سید حبیب الله کلا سیمه کې د کابل اداري د جاسوسي شبکې په کارمندانو بریدونه ترسره شول ، په بریدونو کې د یادې شبکې ۳کارمندان خای په خای ووژل شول.بلخوا د محمداغې ولسوالۍ دهنو سیمه کې بیا د اردو عسکرو په رینجر موټر باندې چاودنه وشوه چې له املې يې د دښمن رینجر ویجاړ، ۴ عسکر مرګونی ژوبل شول. ۱۸/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې د اشغالګرو په بیس توغندیز برید وشو

د لوګر ولایت مرکز کې د خارجي اشغالګرو په خدر کمپاین باندې ۹ پرلپسې میزایل وویشتل شول، په برید کې توغندي په تاکلي هدف ولګېدل چې له املې يې ګډ دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۸/۸/۲۰۱۹

څرخ کې ګډ دښمن په اولسي کورونو چاپې وهلې

د لوګر ولایت څرخ ولسوالۍ اړوند دېر سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو په عامو هیواد والو چاپه ووهله، ګډو وحشیانو د جامع مسجد دروازې او کړکیني ماتې کړې، د اولسي کورونو دروازې يې په بمونو والوزولې، کورونه يې لوټ کړل او ۴ تنه عام کلیوال يې له ځان سره یووړل. ۱۸/۸/۲۰۱۹

لوګرمرکز کې ۲ رینجر تخریب، ٦ عسکر مړه او ژوبل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند پادخواب سیمې ته د کابل اداري په راغلو عسکرو سخت بریدونه وشول،په جګړه کې ۲ رینجر تخریب، ۱ عسکر په قتل او ۵ ژوبل شول. ۱۹/۸/۲۰۱۹

څرخ کې درنو چاودنو لسګونه اشغالګر او مزدور عسکر مړه او ژوبل کړل

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړوند شیست سیمه کې د ګډ دښمن په عملیاتي قوه درنې چاودنې وشوې چې له امله یې لسګونه عسکر مړه او ژوبل شول چې دښمن یې تر دیره د جسدونو په انتقال او لرې پرتو غوسو په راتولولو بوخت وو. ۱۹/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې ګډو وحشیانو ۴ کلیوال په شهادت رسولي

د لوګر ولایت مرکز اړوند دشتک او دادوخیلو کلیو کې د ګډ دښمن وحشي عسکرو د اولسي- وګړو په کورونو چاپې ووهلې. ګډو وحشیانو د خلکو د کورونو دروازې ماتې کړې او ۴ تنه عام اولسي وګړي یې په دې وحشت سره په شهادت ورسول . ۲۰/۸/۲۰۱۹

محمدآغې په مرکز۲ بریدونو رینجر ویجار، قومندان او ساتونکي ژوبل کړل

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ په مرکز باندې د مجاهدینو له لورې د هشتاد دو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل، وروسته د پل قندهاري سیمه کې د کابل- ګردیز لویې لارې پر سر د اریکیانو د ظالم قومندان سعادت په رینجر چاودنه ترسره شوه چې له امله یې یاد قومندان او ورسره ۲ ساتونکي یې مرګوني ژوبل شول. ۲۱/۸/۲۰۱۹

برکي برک کې ګډ دښمن درانه اولسي زیانونه اړولي

د لوګر ولایت برکي برک ولسوالۍ اړوند شاه مزار سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو په اولسي کورونو چاپه ووهله، د دغه جنایت پر مهال دښمن د سیمې دکانو نه چور کړل، د کورونو دروازې یې په بمونو والوزولې، کورونه یې لوټ کړل، ۳ شخصي موټر سیکلونه یې وسوځول او د تلو په وخت یې پنځه تنه عام کلیوال له ځان سره یووړل. ۲۲/۸/۲۰۱۹

ازره کې د کوچیانو په کړدې بمبار ۱ شهید، ٦ ښځې او ماشومان ژوبل کړل

د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ اړوند قاسم خیلو سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو چاپه ووهله، ګډو وحشیانو د یاد جنایت په مهال د عامو کلیوالو د کورونو دروازې په بمونو والوزولې، خلک یې ووهل او قیمتي اجناس یې تول چور کړل، د تلو پر مهال وحشي- اشغالګرو د کوچیانو په یوه کیړدې بمبار وکړ چې له امله یې ۱ سپینږیری شهید او د ښځو په ګډون ٦ تنه ماشومان ژوبل شول. ۲۲/۸/۲۰۱۹

محمدآغه کې د کابل رژیم په بوټکیانو بریدونه وشول

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند زاهدآباد سیمه کې د کابل- ګردیز په لویه لاره باندې د اریکیانو د پوسې په قصدا برید وشو چې په ترڅ کې یې ظالم قومندان ژوبل او موټرسیکل یې ویجار شو، وروسته په شیرافغان سیمه کې د عسکرو په رینجر موټر برید ترسره شو چې په ترڅ کې

یې د دښمن رینجر ویجار او ۱ عسکر ووژل شو. ۲۲/۸/۲۰۱۹

محمدآغه کې رینجر ویجار، د ځانګړې قطعې ۴ عسکر ووژل شول

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ اړوند سرخ آباد سیمه کې د شکارکلا بیس اړوند ځانګړې قطعې په رینجر موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې د دښمن رینجر ویجار او د ځانګړې قطعې ۴ عسکر پکې ووژل شول. ۲۲/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې ۲ اریکیان مړه او ژوبل شي

د لوګر ولایت مرکز اړوند کلنګار سیمه کې په اریکیانو برید وشو چې په ترڅ کې یې د نټار په نوم ۱ اریکی قتل او بل ژوبل شو. ۲۳/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې ۳ موټر ۱ټانک تخریب، ۱۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند کنجک سیمه کې د کابل- ګردیز لویه لاره باندې د اجیرو عسکرو په اکمالاتي کاروان برید ترسره شو، په برید کې د دښمن ۲ رینجر موټر، ۱ غښتې کوماز او ۱ ټانک ویجار، ۴ عسکر مړه ، ۱۱ تنه نور مرګوني ژوبل شول. ۲۲-۰۸-۲۰۱۹

خروار کې ګډ دښمن خلکو ته دروند زیان اړولی

د لوګر ولایت د خروار ولسوالۍ اړوند ملک کلي باندې د ګډ دښمن عسکرو چاپه ووهله، ګډو وحشیانو د ملکي خلکو د کوروو دروازې په بمونو والوزولې، د یاد کلي اړوند بازار ټول دوکانونه یې لوټ کړل، کلیوال یې سخت ووهل او له خلکو څخه یې نغدې پیسې او قیمتي اجناس یووړل، همدارازې یې د تلو په مهال یې یو ملا امام له ځان سره یووړ. ۲٤/۸/۲۰۱۹

برکی برک کې ۲ پاکونه تخریب، ۷ عسکر قتل ۱۱ ژوبل شول

د لوګر ولایت برکي برک ولسوالۍ اړوند دوشیخ سیمه کې په هغو عسکرو چې د پوسو اکمالات یې کول بردیونه وشول، ۱ په بریدونو کې د دښمن ۲ ټانکونه ویجار، ۷ عسکر قتل، ۱۱ نور ژوبل شول.۲٤/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې موټر ویجار۲ اریکیان ووژل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند شهرک سیمه کې په یوه برید کې ۱ تن اریکی ووژل شو، دغه راز د کنجک سیمه کې د کابل ـ ګردیز په

لویه لاره د اربکیانو په فلدر موتر برید ترسره شوه چې په ترڅ کې یې موتر ویجاړ، ۲ اربکیان ووژل شول. ۲۵/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې د اولې حوزې امر ووژل شو

د لوګر ولایت مرکز اړوند شکرکلا سیمه کې د محمد اصغر قریشي په نوم د اولې حوزې په ظالم امر باندې د مجاهدینو لخوا ناخایي برید وشو او خای په خای ووژل شو.۲۵/۸/۲۰۱۹

لوګرمرکز کې ګډو وحشیانو کلیوال تو مالي او ځاني زیان اړولی

د لوګر ولایت مرکز اړوند بابوس سیمه کې د ګډ دښمن عسکرو په اولسي

کورونو چاپه ووهله، د دښمن عسکرو د خلکو د کورونو دروازې په بمونو والوزولې، د تالاشی په پلمه د خلکو کورونو ته په زور ننوتل او په لاس ورغلې نغدي پیسې او قیمتي اجناس یې تول چور کړل، ۲ باغونه یې بمبار کړل، ۱ عام کلیوال یې په شهادت ورساوه او ۲ نور یې ژوبل کړل. ۲۵/۸/۲۰۱۹

لوګر مرکز کې پوسته فتحه، قومندان او۵ اربکیان قتل وسلې ونیول شوې

د لوګر ولایت مرکز اړوند بوچک کلا سیمه کې د شریرو اربکیانو په پوسته تعرضي عملیات ترسره شول، په جګړه کې پوسته په تولیزه توګه فتحه، د اربکي قومندان سلیمي په ګډون ٦ تنه اربکیان ووژل شول، همداراز ۲ میله پیکا، ٦ میله کلاشینوکوف، ۱میل راکټ، ۱ میل ګرنټ انداز او په زیاته پیمانه مرمی او نظامي توکي د مجاهدینو لاس ته ورغلل، وروسته د دښمن په کومکی قوه چاودنه وشوه چې له املې یې یو ټانک تخریب او ۴ عسکر ووژل شول.۲٦/۸/۲۰۱۹

محمداعه کې قومندان او ۸ اربکیان مړه او ژوبل شول

د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالی اړوند احمدزیو کلا سیمه کې د اربکیانو په پوسته د لیزري وسول برید وشو، په برید کې د بورمحمد په نامه د اربکیانو د قومندان په ګډون ۴ اربکیان ووژل شول، دغه راز کتب خیلو کې هم په اربکیانو برید وشو چې په مهال یې ۲ تنه قتل او ۳ نور ژوبل شول.۲۸/۸/۲۰۱۹

محمداغه کې د کورنیو چارو وزارت دګروال تسلیم شو

د لوګر ولایت د محمداغې ولایت اړوند سرخاب سیمه کې د محمد نسیم په نوم د کورنیو چارو وزارت یو دګروال دعوت او ارشاد کمیسیون د کارکوونکو په هڅو او د سیمې د مجاهدینو په همکاري له مزدوري اداري څخه را بیل او مجاهدینو سره یو ځای شو.۲۸/۸/۲۰۱۹

لوګرمرکز کې پولیس ۲ اربکیان وژلي، له وسلو سره مجاهدینو ته راغلی

د لوګر ولایت مرکز اړوند جمعه کلا سیمه کې یو پولیس چې له مجاهدینو سره یې رابطه درلوده په خپله پوسته کې ۲ تنه اربکیان ووژل او پخپله له یو میل پیکا او یو کلاشنکوف سره مجاهدینو ته راورسید. ۳۰/۸/۲۰۱۹

محمداعه کې رینجر ویجاړ، ۱۱ توپکیان ووژل شول

د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالی اړوند وغجان سیمه کې د جاسوسي شبکې په رینجر مخامخ برید وشو چې په ترڅ کې یې رینجر تخریب، ۴ کارمندان خای په خای ووژل شول، دغه راز پل قندهاري سیمه کې هم مجاهدینو د دښمن په ۲ پوستو بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې د پولیسو د قومندان نجم الدین په

ګډون ۳ پولیس او ۴ اربکیان ووژل شول. ۳۰/۸/۲۰۱۹

محمداغه کې رینجر ویجاړ، ۴ توپکیان ووژل شول

د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالی اړوند پل قندهاري سیمه کې په یو ظالم اربکي باندې چریکي برید وشو چې په ترڅ کې یې یاد ګوداګی قتل او کلاشنکوف یې د مجاهدینو لاس ته ورغی، دغه راز غرمه د اب یران سیمه کې د پولیسو په رینجر چاودنه وشوه چې له املې یې د دښمن رینجر ویجاړ، ۳ پولیس ووژل شول. ۳۱/۸/۲۰۱۹

محمد آغه کې اربکیانو پرملکي خلګو د هاوان پیرونه کړي دي

د لوګر ولایت محمد آغې ولسوالی اړوند آب یران سیمه کې عسکرو او اربکیانو دعامو ملکي خلګو په کورنو باندې د هوابرید بریدونه وکړل، د بریدونو له املې یو سپین ږیري چې زر جان آکا نومیده شهید شو او ملکي خلګو ته یې ګڼ مالي زیانونه واړول. ۳۰-۰۸-۲۰۱۹

مرکز کې په اربکیانو د درارکوف برید ترسره شو

د لوګر ولایت مرکز کې شار ته څېرمه په وحشي اربکیانو د درازکوف برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ اربکی قتل شو. ۳۰-۰۸-۲۰۱۹

مرکز کې د خارجي اشعالګرو اده د میزایلو برید ترسره شو

د لوګر ولایت مرکز کې د خارجي اشغالګرو مهم مرکز باندې برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته ځاني او مالي تلفات واوستل خو کره شمېر یې نه دی تر لاسه شوی. ۲۰۱۹-۰۸-۳۰

محمدآغه کې پوسته فتحه، ۲ ټانکونه ویجار، ۱۰ عسکر ووژل شول

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ اړوند کیشم غونډۍ پوسته باندې تعرضي برید وشو چې په ترڅ کې یې پوسته په بشپړه توګه فتحه ۱۰تنه عسکر قتل او پاتې نور یې په ډیر بدحالت په تښته بریالي شول، وروسته له کومکي قوې هم جګړه وشوه چې په مهال یې ۲ ټانکونه ویجار او یوکې سیاره عسکر مړه او ژوبل شو. ۳۱/۸/۲۰۱۹

خوست

باک کې په پولیسو د ماین چاودنه وشوه

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ اړوند د بازار په سیمه کې په پولیسو د تلاشۍ په مهال د ماین چاودنه وشوه چې له کبله یې ۲ پولیس ژوبل شول. ۱/۸/۲۰۱۹

قلندرخیلو کې چاودنې ۴ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت هلندر ولسوالۍ اړوند دومنده په سیمه کې د اردو په پلیو عسکرو چاودنه ترسره شوه چې له امله یې ۲ عسکر ځای په ځای قتل او۲ نور ژوبل شول، دغه راز په سیمه کې د پولیسو په رینجر هم د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې رینجر تخریب، یوکې سپاره ۵ پولیس قتل او د پوستې

د معاون په ګډون ۲ مرګونې ژوبل شول. ۱/۸/۲۰۱۹

اسماعیل خیلو کې په پولیسو د ماین چاودنه وشوه

د خوست ولایت اسمعیل خیلو ولسوالۍ اړوند د ډډوالو په سیمه کې په پولیسو د ماین چاودنه ترسره شوه چې له امله یې پولیسو ته مرګ ژوبله واوسته . ۱/۸/۲۰۱۹

صبریو کې د جاسوسي شبکې په کارمند برید وشو

د خوست ولایت د صبریو ولسوالۍ اړوند د ختکي کلي ته خپرمه د مهاجر په نوم د جاسوسي شبکې په یو تن کارمند برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې یاد ګودامګی له یو تن ساتونکي سره ژوبل شو. ۲/۸/۲۰۱۹

علیشیرو کې ۲ پولیس ووژل شول

د خوست ولایت علیشیر ولسوالۍ اړوند د بازار په پوسته باندې د لیزري وسلو بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۲ پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۳/۸/۲۰۱۹

باک کې په دښمن بریدونه وشول

د خوست ولایت باک ولسوالۍ اړوند د شملخیلو او د میلو سیمه کې پولیسو او قطعه خاص عسکرو باندې د سپکو او درنو وسلو برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ٤/٨/٢٠١٩

موسی خیل کې

د خوست ولایت د موسی خیلو ولسوالۍ په ودانۍ باندې د هاوان برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.٤/٨/٢٠١٩

اسماعیل خیلو کې ۴ عسکر مړه او ژوبل شول

د خوست ولایت د اسمعیل خیلو ولسوالۍ اړوند د متدوزیو د درویخیلو زور کلي اړوند سیمه کې د وحشي کمپاین په عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ عسکر ووژل شول او ۲ نور ژوبل شول.٤/٨/٢٠١٩

خوست مرکز کې د اشغالګرو په اډه توغندیز برید وشو

د خوست ولایت مرکز اړوند زاړه هوایي میدان باندې چې د خارجیانو مهمه اډه هم ده د BM توغندیو وارونه وشول، په برید کې توغندي په تاکلي هدف ولګېدل خو دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۵/۸/۲۰۱۹

صبریو کې چاودنې ۵ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت صبریو ولسوالۍ اړوند د یعقوبیو بازار سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ عسکر قتل او ۴ تنه نور ژوبل شول. ۵/۸/۲۰۱۹

صبریو کې مخامخ برید ۴ عسکر ووژل

د خوست ولایت د صبریو ولسوالۍ اړوند د یعقوبیو او خولبسات ترمنځ پرغځیدلی سړک د اردو په ګزمه برید وشو چې په ترڅ کې یې ۴ عسکر ځای په ځای ووژل شول.۵/۸/۲۰۱۹

صبریو کې د ځمکې پر سر د کلونو لانجه فیصله شوه

د خوست ولایت صبریو ولسوالۍ د سوري پان او سره کلیوالو ترمنځ یوه ستره لانجه د مجاهدینو په هڅو حل اوفصل شوه، دصبریو ولسوالی د سوري پان د سره کلي د اوسیدونکو ترمنځ د

خمکي په سر يوه ستره لانجه د ملکي چارو دمسؤل او مجاهدينو په هلو خلو فيصله شوه او دواړو لوريو شوې فيصله په وريـن تنـدي ومنله. فيصلي ته د صبريو ولسوالي د نورو قومونو مشران هم راغلي وه چې له فيصلي وروسته ټولو قومونو په يوه غږ له اسـلامي امـارت څخه ملاتړ اعلان کړ او د اسلامي امـارت مسـؤلينو تـه يـې داعـزاز پگړۍ هم ور په سر کړې. ۵/۸/۲۰۱۹

قندرخيو کې ټانک ويجاړ، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د خوست ولايت قلندر ولسوالۍ اړوند تنگو په سيمه کې د اردو په ټانګ د ماين چاودنه وشوه چې له امله يې د دښمن ټانـک ويجـاړ، ۲ عسکر ځای په ځای قتل او ۱ بل ژوبل شو.۷/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې موټر تخريب، قومندان او ۲ توپکيان مړه او ژوبل شول

د خوست ولايت مرکز اړوند سيمه کې د ضربتي عسکرو د قومندان ظالم (بخت مير) په موټر د تکتيکي ماين چاودنه ترسره شوه چې له امله يې د دښمن موټريه مکمل دول تخريب، قومنـدان او سـاتونکی يې قتل او ۱ بل پوليس ژوبل شو. ۸/۸/۲۰۱۹

عليشيرو کې د جاسوسي شبکې مهم کارمند ووژل

د خوست ولايت د عليشيرو ولسوالۍ اړوند د تريزيو بازار سيمه کې د جاسوسي شبکې په مهم کارمند (ميروالی شاه) برید وشو چې په ترڅ کې يې ياد ګوډاګی ووژل شو. ۸/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې د اشغالګرو په اډه توغنديز برید وشو

د خوست ولايت مرکز اړوند زاړه هوايي ډګر باندې توغنـديز برېـد ترسره شو، په برید کې توغندي په هدفونو ولګېدل خـو دښـمن ته داوښتي ربان معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۸/۸/۲۰۱۹

مندوزيو کې د جاسوسي شبکې په کارمند برید وشو

د خوست ولايت منـدوزيو ولسـوالۍ اړونـد دوسرکـه سـيمه کـې د جاسوسي شبکې په مهم کارمند (خليل) چريکي برید وشو چـې پـه ترڅ کې يې ياد ګوډاګی مرګونی ژوبل شو.۸/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې چاودنې موټر تخريب ۳ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولايت مرکز اړوند سيمه کې د وحشي کمپاين د عسـکرو په موټر باندې د ماين چاودنه وشوه چې له امله يې د دښـمن مـوټر تخريب، ۱ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۸/۸/۲۰۱۹

نادرشاه کوټ کې چاودنې ۲ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولايت د نادرشاکوټ ولسوالۍ اړوند شمباوت سيمه کې د اردو په عسکرو د ماين چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ عسکر قتل او بل ژوبل شو. ۹/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې رينجر ويجاړ، پوليس مړه او ژوبل شول

د خوست ولايت مرکز اړوند سيمه کـې د پوليسـو پـه رينجـر مـوټر چاودنه وشوه چې له امله يې د دښـمن رينجـر ويجـاړ يکـې سـپرو پوليسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۸/۹

نادرشاه کوټ کې د جاسوسي شبکې کارمند ووژل شو

د خوست ولايت نادرشاه کوټ ولسـوالۍ اړونـد د شـمبوات سـيمه کې د جاسوسي شبکې په يو کارمند (نبي ولـد سـلمير) برېـد وشـو چې په مهال يې ياد ګوډاګی ووژل شو.۱۰/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې چاودنې ۱ پوليس ژوبل کړ

د خوست ولايت مرکز اړوند تخته بيکي په سيمه کـې پـه مـزدورو پوليسو د ماين چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ تن پوليس ژوبل شو. ۱٤/۸/۲۰۱۹

عليشيرو کې چاودنې موټر تخريب، ۳ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولايت عليشيرو ولسوالۍ اړوند د ډبګی کمپاين عسکرو په موټر چاودنه وشوه چې لـه امله يـې د دښـمن مـوټر تخريـب، ۱ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱٤/۸/۲۰۱۹

قلندر ولسوالي کې ۳ عسکر ووژل شول

د خوست ولايت قلندر ولسوالۍ اړوند د پامير په پوسټو باندې برید ترسره شو چې په ترڅ کـې يـې د اردو ۳ تنـه عسـکر ووژل شـول. ۱٤/۸/۲۰۱۹

موسی خيلو کې په پوسته برید ۱ عسکر وژلی

د خوست ولايت د موسی خيلو ولسوالۍ اړوند د پـامير پوسـته بانـدې د درازکـوف بريدونـه وشـول چـې پـه تـرڅ کـې يـې ۱ تـن عسـکر ووژل شو. ۲۰۱۹/۸/۱۷

صبريو کې د دښمن په پوسته برید ۱ پوليس وژلی

دخوست ولايت د صبريو ولسـوالی اړونـد د يعقوبيـو پـه پوسـته برید وشو چې په ترڅ کې يې ۱ پوليس ووژل شو. ۱۸/۸/۲۰۱۹

باک کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو

د خوست ولايت د باک ولسوالۍ په مرکز او د چنـارګي پـه پوسـته باندې

برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۸/۸/۲۰۱۹

موسی خیلو کې د جاسوسي شبکې په موتر برید وشو

دخوست ولایت د موسی خیلو ولسوالۍ اړوند خندي په سیمه کې د جاسوسي شبکې په موتر باندې برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ عسکر ژوبل شو. ۱۸/۸/۲۰۱۹

سپیرې ولسوالۍ کې ۱ عسکر ووژل شو

د خوست ولایت سپیرې والسوالۍ په ودانۍ باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ تن مزدور پولیس ووژل شو. ۱۹/۸/۲۰۱۹

صبریو کې ۱ پولیس ووژل شو

د خوست ولایت د صبریو ولسوالۍ اړوند زردارو کلي ته خپرمه د لاټق نور په نوم ۱ تن پولیس د چریکي مجاهدینو په برید کې ووژل شو او وسله یې مجاهدینو ته په لاس ورغله. ۲۰/۸/۲۰۱۹

خوست کې په زاړه هوایي ډګر توغندیز برید وشو

د خوست ولایت مرکز اړوند زوړ هوایي میدان باندې ایم یې مزائل وویشتل شول، په برید کې توغندي په ټاکلي هدف ولګېدل خو دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰/۸/۲۰۱۹

سپیرې ولسوالۍ کې د جاسوسي شبکې په عسکرو برید وشو

دخوست ولایت سپیرې ولسوالۍ اړوند د شګو دوکانو په سیمه کې د جاسوسي شبکې په عسکرو باندې برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر مرګونی ژوبل شو. ۲۰/۸/۲۰۱۹

اسماعیل خیلو کې رینجر تخریب، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

دخوست ولایت د اسمعیل خیلو ولسوالۍ اړوند شډل سیمه کې د ضربتي عسکرو په رینجر موتر باندې چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن رینجر تخریب، ۱ عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول. ۲۱/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې cia د مهم کارمند په موتر چاودنه وشوه

د خوست ولایت مرکز اړوند ډاب سیمه کې د cia په مهم کارمند (میرویس) او ورسره د ضربتي عسکر نیازولي په موتر چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن موتر تخریب او یاد ګودا ګیان دواړه ژوبل شول. ۲۱/۸/۲۰۱۹

د خوست مندوزولسوالۍ کې موتر بم چاودنې ۲ ټانګونه ویجاړ، ۱۴ ضربتي عسکر ووژل

د خوست ولایت مندوزیو اسماعیل خیلوولسوالۍ اړوند سیدا کبر پمپ ته نژدې سمیه کې د کمپاین په نوم د ضربتي عسکرو په کتار د ځانګړي تکتیک له مخې د موتر بم په وسیله قوي چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ ټانګونه ویجاړ، ۱۴ تنه ضربتي عسکر ووژل شول او یو شمیر نور ټپیان شول. ۲۲/۸/۲۰۱۹

دوه منده کې چاودنې ۲ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت دوه منده ولسوالۍ اړوند خویخیلو خړ تنګي سیمه کې د اردو په پیاده عسکرو د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ عسکر قتل، بل ژوبل شو. ۲۳/۸/۲۰۱۹

باک کې په دښمن چاودنه وشوه

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ اړوند د سپیرکي کلي ته څېرمه د کابل اداري په پولیسو چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ تن پولیس ژوبل شو. ۲۵/۸/۲۰۱۹

باک کې د دښمن په پوسته برید وشو

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ اړوند چینارګي په پوسته باندې برید وشو چې مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۵/۸/۲۰۱۹

نادرشاه کوټ کې د امریکایانو همکار جاسوس ووژل شو

د خوست ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالۍ اړوند حجریم سیمه کې د اشغالګرو امریکایانو خاص همکار او همراز (الف خان) چې ظاهرا یې د جاسوسي شبکې د کارمند دنده درلوده د مجاهدینو په برید کې ووژل شو. ۲۶/۸/۲۰۱۹

موسی خیلو کې په پوسته برید ۱ عسکر ووژه

د خوست ولایت د موسی خیلو ولسوالۍ اړوند پامیر په پوسته د دراز کوف برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر قتل شو. ۲۷/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې د اشغالګرو په مرکز توغندیز برید وشو

د خوست ولایت مرکز اړوند سیمه کې د اشغالګرو امریکایانو په مهمه اډه (زاړه هوایي میدان) باندې توغندیز برید وشوچې له امله یې دسمن ته تلفات واوښتل. ۲۸/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې د جاسوسي شبکې په پوسته چاودنې ۳ عسکر ووژل

د خوست ولایت مرکز اړوند سیمه کې د جاسوسي شبکې په بوسته تکتیکي چاودنه وشوه چې له امله یې د یادې شبکې ۳ کارمندان ووژل شول. ۲۹/۸/۲۰۱۹

سپیري ولسوالی کې ۲ پولیس مړه او ژوبل شول

د خوست ولایت د سپیرې ولسوالی اړوند غونډی په بوسته باندې برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ پولیس قتل، بل ژوبل شو. ۳۰/۸/۲۰۱۹

خوست مرکز کې د دشمن په رینجر د ماین چاودنه وشوه

د خوست ولایت مرکز اړونده مټه چینه کې د اردو په رینجر د چریدار ماین چاودنه وشوه چې په ترڅ کې یې د دښمن رینجر تخریب او یې سپرو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۳۰/۸/۲۰۱۹

قلندر ولسوالی کې چادنې ټانکرویجار، ۱ عسکر ژوبل کړ

د خوست ولایت د قلندر ولسوالی اړوند غلانګ سیمه کې د اردو د تیلو په ټانکر د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې د تیلو ټانکر تخریب، ۱ عسکر ژوبل شو، وروسته په دښمن برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته زیان واوښت. ۳۰/۸/۲۰۱۹

پکتیا

پکتیا مرکز کې ۲ اړیکیان مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیزاړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د شریرو اړیکیانو په پوسته د درازکوف په برید کې ۱ اړیکی ژوبل شو، دغه راز په جلا وسلوال برید کې ۱ تن اړیکی ووژل شو. ۳۱/۷/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۳ بریدونو کې ټانک ویجاړ، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیاولایت مرکزګردیزاړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د شریرو اړیکیانو په پوسته د درارکوف په مټ برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ اړیکی ووژل شو، همداراز ټندانو سیمه کې د اردو په کتار برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن ۱ ټانک ویجاړ او ۲ عسکر ووژل شول، په دې علاوه په ابراهیم خیلو کې هم په مزدور دښمن برید وشو خو دښمن ته داوښتې زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱/۸/۲۰۱۹

زرمت کې موټر تخریب، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی اړوند د ولسوالی او ګردېز تر منځ سړک پر سر د اردو په کاروان برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن اکمالاتي موټر تخریب، ۲ عسکر قتل او ۱ ژوبل شو. ۱/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې په پوسته برید ۱ اړیکی وژلی دی

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالی اړوند سرای په نوم د پولیسو په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ تن پولیس ووژل شو. ۱/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې ۱ پولیس له مجاهدینو سره یو ځای شو

د دعوت او ارشاد کمیسیون د کارکوونکو په زیار او د سیمې د مجاهدینو په مرسته د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالی کې د صدیق الله په نوم ۱ پولیس له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۱/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې د دښمن په کاروان برید وشو

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالی اړوند شوات په سیمه کې د اردو په کاروان برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته داوښتې زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲/۸/۲۰۱۹

احمد ابا کې ۱ اړیکی له مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالی کې د رحمت خان په نوم یو تن اړیکی مجاهدینو ته تسلیم او د اسلامي امارت له مخالفت نه لاس په سر شو. ۲/۸/۲۰۱۹

زرمت کې د دښمن ۲ رینجر تخریب، ۹ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالی اړوند اخند زادخیلو سیمه کې د اردو په کاروان برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن ۲ رینجر تخریب، ٦ عسکر قتل، ۳ نور ژوبل شول. ۲/۸/۲۰۱۹

زرمت کې ۱ اړیکی ووژل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی اړوند تعمیربازار کې په اړیکیانو د لیزري وسلو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ اړیکی قتل بل ژوبل شو. ۲/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې رینجر ویجاړ، قومندان او ۲ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالی اړوند دخپرې د قرارګاه د قومندان په رینجر موټر برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن رینجر تخریب او د قومندان په شمول ۴ عسکر مړه او ژوبل شول ، همداراز یومیل کلا شنکوف او یو میل چریکي دهشکه هم د مجاهدینو لاس ته ورغله. ۲/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې رینجر تخریب ۴ عسکر ووژل شول.

د پکتیا ولایت وزی خدران ولسوالۍ اړوند لکي تیږې په سیمه کې د اردو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې د دښمن رینجر تخریب او ۴ عسکر قتل شول. ۲/۸/۲۰۱۹

احمد ابا کې ۱ عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالۍ کې د نسیم ګل په نوم ۱ تن عسکر د حقایقو په درک کولو له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۱ اربکی ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند چونې سیمه کې د اربکیانو په پوسته د لیزري وسلو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ اربکی ووژل شو. ۲/۸/۲۰۱۹

احمد ابا کې د دښمن په قرارګاه برید وشو

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ اړوند مچلغو سیمه کې د دښمن په قرارګاه او د قومندان یارخان په پوسته د هاوان برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۳/۸/۲۰۱۹

ګرده څېرۍ کې د دښمن په کمپاین توغندیز برید وشو

د پکتیا ولایت ګردې څېرۍ ولسوالي اړوند سواکۍ سیمه کې د مردورو ضربتي عسکرو په کمپاین د هاوان برید وشو چې په ترڅ کې یې دښمن ته د سر او مال زیان واوښت. ۳/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې د جاسوسي شبکې کارمند ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند دولت زیو په سیمه کې د جاسوسي شبکې

په کارمند او مشهور جاسوس محبب الله برید وشو چې په ترڅ کې یې یاد ګودا‌ګي قتل او توپنچه یې د مجاهدینولاس ته ورغله. ۳/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند چونې سیمه کې د شریرو اربکیانو په پوسته د لیزري وسلو په مټ برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ اربکی ووژل شو، همداراز په یاده پوسته په جلا وسلوال برید کې یو بل اربکی ووژل شو. ۳/۸/۲۰۱۹

احمد حیلو کې په دښمن بریدونه وشول

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالۍ اړوند موشکي په پوسته باندې برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ تن عسکر ووژل شو، همداراز شوراب سیمه کې هم د اردو په کاروان برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۳/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې د کابل رژیم په عسکرو برید وشو

د پکتیا ولایت د احمد خیلو ولسوالۍ اړوند ترکنۍ سیمه کې د اردو په ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ٤/۸/۲۰۱۹

زرمت ولسوالۍ او قومندانۍ په ودانیو برید ۴ عسکر مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ او قومندانۍ باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول، همداراز د خواجګانو سیمه کې هم په عسکرو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر ژوبل شو. ٤/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ټانک ویجاړ ۵ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکزګردیزاړوند کابل اوګردیز په عمومي سړک د تیرې سیمه کې د پولیسو په ټانګ باندې چاودنه وشوه چې له املې یې د دښمن ټانک ویجاړ او ۵ پولیس ووژل شول.٤/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې په دښمن برید وشو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیزاړوند غفورخیلو سیمه کې د عسکرو په ګزمه باندې برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته دراته تلفات واوښتل. ۵/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې د دښمن په پوسته بر ند وشو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند غفورخیلو د شینګرۍ په پوسته باندې تعرضي برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.۵/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې ټانک تخریب، ٦ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایب احمد خیلو ولسوالۍ اړوند حسن خیلو د تنګي خولې په سیمه کې د اردو په ټانګ چاودنه وشوه، لږ وروسته په یاده سیمه کې د دښمن په قوه بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر قتل او ۴ نور ژوبل شول. یو بانک وسوخېد، یو توپک، ۱ مخابره او یو تلیفون مجاهدینو ته په لاس ورغلل. ۵/۸/۲۰۱۹

زرمت کې ۲ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ اړوند هستوګنې سیمه کې د اردو په عسکرو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر قتل بل ژوبل شو. ۵/۸/۲۰۱۹

خاځي اړوب کې دښمن په ښپته مجبور کړل شو

د پکتیا ولایت خاڅي اریوب ولسوالي اړوند سوخاوري سیمه کې د دسمن لخوا برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دسمن ته تلفات واوښتل.٦/٨/٢٠١٩

گرده خېرې کې د دسمن په کمپاین برید وشو

د پکتیا ولایت گردې خیرې ولسوالي اړوند سواکې سیمه کې د مردورو ضربتي عسکرو په کمپاین د هاوان بریدونه وشول، په بریدونو کې دسمن ته داوښتو تلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې. ٦/٨/٢٠١٩

پکتیا مرکز کې ټانک ویجار، ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز گردیز اړوند گردیز او دکابل په عمومي سړک د وچ خاښ په سیمه کې د اردو په ټانګ د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن ټانک ویجار، ۳ تنه عسکر قتل او ۲ نور ژور ټپیان شول.٦/٨/٢٠١٩

احمد خیلو کې پوسته فتحه، قومندان او ۴ اربکیان مړه او ژوبل، وسله ونیول شوه

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالي اړوند شوات په سیمه کې د اربکیانو په پوسته باندې برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې پوسته فتحه، د قومندان نعمت خان په شمول ۳ تنه اربکیان قتل او ۱ تن ژوبل شو، همداراز ۳ میله کلاشنکوف، ۱ پیکا، ۱ راکیټ، ۸ د راکیټ مرمي، ۵ د پیکا مکسي، ۱ مخابره او ګڼ نور نظامي توکې مجاهدینو ته په لاس ورغلل. ٦/٨/٢٠١٩

احمدابا کې قومندان قتل اربکی ژوبل شو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالي کې د ښایسته ګل په نوم د اربکیانو قومندان ،و د مبارک شاه په نوم یو بل اربکي باندې د مایں چاودنه وشوه چې له امله یې قومندان قتل او ورسره اربکی ژوبل شو. ٧/٨/٢٠١٩

متاخان کې په پوسته برید ۴ اربکیان مړه او ژوبل کړل

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي اړوند کرمو سیمه کې د شریرو اربکیانو په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ اربکی قتل ۳ نور ټپیان شول. ٦/٨/٢٠١٩

گرده خېرې کې د دښمن په کمپاین هاوانونه وویشتل شول

د پکتیا ولایت گردې خیرې ولسوالي کې د سواکې په کمپاین د هاوان بریدونه وشول، په بریدونوکې دښمن ته د اوښتو تلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې. ٨/٨/٢٠١٩

د پکتیا ولایت د امنیه قومندانې پر ودانۍ توغندیز برید وشو

د پکتیا ولایت مرکز گردیز کې د امنیه قومندانۍ په ودانۍ توغندیز برید وشو، د برید په مهال د استخباراتو د رئیس په ګډون د مهمو چارواکو غونډه روانه وه. په برید کې دښمن ته د اوسني زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ٨/٨/٢٠١٩

پکتیا مرکز کې رینجر تخریب، ۱ پولیس ژوبل شو

د پکتیا ولایت مرکز گردیز اړوند سیمه کې د گردیز- کابل پرلویه لاره د پولیسو په رینجر موټر چاودنه ترسره شوه چې له امله یې د دښمن رینجر تخریب، ۱ پولیس ژوبل شو. ٨/٨/٢٠١٩

پتان کې پوسته فتحه، وسله ونیول شوه

د پکتیا ولایت پتان ولسوالي اړوند مقبلو زېګار د چاولي په پوسته باندې برید ترسره شو، د برید په مهال پوسته فتحه او توپکیان یې په تېښته بریالي شول. همداراز دوه بکسي د پیکا مرمي، یوه بکسه د کلاشنکوف مرمي ، ۱۲ ګرنیټونه او یوه شمسي- د مجاهدینو لاس ته ورغله. ٨/٨/٢٠١٩

زرمت کې د دښمن په کمپاین برید وشو

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالي اړوند سهاکو په کمپاین باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر ژوبل شول. ٨/٨/٢٠١٩

خمکنیو کې قومندان او ۲ پولیس ژوبل شول

د پکتیا ولایت خمکنو ولسوالي اړوند شهرنو بازار کې د زېزک په نوم د پولیسو په قومندان چاودنه وشوه چې له امله یې د قومندان په ګډون ۳ پولیس ټپیان شول. ٨/٨/٢٠١٩

خمکنو کې په دښمن برید وشو

د پکتیا ولایت خمکنو ولسوالي اړوند نوزي خوله سیمه کې د اردو او اربکیانو په ګڼمه برید وشو، په برید کې دښمن ته داوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ٩/٨/٢٠١٩

خاڅي اریوب کې د صحت کمیسیون لخوا تر وخت تېر درمل وسوخول شول

د اسلامي امارت د صحت کمیسیون کاري هیئت د پکتیا ولایت خاڅي اریوب ولسوالي اړوند د امیرخیلو کلي له کلینک او درملتونو څخه لیدنه وکړه، د دغې لیدنې په مهال په یادو درملتونو

کې خپلې تر وخت تېر درمل کشف او وروسته په عام محضر کې وسوخول شول.۹/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې برید ۲ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت وزي خدران ولسوالۍ اړوند ستو کنډو په بیخ کې د اردو په

پلیو عسکرو د درازکوف په مټ برید ترسره شو چې په ترخ کې یې ۲ عسکر ووژل شول. ۱٤/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت وزي خدران ولسوالۍ اړوند د ستو کنډو په سیمه کې د مزدوري اردو عسکروباندې د درازکوف برید وشو چې په مهال یې ۲ عسکر قتل ۱ ژوبل شو.۱٤/۸/۲۰۱۹

خاخي اریوب کې په دښمن بریدونه وشول

د پکتیا ولایت خاخي اریوب ولسوالۍ اړوند سیمه کې د دسمن په قرارګا ه باندې د هشتاد دو په مټ برید وشو، همداراز د خیرمني سیمه کې د دښمن په موتر هم برید ترسره شو، په بریدونو کې دسمن ته د اوښتي زیان معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱٤/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې ۴ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د وزي خدران ولسوالۍ اړوند ستو کنډو سیمه کې د اردو په عسکرو باندې د درازکوف په مټ برید ترسره شو چې له املې یې ۱ عسکر قتل او ۳ نور ژوبل شول. ۱٤/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت وزي خدران ولسوالۍ اړوند ستوکنډو سیمه کې په عسکرو باندې د درازکوف په مټ برید وشو چې په ترخ کې یې ۲ نه عسکر ووژل شول. ۱٤/۸/۲۰۱۹

زرمت کې برید ۴ عسکر مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ اړوند سهاکو سیمه کې د اردو په کمپاین باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترخ کې یې ۲ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱۵/۸/۲۰۱۹

زرمت کې په پوسته برید ۱ عسکرمر بل ژوبل کړ

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ کې د نیکټام او اخندزادخیلو په پوستو باندې برید ترسره شو چې په ترخ کې یې ۱ عسکر مر بل ژوبل شو.۱۵/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې رینجر تخریب، قومندان او سانونکی یې ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند کوچې بازارسره د پولیسو په رینجرموترباندې برید ترسره شو چې په ترخ کې یې د دسمن رینجر تخریب، د پولیسو قومندان او یو سانونکی قتل او ۲ ملې کلاشنکوف، ۱ نارنجک او ۱ توپنچه د مجاهدینو په لاس ورغلل. ۱٦/۸/۲۰۱۹

خاخي اریوب کې د دښمن په قرارګاه توغندیزبرید وشو

د پکتیا ولایت خاخي اریوب ولسوالۍ اړوند سیمه کې د دښمن په قرارګاه باندې

توغندیز برید وشو چې له املې یې دسمن ته تلفات واوښتل.۱٦/۸/۲۰۱۹

زرمت کې عسکرو ۱ کلیوال په شهادت رسولی

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ اړوند د اسلام خیلو په سیمه کې اجیرو عسکرو یوتن عام کلیوال وویشت او په شهادت یې ورساوه. ۱٦/۸/۲۰۱۹

ګرده خپرۍ کې د دښمن په عسکرو برید وشو

دپکتیا ولایت ګردې خپرۍ ولسوالۍ اړوند سیمه کې د اردو په پلیو عسکرو برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱٦/۸/۲۰۱۹

ګرده خپرۍ کې د دښمن په کمپاین برید وشو

د پکتیا ولایت ګردې خپرۍ ولسوالۍ اړوند سواکې سیمه کې د ضربتي عسکرو په کمپاین باندې د هاوان او دهشکې برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۷/۸/۲۰۱۹

ګرده خپرۍ کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

پکتیا ولایت ګرده خپرۍ ولسوالۍ اړوند سواکې کمپاین په پوستو باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترخ کې یې ۲ عسکر قتل ۱ بل ژوبل شو. ۱۸/۸/۲۰۱۹

زرمت کې د دسمن په عسکرو برید وشو

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ اړوند زرګرګودر سیمه کې د اردو په عسکرو باندې برید ترسره شو چې له املې یې دښمن ته تلفات واوښتل.۱۸/۸/۲۰۱۹

جانخیلو کې په دښمن برید وشو

دپکتیا ولایت جاني خیلو ولسوالۍ کې د اردو په عسکرو برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۸/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې ۲ عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیا ولایت احمدخیلو ولسوالۍ اړوند حسن خیلو په سیمه کې د نیاز محمد او نوراغا په نوم دوه تنه عسکر د حقایقو په درک کولو سره د اسلامی امارت له مجاهدینوسره یو ځای شول.۱۸/۸/۲۰۱۹

زرمت کې د دښمن ټانک تخریب، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند زرګرګودر سیمه کې دګودامګۍ اردو په کتار برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې د دښمن ټانک تخریب، ۲ عسکر ژوبل شول، همداراز اخندزاد خیلو کې هم ددښمن په پوسته د لیزري وسلو په مټ برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ ټن عسکر ووژل شو. ۱۸/۸/۲۰۱۹

لجه منګله کې چاودنې ۴ عسکر مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت لجه منګل ولسوالۍ اړوند لژي خولې سیمه کې په پیاده عسکرو د ماین چاودنه وشوه، چاودنې ۳ عسکر قتل او ۱ بل ژوبل کړ.۱۸/۸/۲۰۱۹

زرمت کې ۴ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند مقرب خیلو په سیمه کې د اردو په کاروان برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر ووژل شول.همداراز د اخندزاد خیلو سیمه کې په دښمن د ماین چاودنې ۲ عسکر ژوبل کړل. ۱۹/۸/۲۰۱۹

وزي خدران کې ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت وزي خدران ولسوالۍ اړوند ستوکنډو سیمه کې د ګودامګۍ اردو په ګزمه باندې د چاودنه او بریدونه وشول ، په پښو کې ۳ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱۹/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې په دسمن بریدونه وشول

دپکتیا ولایت احمدخیلو ولسوالۍ په ودانۍ او ترګنۍ سیمه کې د دښمن په ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل.۱۹/۸/۲۰۱۹

ځاځي اریوب کې ۱ پولیس ووژل شو

د پکتیا ولایت ځاځي اریوب ولسوالۍ اړوند د خیرمني سیمه کې په اجیرو پولیسو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې د عزت نور په نوم ۱ پولیس ووژل شو. ۱۹/۸/۲۰۱۹

احمدخیلو کې په دښمن بریدونه وشول

دپکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالۍ اړوند دوشکې سیمه کې د وام په پوسته د لیزري وسلو په برید کې ۳ تنه عسکر ژوبل شول. همداراز دستو ادې سیمه کې هم د ګودامګۍ اردو په عسکرو برید ترسره شو، په دغه برید کې دښمن ته د اوښتي زیان معلومات نه دي ترلاسه شوي.۱۹/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې په مزدورو عسکرو برید وشو

دپکتیا ولایت احمدخیلوولسوالۍ اړوند سکندرخیلو سیمه کې د کودامګۍ اردو په ګزمه باندې برید وشو چې په ترڅ کې یې ۱ ټن عسکر ژوبل شو.۲۰/۸/۲۰۱۹

زرمت کې ۲ پولیس ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند تعمیر بازار سره د پولیسو په ګزمه برید وشو، د برید په مهال ۲ تنه پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۹-۸-۲۰

ګرده خېرۍ کې د دښمن په کمپاین توغندیز برید وشو

دپکتیا ولایت ګردې خېرۍ ولسوالۍ اړوند سواکې سیمه کې د مزدورو ضربتي عسکرو په کمپاین د هشتاد دو بریدونه وشول، په بریدونو کې مرمۍ په تاکلي هدف ولګېدې چې له امله یې دښمن ته د سر او مال زیان واوښت. ۲۰/۸/۲۰۱۸

پکتیا مرکز کې بریدونو ۴ اربکیان مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې دپوستې یو تن اربکي د لیزري توپک په برید کې ووژل شو، همداراز یاده سیمه کې ۲ نورو بریدونو کې ۱ بل اربکی هم قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۲۱/۸/۲۰۱۹

زرمت کې رینجر ویجار، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند باتورو سیمه کې د ګودامګۍ اردو په رینجرموټر چاودنه وشوه ، چاودنې رینجر تخریب ۱ ټن عسکر قتل او ۲ نور ژوبل کړل. ۲۱/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۳ اربکیان مړه او ژوبل شول

دپکتیا ولایت مرکزګردیزاړوند ابراهیم خیلو په سیمه کې د شریرو اربکیانو په ۲ پوستو باندې د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۲ اربکیان قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۱/۸/۲۰۱۹

زرمت کې برید ۲ توپکیان مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند مقرب خیلو سیمه کې د ګودامګۍ اردو او پولیسو په ګډه باندې برید ترسره شو، په برید کې ۱ پولیس قتل، او ۱ عسکر ژوبل شو، همداراز نیکنام کلا کې هم په عسکرو د لیزري توپک په برید کې ۱ عسکر ووژل شو. ۲۲/۸/۲۰۱۹

خمکنیو کې د جاسوسي شبکې کارمند له مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت خمکنیوولسوالۍ کې د صابرجان ولد بسم الله په نوم د جاسوسي شبکې یو تن کارمند د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یو ځای شو، همداراز احمدابا کې هم د محمدګل په نوم یو پولیس له مجاهدینو سره یو ځای شو۲۲/۸/۲۰۱۹

ګرده سیرۍ کې د دښمن په کمپاین توغندیز برید وشو

د پکتیا ولایت د ګردې سیرۍ ولسوالۍ اړوند. پښتیاکي کمپاین باندې توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په تاکلي هدف ولګېدل خو دښمن ته د اړولي زیان په اړه یې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۳/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې د دښمن په رینجر برید شو

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالۍ اړوند وام په سیمه کې د اردو په رینجرموټر باندې برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل.۲۳/۸/۲۰۱۹

احمد ابا کې د دسمن په پوسته برید وشو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالۍ اړوند عطایي کلا سیمه کې د پولیسو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل.۲۳/۸/۲۰۱۹

پکتیامرکز کې ګډ دښمن چاپه کې ۲ کلیوال شهیدان کړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیزاړوند سرکاري کلا اوچوبۍ سیمو کې د ګډ دښمن لخوا چاپه ووهل شوه، د چاپې په مهال وحشي دښمن بمبار هم وکړ او ۲ کلیوال یې په شهادت ورسول. ۲۰۱۹/۸/۲٤

د پکتیا په خمکنو کې اریکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په خمکنو ولسوالۍ کې د عمر ګل په نوم یو تن اریکی د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۰۱۹/۸/۲٤

احمد ابا کې ۱ عسکر ژوبل شو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالۍ اړوند مچلغو سیمې د مموزو په کلي ته خپرمه په یو تن عسکر د لیزري توپک په برید کې ژوبل شو. ۲٤/۸/۲۰۱۹

وزي زدران کې ۱۹ عسکر قتل، ۱۰ ژوبل رینجر او ټانک تخریب شول

د پکتیا ولایت وزي خدران ولسوالۍ اړوند ناصر زیارت سیمه کې د اردو په کتار برید ترسره شو، په برید کې ۱۹ عسکر قتل، ۱۰ نور ژوبل، رینجر او ټانک تخریب شول. ۲۵/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۱ اریکی ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې یو تن اریکی د درازکوف په برید کې ووژل شو. ۲۵/۸/۲۰۱۹

ګرده خپرۍ کې د دښمن په پوستو برید وشو

د پکتیا ولایت ګرده خپرۍ ولسوالۍ اړوند دغورلامې سیمه کې د مزدرو صربتي عسکرو په ۲ پوستو باندې برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د سر او مال دروند زیان واوښت. ۲۵/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې په دسمن بریدونه وشول

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالۍ اړوند د حسن خیلو تنګي خوله سیمه کې د اردو پر اکمالاتي کاروان باندې برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر ژوبل شو. همداراز په پیاده عسکرو د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۵/۸/۲۰۱۹

احمد خیلو کې ۱ عسکر ژوبل شو

د پکتیا ولایت احمد خیلو ولسوالۍ اړوند د سکندر خیلو سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان باندې برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر ژوبل شو.۲۵/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې جلا بریدونو ۳ توپکیان مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند چونې سیمه کې د شریرو اریکیانو په پوسته د لیزري توپک په برید کې ۱ اریکی ووژل شو، دغه راز ابراهیم خیلو سیمه کې هم د اریکیانو په پوسته برید وشو چې پر مهال یې ۱ اریکی قتل بل، ژوبل شو. ۲۵/۸/۲۰۱۹

زرمت کې برید ۵ عسکر مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند نیکنام کلا سیمه کې په مزدورو عسکرو د لیزري وسلو برید وشو چې په مهال یې ۲ عسکر قتل او ۱ بل ژوبل شو. همداراز په یاده ولسوالي کې په عمومي سړک په

اجیرو عسکرو برید وشو چې په ترخ کې یې ۲ عسکر نور هم ووژل شول. ۲۶/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ټانک او موټر تخریب، ٦ توپکیان مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان برید وشو چې په ترخ کې د دښمن ټانک او غټ اکمالاتي موټر تخریب، ۳ پولیس او ۱ عسکر قتل او ۲ پولیس ژوبل شول. ۲٦/۸/۲۰۱۹

ګرده سپری کې بریدونو ۳ عسکر قتل، ۵ ژوبل کړل

د پکتیا ولایت د ګردې سپرۍ ولسوالۍ اړوند سواکې کمپاین او خپرمه پوستو باندې د لیزري وسلو برید وشو چې په ترخ کې یې ۳ عسکر قتل او ۵ نور ژوبل شول. ۲٦/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې ۱ عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ کې د سلیمان ولد لسکر په ټوم ۱ تن عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۷/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ٦ اربکیان مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د اربکانو په پوسته برید وشو چې په ترخ کې یې ۳ اربکیان قتل او ۱ ژوبل شو، همداراز د ملا نسیم کلا په پوسته هم برید وشو چې له امله یې ۲ اربکیان ووژل شول. ۲۷/۸/۲۰۱۹

زرمت کې په دښمن ۲ جلا بریدونه وشول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند نیکتام کلا سیمه کې د کماندویانو او پولیسو په ګډ کتار برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ کماندویي عسکر او ۱ د اردو عسکر ژوبل شول. ۲۷/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ اربکی ووژل شو، همداراز چونې سیمه کې هم په اربکیانو د لیزري توپک برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ اربکی ووژل شو. ۲۷/۸/۲۰۱۹

احمدآباد کې ۲ عسکر قتل، ګڼ ژوبل شول

د پکتیا ولایت د احمدآباد ولسوالۍ اړوند مچلغو ته د غزیدلي سړک پر سر پرته پوسته باندې برید وشو چې په ترخ کې یې ۲ عسکر قتل او ګڼ شمېر نور ژوبل شول.۲۷/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې کې د دسمن په قرارګاه توغندیز برید وشو

د پکتیا ولایت احمدابا ولسوالۍ اړوند مچلغو سیمه کې د دښمن په قرارګاه د ۵۷ په مټ برید وشو چې په ترخ کې یې د دښمن ۳ عسکر ژوبل شول. ۲۸/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې چاودنې رینجر تخریب، ۳ پولیس مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز اړوند د خوست په عمومي سړک د پولیسو په رینجر موټر د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې د دښمن رینجر تخریب، ۲ عسکر قتل او ۱ بل ژوبل شو.۲۹/۸/۲۰۱۹

خمکنیو کې له دښمن سره نښته وشوه

د پکتیا ولایت د خمکنیو ولسوالۍ اړوند منګیار سیمه کې له اربکیانو سره نښته وشوه چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۹/۸/۲۰۱۹

پکتیا مرکز کې ۴ عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت مرکز اړوند سیمه کې د کابل پر عمومي سړک د وچې ژوري په نوم پوسته تر برید لاندې راغله چې په مهال یې ۲ عسکر ووژل شول، همداراز د سروړی په کمپاین او پوسته باندې د لیزري توپکو برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ پولیس قتل او بل ژوبل شو.۲۹/۸/۲۰۱۹

زرمت کې د دښمن موټر تخریب، ۱ عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اړوند نیکتام کلا سیمه کې د ګردیز او زرمت په عمومي سړک د پولیسو په موټر برید وشو، په بریدکې موټر ته زیان واوښت او ۱ عسکر ووژل شو. ۳۰/۸/۲۰۱۹

ګرده خپرۍ کې ۴ ضربتي عسکر مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د ګردې خپرۍ ولسوالۍ اړوند بیرۍ سیمه کې په مزدورو ضربتي عسکرو برید وکړ، په برید کې ۲ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۳۰/۸/۲۰۱۹

احمدخیلو کې ۴۱ اربکیان له مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیا ولایت د احمد خیلو ولسوالۍ اړوند شوات سیمه کې ۴۱ اربکیان له کابل رژیم څخه را جلا او مجاهدینو سره یو ځای شول، عسکر هر یو عالم ،عقل شاه ، رشید ، تیلا ، کمیا ، چمن ، کوچی ، جان ، ارمان ، خیالی ګل ، نظرغنی ، حاجی محمد ، غفارو ، رفیق ، رسول خان ، بازمحمد ، هاشم خیل ، نفیاخیل ، عزیزخیل ، سلام ، بجان ، عبدالله خان ، بخت ، اقبال ، اسلام ، شفیق ، زیارت ، ظاهر ، ملک دین ، نیازمحمد خان ، حکیم خان ، ایوب خان ، محمدایاز ، ظریف ، حسن خان ، ندیم ، غزنې ، خوا نی ، ګل

رحمان ، اقبال دین او رحمت گل د دعوت او ارشاد کمیسیون په هڅو له اسلامي امارت سره یو خای شول.۳۰/۸/۲۰۱۹

احمدابا کې د دښمن په پوسته برید وشو

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ اړوند مچلغو سیمه کې د دوسرکې

په نوم د دښمن په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل .۳۰/۸/۲۰۱۹

خاخي اریوب کې رینجر تخریب، ۴ پولیس مړه او ژوبل شول

د پکتیا ولایت د خاخي اریوب ولسوالۍ اړوند کوتکي سیمه کې د پولیسو په رینجر برید وشو چې په ترڅ کې رینجر تخریب، ۳ پولیس قتل، ۱ ژوبل شو. ۳۱/۸/۲۰۱۹

مرکز کې ۱ پولیس له وسلې سره تسلیم شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز کې د شاه حسین په نوم ۱ پولیس له مجاهدینو سره یو خای شو. نوموړي ۱ میل کلاشنکوف او ۱ نارنجک هم له خان سره راوړ.۳۱/۸/۲۰۱۹

ګردیز کې تکتیکي چاودنې ۲ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز اړوند دلرګیو ادې سره نژدې د پولیسو په پوسته تکتیکي چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ۲ تنه پولیس قتل او ۳نور ژوبل شول . ۳۰ـ۸ـ۲۰۱۹

پکتیکا

پکتیکا مرکز کې ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا مرکز اړوند شهاب الدین کلا سیمه کې د شریرو اربکیانو په پوسته د لیزري وسلو په برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ اربکیان ووژل شول.۱/۸/۲۰۱۹

ووړمې کې ۱۹ اربکیان له مجاهدینو سره یو خای شول

د پکتیکا ولایت د ووړمې ولسوالۍ اړوند یران کلي مشر- حاجي یران چې د ولسوالۍ د شورا غړی او د کلي د اربکیانو مشر هم وو له ۱۸ تنو نورو اربکیانوهر یو رسول خان ، شربت ، محمدرسول ، عبدالمتین ، الله نظر ، نواب ، جمعه خان ، منظر ، روزی خان ، بارګل ، نظیر خان ، عبدالله ، محمد خان ، جادت ، میوخان ، علام او حمیدالله سره مجاهدینو ته تسلیم شو. ۱/۸/۲۰۱۹

ووړمې کې د جاسوسي شبکې ٦ کارکوونکي له مجاهدینو سره یو خای شول

د پکتیکا ولایت د ووړمې ولسوالۍ اړوند سیمه کې د کابل رژیم د جاسوسي شبکې ٦ کارکونکي هر یو غمو ، دولت ، حیدرخان ، آدم ، دولت او بازخان له مزدوري اداري څخه را جلا او مجاهدینو سره یو خای شول . ۲/۸/۲۰۱۹

زیروک کې ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

پرون غرمه د پکتیکا ولایت د زیروک ولسوالۍ اړوند منځکې سیمه کې د اوردو په پلي ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر قتل ۳ نور ژوبل شول.۲/۸/۲۰۱۹

خوشامند ولسوالۍ پر ودانۍ برید کې قوماندان او ۵ پولیس ووژل شول

د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالۍ په ودانۍ د سپکو او درنو وسلو بریدونه ترسره شول چې له امله یې د ولسوالۍ ودانۍ ته زیان واوښت او د ولسوالی د امنیه قوماندان (حیات) په شمول ۵ پولیس قتل او ٦ نور ژوبل شول، په جګړه کې ۱ مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسید. ۲/۸/۲۰۱۹

خیرکوټ کې ۱ اربکی له مجاهدینو سره یو خای شو

د پکتیکا ولایت د پیرګل په نوم د خیرکوټ ولسوالۍ اړوند زیړي کلي یو تن اوسیدونکی اربکی له فاسدې اداري څخه رابیل او مجاهدینو سره یو خای شو. نوموړي یو کلاشنکوف او یوه چنته هم له خان سره راوړل. ۲/۸/۲۰۱۹

پکتیکا مرکز کې په پوسته برید کې ٦ اربکیان مړه او ژوبل شول

د پکتیکا ولایت مرکز اړوند میرزک سیمه کې د اربکیانو په پوسته د سپکو اودرنو وسلو بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۴ اربکیان قتل۲ ژوبل شول. ۳/۸/۲۰۱۹

سرحوزه کې د دښمن په پوسته برید ۱ اربکی قتل ۲ نور ژوبل کړل

پکتیکا ولایت د سرحوصي ولسوالۍ اړوند سرحوصي کلي سره نژدې سیمه کې د اربکیانو په پوسته د لیزري وسلو برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ اربکی قتل او د ظالم اربکی قوماندان بیتول په ګډون ۲ نور ژوبل شول. ۳/۸/۲۰۱۹

سرحوضه کې ټانک تخریب، دښمن ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا سرحوضې ولسوالۍ اړوند شاتورو سیمه کې د مزدورو ضربتي عسکرو په ګزمه برید ترسره شو چې په مهال یې د دښمن ۱ ټانګ تخریب او دښمن ته مرګ ژوبله واوښته . ٤/۸/۲۰۱۹

اومه کې ۱ اربکی له مجاهدینو سره یو خای شو

د پکتیکا ولایت د اومنه مفتوحه ولسوالۍ اړوند زواکې کلي ۱ تن اوسیدونکی اربکی (بادور) د جلب او جذب کمیسیون د کارکوونکو په هلو ځلو او د سیمې د مجاهدینو په همکاری له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۵/۸/۲۰۱۹

پکتیکا مرکز کې د اربکیانو په پوسته برید وشو

د پکتیکا مرکز اړوند شهاب الدین سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۶/۸/۲۰۱۹

جاني خیل کې ۱ اربکی قتل وسله ونیول شوه

د پکتیکا ولایت د جاني خیل ولسوالۍ اړوند حکیم کلا سیمه کې د مجاهدینو په تکتیکي برید کې د یاسین په نامه ۱ اربکی ووژل شو او کلاشینکوف یې له جانتې سره د مجاهدینو لاس ته ورغی. ۶/۸/۲۰۱۹

پکتیکا مرکز کې د صفریک وحشیانو په کلي چاپه وهلې

د پکتیکا مرکز اړوند اخوند زاده خیلو کلي باندې د صفریک په نوم کرایه شوو قاتلینو چاپه ووهله، دسمن د خلکو د کورونو دروازې ماتې کړې، قیمتي توکي یې غلا کړل، د مسجد کتابونه او قران کریمونه یې وغورځول، ۲ کورونه یې په بمونو والوزول او د محمددین په نوم د دیني مدرسې یو شاګرد یې په شهادت ورساوه. ۶/۸/۲۰۱۹

نکه کې ګډ دښمن په کلي وحشیانه چاپه ووهله

د پکتیکا ولایت د نکې ولسوالۍ اړوند توري خیل کلي باندې وحشي اشغالګرو او غلامانو یې وحشیانه چاپه ووهله، د چاپې په مهال دښمن د اولسي کورونو دروازې ماتې کړې، د تالاشۍ په پلمه یې کورونه چور کړل ، د حبیب شاه په نوم ۱ کلیوال یې په دروں برید کې شهید کړ او د روغتون د ډاکټر په ګډون ۳ کلیوال یې له خان سره یووړل.۷/۸/۲۰۱۹

ګومل کې ۳ نفوذي پولیسو هوندان وژلی او له وسلو سره مجاهدینو ته ورغلي

د پکتیکا ولایت د ګومل مفتوحه ولسوالۍ اړوند بندر سیمه کې د پولیسو په لیوا کې ۳تنه نفوذي پولیسو په خپل قومندان (سوجاخان) برید وکړ او یاد قومندان یې قتل اود هغه ۲ ساتونکي یې ټپیان کړل،نفوذي مجاهدینو له برید وروسته ۳ کلاشنکوفونه او ۳ جانټې له ځان سره مجاهدینو ته راوړل. ۷/۸/۲۰۱۹

وازه خوا کې برید ۲ پولیس مړه او ژوبل کړل

د پکتیکا ولایت د وازیخوا ولسوالۍ اړوند نهاري سیمه کې د مزدورو پولیسو په ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ پولیس قتل بل ژوبل شو. ۸/۸/۲۰۱۹

سرحوضه کې ګډ دښمن په کلي چاپه کې دروند وحشت کړی

